# الرساله

اکتوبر ۱۹۷۶

**الرساله – دسمبر - ۱۹۷۶**

**دوهمه پښتو ګڼه**

**سرپرست:** مولانا وحيد الدين خان رح

**مسؤل مدير:** ظفر الاسلام خان

**ژباړه:** رحمت شاه فراز

## ليکلړ


د حکمت خبرې . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۱
پنځم يې مه کېږئ . . . . . . . . . . . . . . . . . ۲
د مړه سيند نسخې . . . . . . . . . . . . . . . . . ۳
زموږ او د آخرت په منځ کې . . . . . . . . . . . . ٦
پرېښتې هر وخت لاربښوونه کوي . . . . . . . . . . ۷
د کتاب نړۍ . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۱۰
د خوبونو په دنيا غولېدلی دی . . . . . . . . . . ۱۲
قرارداد يې هغه ته ورکړ . . . . . . . . . . . . . ۱۳
له مهابهارت څخه . . . . . . . . . . . . . . . . ۱۴
د تاج محل په اړه يو تاثر . . . . . . . . . . . . ۱۴
د شاعرې او ليکوالې فرق . . . . . . . . . . . . ۱٦
د صنعتي ککړتيا مسئله . . . . . . . . . . . . . ۱۸
آيا دا خلک ماشومان دي؟ . . . . . . . . . . . . ۲۱
يوه ختې ليدې، بل ستوري . . . . . . . . . . . . ۲۲
ار[illegible] تـ[illegible]ري . . . . . . . . . . . . . . . [illegible]۳
اسلامي کرکټر . . . . . . . . . . . . . . . . . . [illegible]
د نر او ښځې ترمنځ د کار وېش . . . . . . . . . . ۲۷
د تېروتنې پايله . . . . . . . . . . . . . . . . . ۲۹
له مرګ وروسته . . . . . . . . . . . . . . . . . ۳۰
د لارډ ټامسن پېښه . . . . . . . . . . . . . . . ۳۴
د جاپاني سړي اسلام منل . . . . . . . . . . . . ۳۵
د فرصتونو بربادي . . . . . . . . . . . . . . . . ۳۸
ټوکه . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۳۹
د اوسني عصر مسئله څه ده؟ . . . . . . . . . . . ۳۹
انګېزه يې دنياپالنه ده . . . . . . . . . . . . . ۴۸
د اختلاف زيانونه . . . . . . . . . . . . . . . . ۵۰
د ملت تعمير . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۵۰
اواز . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۵۵
د عربي اوونيزې تبصره . . . . . . . . . . . . . ۵۷
هغوی صحافت ته د سپک مسلک په سترګه کتل . . . . ۵۹
يو ملاقات . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٦۰
سوال او ځواب . . . . . . . . . . . . . . . . . . ٦۷
د ا[illegible] کې مذهب . . . . . . . . . . . . . . . ٦۹
اسلامي مرکز . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۷۰
د مسؤل مدير په نوم . . . . . . . . . . . . . . . ۷۳
نازکه مسئله . . . . . . . . . . . . . . . . . . . ۷٦


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الرساله

اکتوبر ۱۹۷۶

**پښتو ګڼه: دوهمه، فیبروري ۲۰۲۵ز**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حکمت خبرې

چوپتیا زده کړئ، چې د پرښتو خبرې اترې واورېدلی شئ.

خپل ځواکونه په کار واچوئ، د خدایي مرستې مستحق به شئ.

په کوم زړه کې چې د بندګانو مینه نه وي، هغه زړه د خدای له مینې هم خالي وي.

خلک سپک مه ګڼئ، که نه وي د خالق په سترګو کې به سپک شئ.

ځوک چې د واکمنو نږدېکت غواړي، د خدای له نږدېکت نه به لرې شي.

ځوک چې د تیرې ګوزار درباندې کوي، له هغه سره په جنګېدو کې خپل وخت مه بربادوئ، بلکې خپل ځان دومره لوړ کړئ، چې د ګوزار کوونکي د تیرې ګوزار تر تاسو در ونه رسېږي.

ځوک چې له خلکو سر ټکوي، هغه د دې خبرې اعلان کوي، چې د ژوند په سیالی کې له نورو شاته پاتې دی.

**ملي رغونه تر ټولو رومبی د قوم په وګړو کې د شعور د روزلو کار دی. د دې بهترینه بنه دا ده، چې «الرساله» هر کلي او هر کور ته ورسول شي.**

# پنځم یې مه کېږئ، که نه هلاک به شئ

په یوه حدیث کې نبي کریم ص فرمایي، «کن عالما او متعلما او مستمعا او محبا ولا تکن الخامس فتهلک» ژباړه: پوهان شئ، یا پوهه ترلاسه کوونکي شئ، یا پوهې ته غوږ نیوونکي شئ، یا له پوهې سره مینه کوونکي شئ، او پنځم یې مه کېږئ، که نه هلاک به شئ.

په دې حدیث کې له علم نه مراد هغه پوهه ده، چې انسان په خدای او د خدای په لارښوونو پوه شي. په خلکو کې ځیني باسواده وي، ځیني ناپوهه وي. ځیني ځیرک وي، ځیني غبي وي. نو ځکه نبي کریم ص په دې حدیث کې د حالاتو له مخې انسانان په څلورو درجو وېشلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ویلي یې دي، چې په دې څلورو درجو کې یوه درجه د ځان لپاره غوره کړئ.

یا هغه شخص له ځانه جوړ کړئ، چې د خدای کتاب او د رسول الله سنت یې ژور مطالعه کړی او په دین یې ښه سم ځان پوه کړی وي او د دې مقصد لپاره یې هغه اړینه خواري او ریاضت ګاللې وي، چې انسان سم معرفت ته رسوي. که دا مقام مو ترلاسه نه کړ، نو دوهمه درجه دا ده، چې تاسو په خپلې دې نیمګړتیا پوه اوسئ او د هغې د جبران لپاره د حقیقي علم په ترلاسي لاس پورې کړئ او د قرآن او سنت زده کوونکي شئ. که د خپلو حالاتو له امله د دې امکان هم نه و، نو دریمه درجه یې دا ده، چې دا واقعیت ومنئ، چې تاسو نه د علم خاوندان یاستئ او نه د علم ترلاسه کوونکي. په داسې حالت کې ستاسې لپاره روغه رویه دا ده، چې تاسو اورېدونکي شئ. چېرته چې د خدای خبرې کېږي، هلته پټه خوله کېنئ او څه چې ویل کېږي، په ټول پام سره غوږ ورته ونیسئ. که څوک په دې درجه کې هم نه وي، نو هغه ته پکار ده، چې د دغه محرومیت احساس ورسره وي. او د دې احساس ډېره کمه تقاضا دا ده، چې په خپل زړه کې د هغو خلکو لپاره د مینې تخم وکري، چې د علم له هغې پانګې یې برخه وړې وي، چې ده خپله برخه په کې نه ده موندلې. دا څلورمه درجه ده، چې هر مؤمن یې په دې دنیا کې خپلولی شي.

له دې وروسته پنځمه درجه ده. دا درجه د هدایت درجه نه ده، د بې لارۍ او ضلالت درجه ده. هغه دا ده، چې انسان د حقایقو له علم نه بې خبره وي او بیا هم بحثونه او اختلافونه کوي او د دیني علم په ځای کوم بل علم ته د شاګردۍ ګونډه وهي. د اورېدو او زدکړې لپاره هغه مجلسونه غوره کوي، چې هلته د دین خبرې اترې نه وي. ان په زړه کې یې هم مینه او درناوی د هغو خلکو لپاره وي، چې د دیني علم خاوندان نه وي، البته په نورو مهارتونو کې بیا کمال ولري. دا د انسان پنځم حالت دی او چا چې خپل ځان پر دې حال ومونده، نو ګواکې هلاک شو. مګر دا چې بېرته راستون شي او هڅه وکړي، چې له یادو څلورو درجو نه یوه درجه ور خپله کړي.

**هغوی حقیقت ته سترګې په لار و، خو کله چې د حقیقت معلم راغی، نو هغوی یې د منلو لپاره راز، راز دلیلونه جوړ کړل**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مړه سیند نسخې

د ۱۹۴۷ کال کیسه ده. په یوه کوچیانۍ قبیله کې خو تنه د ختیځ اردن له سیمې نه فلسطین ته روان وو. هسې وايي، چې له دوی سره ځینې ناقانونه توکي و، نو ځکه دوی د عمومي لارې په ځای د غرونو له لارې فلسطین ته د ننوتو اراده کړې وه. په دې سفر کې یاده ډله د مړه سیند شمال لویدیځې څنډې ته ورسېدل، چې دا ځای په قمران درې مشهور دی. دوی په دې ځای کې د دمې لپاره څو شپې تم شول. د دمې پر مهال یې په نږدې غره کې یوه سمڅه ولیده. د ډلې یو څو تنه دې سمڅې ور ننوتل. دوی ډېر حیرانه شول ځکه په سمڅه کې ځینې خاورین لوښي ایښي و. لوښي یې دباندې را وایستل او فکر یې وکړ، چې په دې لوښو کې به د پخوا زماني سکې وي. خو په لوښو کې له سکو نه هم ډېر ګرانبیه شی و. په لوښو کې د بایبل هغه څېرکي و، چې د لرغوني طرز په طومارونو (رولونو) لیکل شوي او د خوندیتوب په موخه په دې لوښو کې ساتل شوي وو.

دې کوچیانو لومړی دغه څېرکي د فلسطین یوه مسلمان شیخ ته ور ښکاره کړل. مسلمان شیخ فکر وکړ، چې دا به د سریاني ژبې کومه خطي نسخه وي. له دې ځایه دا خلک څو نورو کسانو ته هم ورغلل او بالاخره په یروشلم کې یوه یهودي ته ورسېدل. د یهودي چې په بایبلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسنادو سترګې ولګېدې، په ارزښت يې پوه شو او د هغو طومارونو ځينې برخې يې وپېرلې. له هغې ورځې نه تر نن ورځې پورې د علماوو په منځ کې ډېرې سختې څېړنې او بحثونه تاوده دي. دا کار په ټوله کې يهودي او مسيحي علماوو کړی دی، د مسلمانانو په دې کې هېڅ ونډه نشته. په ګڼو لاسونو کې له تاوېدو را تاوېدو وروسته اوس دغه تاريخي اثار په يروشلم کې د اسرائيلو په لاس کې دي.

د څرمنې دغه طومارونه ټول يوولس دي، چې په کل کې اووه کتابونه په کې ليکل شوي دي. د دغو کتابونو ژبه عبراني ده. د دې نسخو زياتره کتابونه مثلاً يسعياه، حبقوق او داسې نور په اوسني بايبل کې هم شامل دي، چې په لسمه ميلادي پېړۍ کې ترتيب شوی دی. د دواړو په متن کې په بنيادي يو والي سربېره هم بشپړ يو والی نشته. اټکل دا دی، چې په پخوا زمانه کې ځينو يهودي علماوو د بايبل د ساتنې لپاره له دغه تدبير نه کار اخيستی و. د ساينسي ميتودونو په مټ د دې نسخو عمر چې اټکل شوی، نو علماوو يې زمانه۷۰ – ٦۷ز کلونه ښودلې ده. دا نسخې دومره نازکې شوې وې، چې کله يې د پرانيستو هڅه وشوه، نو ټوټې ټوټې شوې.

ياد طومار چې په انګريزي کې يې (Dead Sea Scroll) بولي، د دې خبرې پخلی کوي، چې د لومړۍ ميلادي پېړۍ يهودان د يوه پيغمبر راتلو ته په تمه وو. هغوی په دې عقيده وو، چې له موسی نه وروسته دوه خاص پيغمبران نور هم راتلونکي دي، يو «مسيح» او بل «د حقيقت معلم». مسيح به په وروستي دور کې راتلونکي پيغمبر ته لاره هواره کړي او د «حقيقت معلم» به بدې ارواوې له منځه يوسي، او په وروستيو وختونو کې به راځي. د حبقوق کتاب په نسخه کې «د حقيقت د معلم» اووه مستقيمې حوالې پېژندل شوې دي.

د مړه سيند په طومارونو چې علماوو څېړنې وکړې، نو د هغو لپاره تر ټولو پېچلې مسئله دا وه، چې د «حقيقت له معلم» نه څوک مراد دی؟ په دې برخه کې مختلف نظرونه وړاندې شوي دي، خو تر اوسه پورې پوهان په کومه يوه رايه نه دي راټول شوي. د پوهانو په نزد دا معلم مسيح نه شو ګڼلی، ځکه چې په اسنادو کې په ښکاره ټکو کې «د حقيقت معلم» له مسيح بېل شخصيت ښودل شوی دی، او بل کوم مذهبي شخصيت په تېرو دوه زره کلونو کې نه دی ليدل شوی، چې هغه لويې ځانګړتياوې پرې صدق وکړي، چې په اسنادو کې د حقيقت د معلم لپاره يادې شوې دي. د اسنادو له مخې، د حقيقت دغه راتلونکی معلم به له دنيا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدې ارواوې ختمې کړي، د خدای شریعت به له ورانېدو څخه د تل لپاره خوندي کړي، او د خدای ابدي حقایق به روښانه کړي، د هغه جلال به د قیامت تر ورځې پای نه مومي، او داسې نور. دغه توري چې د کوم شخصیت په هکله صدق کوي، هغه بې له شکه هماغه دی، چې کارلایل د پیغمبرانو د «اتل» مقام ورکړی دی، خو پوهانو وار له مخه دا منلې ده، چې یاد شخصیت په دې اسنادو پورې کوم تعلق نه نیسي.

پاتې دې نه وي، چې تورات کې زیاتره کتابونه د اتمې او دریمې قبل المیلاد پېړیو په منځنۍ زمانه کې لیکل شوي دي. خو د دې ټولو کتابونو اصلي نسخې له منځه تللې دي. د پوهانو په اند د مړه سیند د طومارونو یو اهمیت دا دی، چې شاید په دې طومارونو کې به یې ځینې د اړوندو کتابونو اصلي نسخې وي.

له تاریخي پلوه د دې پوښتنې ځواب ویل ناشونی دی، چې له حضرت سلیمان نه را وروسته زمانه کې چې کله د اسرائیلو او یهودا سلطنتونه برباد شول، نو د بایبل اصلي نسخې تر کومه بریده خوندي پاتې شوې او د هغو اوسني نقلونه تر کومه بریده له اصلي نسخو سره سمون خوري.

له دریمې قبل المیلاد پېړۍ نه وروسته زیاتره یهودان له فلسطین نه خواره واره شول او نورو هېوادونو ته یې مخه کړه. د دوی راتلونکو نسلونو عبراني ژبه هېره کړه. په دوهمه قبل المیلاد پېړۍ کې بایبل یوناني ژبې ته وژباړل شو. د دې ژباړې هم یوازې د نقلونو څو نسخې په دنیا کې پاتې دي.

په وروسته زمانه کې چې د بایبل ګڼ شمېره نسخې دود شوې، په هغو کې ډېر زیات اختلافات وو. په لسمه میلادي پېړۍ کې ځینو یهودي علماوو د دغو مختلفو نسخو له مخې یو مستند متن ترتیب کړ. نن ورځ همدا متن تورات (یا لرغوني عهدنامه) بلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ او د اخرت په منځ کې يوازې يو نامعلوم دېوال ولاړ دی

په چنالا سيمه کې د سکرو يو زوړ کان و، چې له ۱۹۴۵ کال نه بند و. دغه کان څلور نيمه سوه فټه ژور و او ورو ورو ټول کان له اوبو ډک شوی و. له دې کان نه د اتيا فټه په واټن کې دوه کاله پخوا يو بل کان هم وکيندل شو. دغه نوی کان چې د نړيوال بانک او خارجي کارپوهانو په مرسته چمتو شوی و، په عصري ټکنالوژۍ او نويو ماشينونو سمبال و.

په ۲۷ دسمبر ۱۹۷۵ء کې په دې کان کې يوه لويه چاودنه وشوه. د دواړو کانونو ترمنځ اتيا فټه واټن ډېر کافي واټن ګڼل شوی و. خو ناڅاپه په کان کې شاوخوا ۶۰ فټه پرېړ درز را پيدا شو او له دې درز نه د پخواني کان اوبه ډېرې په تېزۍ سره په نوي کان راماتې شوې او يوازې په درې دقيقو کې ټول تر خولې له اوبو ډک شو. په دې کان کې ۳۷۲ مزدوران او انجينران په کار لګيا وو او شاوخوا د سل ميليونه ګالونه نه هم د ډېرو اوبو په سېلاب کې غرق شول. يوازې يو تن بګوان سنګ (مونګير) ژوندی راووت، چې له پېښې نه څو دقيقې مخکې له کان نه راوتلی و.

دا پېښه ډېر په هېښوونکي انداز کې زموږ د ژوند تصوير جوړوي. زموږ د اوسنۍ دنيا او د بلې دنيا ترمنځ يو نامعلوم دېوال ولاړ دی. هره شېبه د دې انديښنه شته چې دا دېوال مات شي او د آخرت حقايق د ستر سېلاب غونډې په موږ را مات شي. په دې وخت کې به هېڅ څواک، دلايل او ژبوره خوله زموږ په کار را نه شي. انسان به بالکل بې اسرې د خپل ښېنتن مخې ته ولاړ وي. هغه خلک به د ناکامۍ او بربادۍ تلپاتې دوزخ ته وغورځول شي، چې د دنيا په غلوونکو شيانو يې زړه داسې بايللی و، چې هېڅ د پند او نصحيت خبرې ته يې غوږ نه نيوه. او يوازې هماغه شخص به نجات مومي، چې د کايناتو مالک ته د حساب له ورکولو دمخه يې پخپله له ځان سره حساب کړی وي.

تر ټولو هوښيار انسان هغه څوک دی، چې د دغې راتلونکې ورځې لپاره يې خپل ځان اماده کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شاوخوا پربښتې هره شېبه لاربښوونه درته کوي، چې څه وکړې او څه ونه کړې

یوه مشر سړي ته یې له ګاونډي نه ضرر ورسېده. مشر ترې ډېر زیات خفه شو او په زړه کې یې وویل، چې «له نن نه وروسته نه خبرې ورسره کوم او نه اړیکه ورسره ساتم.» خدای راوستې وه، بله ورځ د خپل زوی له لاسه هم سړي ته یو تکلیف ورسېده. د سړي خپل زوی ته ډېر زیات اعصاب خراب شول او په غوسه کې له کور نه دباندې ووت. تر ماخوستنه پورې د غوسې په حالت کې و. تر دې چې خوب یووړ. سهار چې له خوبه را پاڅېده، نو احساس یې کړل، چې په زړه کې یې د خپل بچي لپاره ببرته د پخوا په شان مینه په څپو ده. سړي خپل زوی ور وغوښته، په ډېر لطف او محبت یې خو خوږې خبرې ورسره وکړې، او په دې ډول یې د تېرې ورځې غوسه پرې جبران کړه.

د سړي په زړه کې ورتېره شوه، چې «که زه د خپل بچي له یوې تېروتنې ور تېرېدلی شم، نو آیا په همدې ډول د خپل ګاونډي تېروتنه نه شم ببښلی؟» او ناڅاپه یې پام شول، چې د زوی د تېروتنې په صورت کې الله تعالی د درس او پند یو فرصت ورکړی دی. اولاد چې د کومو مصلحتونو له مخې انسان ته ورکول کېږي، شاید یو مصلحت به یې دا هم وي، چې انسان ته دا وښودل شي، چې دی په څه ډول د یوه ملامت انسان ملامتیا ور ببښلی شي؟ که انسان ته اولاد نه وای ورکول شوی، نو د اخلاقو او مینې عملي درس بیا په بله هېڅ لاره هم انسان ته نه شوای ورکول کېدلی.» له دې پېښې وروسته هغه مشر سړي له خدای نه بښنه وغوښته او خپل ګاونډي ته ورغی او ببرته یې خوشاله کړ.

که د انسان وجدان ژوندی وي او خدای ته له ورتلو وېره یې په زړه کې وي، نو هره ورځ به خپلې شاوخوا ته د خدای اوازونه اوري. په هره څلورلارې کې به ویني، چې د خدای پربښتې ولاړې دي او لاربښوونه ورته کوي، چې څه باید وکړي او څه ونه کړي. دا اواز یوازې هغه خلک نه اوري، چې غوږونه یې د خدایي اوازونو اورېدو ته کاڼه شوي وي. دوی به د خدای اواز یوازې هله واوري، چې د اسرافیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپېلۍ یې د غوړونو پردې ور خیرې کړې.

یو بزرګ د چا کره مېلمه شو. د کوربه کور ته څېرمه یو جومات و، خو لمانځه ته ډېر کم خلک ورته راتلل. بزرګ د کوربه په ځای د ځان لپاره په جومات کې استوګنه غوره وبلله. جومات ته له ننوتو سره یې پام شول، چې له اوږدې مودې نه جومات چا نه دی صفا کړی. د بارانونو موسم و. او د بام د څڅېدو او نم له لاسه د جومات فرشونه ځای، ځای نمجن او بوی یې نیولی و. په بله ورځ چې لمر راوخوت، نو بزرګ ټول فرشونه وایستل او لمر ته یې هوار کړل. جومات یې ښه ښکلی را صفا کړ. فرشونه وچ شول، ټک یې وهل او بېرته یې په خپل ځای هوار کړل.

بزرګ چې لومړی ځل جومات ته ننوتی و، نو د جومات د حالت په لیدو یې زړه ډېر سخت نیول شوی و. خو اوس چې په پاکه فضا کې کېنوست، نو په زړه کې یې یو ډول د خوښۍ احساس وکړ. په جومات کې یې دوه رکعته لمونځ وکړ او د خدای شکر یې په ځای کړ، چې د دې خدمت توفیق یې ورکړ.

په همدې وخت کې کوربه پرې راغی. د بزرګ په زړه کې ور تېره شوه، چې «د دې سړي له لاسه دومره هم نه کېدل، چې د جومات صفایي یې کړې وای. د دین په هکله خو ښه اوږده اوږده وعظونه کوي، خو په عمل کې یې حال دا دی، چې په خپل ګاونډ کې د خدای کور هم سم نه شي ساتلی.» له دې احساس سره یې سمدستي په زړه کې دا خیال ودرېده، چې په دین کې زه تر ده غوره یم. زما د دینداري په مقابل کې دی هېڅ حیثیت هم نه لري.»

ورځ تېره شوه. ماښام بزرګ په جومات کې ناست و، چې یو نا اشنا سړی جومات ته راننوت. وچ او سپېره مخ او شکېدلو جامو یې د حال په ژبه ویل، چې کوم بې وزلی مسافر دی. بزرګ د سلام په ځواب کې وعلیکم السلام ورته وویل، خو په زړه کې یې ور وګرځېدل، چې «دا شخص څومره بې وخته راغی، اوس خو به د دې سړي لپاره د شپې د ډوډۍ تیاری هم کوم. شپه هم ممکن په همدې جومات کې تېره کړي او زما په خلوت کې به هم راته خلل شي.» ده لا له همدې زړه تنګۍ سره کرل رېبل، چې د بزرګ کوربه جومات ته راننوت. د مسافر په لیدو سمدستي ور وراندې شو، ستړي مشي یې ورسره وکړه او په خندا یې ورته وویل، «له کومه راغلی یې ځوانه؟» مېلمه چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

احوال ورکړل، نو کوربه ورته ووېل «نن شپه همدلته تېره کړه او له موږ سره ډوډۍ وخوره.» کوربه دا تولې خبرې په داسې انداز کولې، ګواکې دغه نوی راغلی مېلمه کوم بې وزلی مسافر نه دی، بلکې يو نعمت دی، چې خدای په دې وخت کې خاص ده ته ور پېرزو کړی دی.

له دې پېښې وروسته بزرګ احساس کړه، چې په زړه کې يې يو څه کشمکش را پورته شو. ځان سره يې ووېل، چې «د جومات د پاکوالي په برخه کې خو مې له خپل کوربه نه ميدان يووړ. خو د مسافر د خدمت په برخه کې دی تر ما ډېر مخکې دی. که په ما کې يوه ځانګړتيا وي، نو زما په کوربه کې يوه بله ځانګړتيا ده او ښوک خبر دي، چې د جومات د صفايي په مقابله کې به د غريب مسافر خدمت الله تعالی ته ډېر خوښ وي.» دغه خيال يې چې زړه کې ور تېر شو، سمدستي يې توبه وکړه او په سجده کې پرېوت او له خدای نه يې دعا وغوښته، چې ده ته او کوربه ته يې هدايت وکړي او په خپلو رحمتونو کې برخه ورکړي.

زموږ دنيا له فتنو ډکه ده. دلته هره شيبه د دې انديښنه شته، چې انسان دې کوم کوهي ته وغورځي. خو پاسنۍ کيسې راته وايي، چې الله تعالی د ځان ساتنې او اصلاح هم بې شمېره فرصتونه راته ايښې دي. که د انسان ايماني جذبه ژوندۍ وي، نو د هر ډول فتنې پر مهال به خپل ځان ته نږدې يوه رڼا او هدايت ومومي او د هغې په مټ به ترې د نجات او ژغورنې لاره موندلی شي. خو چې د ايمان سپرغۍ مړه وي، نو د نجات له الهي فرصتونو نه انسان ګټه نه شي اخيستلی. او په هره ښويه ځمکه کې به يې پښه ښوييږي. تر دې چې هغې وروستۍ کندې ته به وغورځي، چې بيا ترې د انسان راوتل نشته:

بې شکه ښوک چې الله نه وېرېږي کله چې د شيطان له خوا کومه وسوسه ور ورسي، نو (سمدلاسه) متوجه کېږي، نو بيا دوی ليدونکي شي. او د هغوی (کافرانو) ورونه (شيطانان) دوی په کږه لار کې راکاږي او بيا هېڅ لنډون (سستي) نه کوي. (اعراف: ۲۰۲-۲۰۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب نړۍ

ډاکټر عبدالعلیم (۱۹۷۶ – ۱۹۰۵) په برلین کې د یهودي او مسیحي پوهانو په مشوره یوه انګریزي مقاله ولیکله. د مقالې سوژه یې «د قرآن اعجاز» و. دا مقاله یې په ۱۹۳٦ کې د کتاب په بڼه خپره کړه.

همدا هغه مقاله ده، چې په برلین پوهنتون کې یې د دوکتورا سند پرې ترلاسه کړ. خو یاده مقاله له علمي پلوه دومره کمزورې ده، چې د مقالې په ځای یوازې د وعظ او بیان نوم به ورته ډېر سم وي.

لیکوال ویلي دي، چې د قرآن د اعجاز عقیده مازې یوه مذهبي عقیده ده، خو په ټوله مقاله کې یې د خپلې نظریې په ملاتړ کې کوم دلیل نه دی راوړی. د مقالې خلاصه دا ده، چې قرآن کریم د محمد ص د خپلو مذهبي تجربو بیان دی. او د یوه امي په ژبه په ډېره زوروره ژبه د یوه کتاب چمتو کول په لرغوني عرب کې یوه نا اشنا پېښه ده. په هغو حالاتو کې دا خبره مشهوره شوه، چې دا خدایي کلام دی او داسې کلام دی، چې هېڅ څوک یې مثال نه شي راوړلی. د قرآن کریم د ننګونې په ځواب کې چې هر چا د بل قرآن کریم د لیکلو هڅه کړې، نو هره هڅه ځپل شوې او پنځول شوی کلام یې له منځه وړل شوی دی. د اسود عنسی صرف یوه دوه پراګرافونه په تاریخ کې را پاتې دي. د مسیلمه او ابن مقفع ځو آیتونو هم لاسته راځي. خو دا آیتونه ډېر زیات کمزوري دي او داسې ښکاري، چې کوم مسلمان څو جملې د ملنډو په ډول جوړې کړې او د هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نوم يې مشهورې کړې دي. د قرآن کريم د اعجاز لړۍ په خپل حال روانه وه، تر دې چې د څلورمې هجري پېړۍ تر پايه پورې دا نظريه په يوې کلکې عقيدې بدله شوه. عامه ذهنيت داسې دی، چې د وخت په تېرېدو سره بې بنسټه اوازې هم د تاريخ برخه وګرځي، نو په همدې ډول دا عقيده هم د اسلامي تاريخ يوه برخه وګرځېدله.

زه په دې خبره نه پوهېږم، چې پورتنی خبره په څه ډول دا ثابتوي، چې قرآن د بشر کلام دی او د قرآن دا چيلنج هېڅ حيثيت نه لري، چې د قرآن په څېر بل کتاب څوک نه شي ليکلی.

د مقالې ليکوال دا مني، چې «د يوه امي په ژبه ډېر په غير عادي ډول يو زورو کلام» صادر شوی دی. ښکاره ده، چې دغه غير عادي پېښه به کومه توجيه هم لري. کله چې په بشري دايره کې د دغې پېښې کومه توجيه وجود نه لري، نو دوهمه مفروضه خو همدا کېدلی شي، چې دا کتاب له غير انساني ذهن نه پنځېدلی کلام دی. له دې پرته بله هېڅ توجيه نه شونې ده او نه ليکوال په ټول کتاب کې کوم ځای وړاندې کړې ده.

که د ليکوال د ادعا له مخې، د خلکو په لاس پنځېدلی قرآن ضايع شوی وي، نو دا پېښه به حتما د اقتدار په زمانه کې شوې وي. تر څو چې د اسلام واکمني پيلېده، نو له هغه نه مخکې تر شلو کلونو پورې قريشو او عرب مخالفينو او

يهودانو دا کار ولې ونه کړ؟ هغوی د پيغمبر عليه السلام د ماتولو لپاره له ټولو ممکنه لارو نه کار واخيسته. خو همدا لاره يې ولې خپله نه کړه، چې د قرآن د چيلنج په ځواب کې د قرآن په څېر يو کلام وپنځوي. حال دا چې د پيغمبر عليه السلام د ماتولو دا تر ټولو اسانه طريقه وه. او که بيا فرض کړو، چې له کومې وجې نه به د ماضي ناپوهو مخالفينو دغه ممکنه طريقه نه وي ور خپله کړې، نو نن ورځ د عربي ژبې بې شمېره ماهرين په دنيا کې موجود دي، چې د ډاکټر عبدالعليم صاحب په څېر دا دعوه لري، چې قرآن د بشر کلام دی، نو څه شي د هغوی مخه نيولې، چې همدا ډول يو کلام جوړ کړي او نړی ته يې را وباسي. په دې ډول به يادې ډلې خپله دعوه هم په ډېر ښه شکل ثابته کړې وه.

خو تر بحث لاندې کتاب په اتلسمه پاڼه کې د دې يو کوچنی مثال شته دی. د لا يأتون بمثله (بني اسرائيل – ۸۸) د آيت مفهوم ليکوال له خپله ځانه يعجزون عنه په ټکو کې ليکلی دی. په عربي ژبه پوهېدونکو کسانو لپاره د همدې دواړو عبارتونو پرتلنه د قرآن د ادعا د ثبوت لپاره کافي ده. څرنګه عجيبه خبره ده، چې انسان د دغه يوه عبارت په څېر هم يو عبارت نه شي راوړلی، چې «دوی دغسې قرآن نه شي راوړلی.» خو بيا هم پر دې ټينګار کوي، چې قران ادبي معجزه نه ده. د ساينس په زمانه کې به له دې نه ډېر د غير ساينسي دريځ کوم بل مثال پيدا نه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خوبونو په دنیا غولېدلی دی، چې...

د څلورمې هجري پېړۍ په پای کې چې په اسپانیه کې سیمه ییزې زورواکۍ پیل شوې او د ولایتونو والیانو له مرکز سره بغاوت ته مخه کړه، نو واړه، واړه خپلواک حکومتونه رامنځته شول. مثلاً په قرطبه کې د بنو حمود، په اشبیلیه کې د بنو عباد، په بطلیوس کې د ابن افطس، او داسې نور. په اشبیلیه کې د بنو عباد حکومت په ۴۰۴ هجري کال کې رامنځته شو، اتیا کاله ژوند یې وکړ او بیا ختم شو. د مراکش پاچا یوسف بن تاشقین چې کله پر اسپانیې یرغل وکړ، نو په دې وخت کې یې وروستی واکمن معتمد بن عباد د اشبیلیې په ګدۍ ناست و. تاشقین په ۴۸۴ء کې معتمد ونیوه او د مراکش په اغمات سیمه کې یې بندي کړ. له څلور کاله زندان وروسته معتمد په ۴۸۸ هجري کې وفات شو.

معتمد بن عباد چې په کومه زمانه کې بندي و، نو د اختر په ورځ یې لوڼې لیدو ته ورغلې، په دې شېبو کې ده خپلو غمګینو جذباتو ته د شعر ژبه ورکړه. څو شعرونه یې دا دي:

فیما مضی کنت بالاعیاد مسرورا　　فساءک العید فی اغمات مأسورا
تری بناتک فی الاطمار جائعة　　یغزلن للناس ما یملکن قطمیرا
قد کان دهرک ان تامره ممتثلا　　فردک الدهر منهیا و ماٴمورا
من بات بعدک فی ملک یسر به　　فانما بات مالاحلام مغرورا

ژباړه: پخوا به دې اخترونه په خوشالۍ لمانځل، خو نن د اغمات په زندان کې ستا لپاره د اختر هېڅ خوبنې نشته.

ته خپلې لوڼې وینې، چې وږې دي، شکېدلې او زړې جامې یې په تن دي او لوڼې دې د خلکو لپاره وړۍ ورېشنې او په لاس کې یې هېڅ هم نشته.

هغوی په ختو کې ییلي پېښې ګرځي، ته به وایې چې هېڅ کله یې مشک او کافور نه دي تر پښو لاندې کړي.

یو وخت و، چې زمانه ستا تر امر لاندې وه، خو نن ورځ زمانې محروم او محکوم ګرځولی یې.

ستا د دې وضعیت له لیدو وروسته هم که څوک حکومت ته خوشالېږي، نو اصلا د خوبونو په فریب کې مبتلا دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# او قراداد یې هغه ته ورکړ

دوبۍ د فارسي خلیج ډېر کوچنی دولت دی. ټول نفوس یې دوه سوه زره دی (۱۹۷٦). خو د تېلو په شتمنۍ ډېر زیات شتمن دی. د دوبۍ شیخ یو پلان جوړ کړ، چې د خپل ولس د استوګنې لپاره ۲۱۰۰ کورونه جوړ کړي او د هر کور لپاره یې ۲۵۰ متر مربع ځمکه ټاکلې وه.

په بېلا بېلو هېوادونو کې یې اعلانات خپاره کړل. د دنیا له ګوټ ګوټ نه ساختماني قراردادیانو خپل وړاندیزونه ورته ولېږل، تر دې چې د هغوی د نقشو او حسابونو او ساختماني توکو په نمونو ځو لویې خونې ډکې شوې. خو د دوبۍ ساده مزاج شیخ ځان سره وویل، چې مازې د نقشو او سامانونو په لیدو پرېکړه کول مشکل کار دی. ده وویل، چې تاسې د مطلوب کور یوه نمونه راته جوړه کړئ. تر څو معلومه شي، چې دغه کور تر کومه بریده زموږ له معیار سره جوړېږي او آیا زموږ اړتیاوې پوره کولی شي او که نه؟

دا شرط قراردادیانو ته د منلو نه و. هغوی بېرته خپلو وطنونو ته ستانه شول. دوی وویل، چې د کور نمونه چې ورته جوړوو، له هغه نه خو بهتره ده چې خپل وړاندیزونه ترې بېرته واخلو. خو د پونا (هند ایالت) یوه هندوستاني انجینر همت ونه بایله. ده هوډ وکړ، چې زه ستاسې شرط پوره کوم او شیخ ته یې وویل، چې په دوبۍ کې چې تاسو کوم ډول کورونه غواړئ، هغه ډول کورونه ما په پونا (مهاراشترا) کې جوړ کړي دي. دا کورونه له موسمي حالاتو سره نیمه عیار شوي دي. که دغه ډول کور په صحرا کې هم جوړ شي، نو په کور دننه د حرارت درجه یې له بیروني هوا نه د سانتي ګراد له لسو درجو ټیټه وي. او په ژمي کې یې بیا د حرارت درجه له بیروني هوا نه لس سانتي ګراد لوړه وي. په دې سربېره په دې کورونو ساختماني لګښت هم له عادي کورونو نه شاوخوا لس سلنه کم لګېدلی دی.

هندوستاني انجینر بایو راؤجي شرکې وړاندیز ورته وکړ، چې تاسو د خپلو باوري چارواکو یوه ډله له ما سره ولېږئ. هغوی دې په پونا کې په شپږو فابریکو کې زموږ جوړ شوي کورونه وګوري. او دا یې هم وویل، چې د دې سفر ټول لګښت به هم زموږ په غاړه وي.

د دې وړاندیز له مخې د دوبۍ د چارواکو یوه ډله هندوستان ته راغله. دلته یې کورونه ولیدل او بېرته دوبۍ ته ستانه شول او شیخ ته یې د کورونو راپور ورکړ. پر ۲۲ اګست ۱۹۷٦ کې دغه قرارداد هندوستاني شرکت ته ورکول شو. د دې قرارداد ټول مبلغ ۷۵ کروړه دی.

حقیقت دا دی، چې ظاهري حالات همېش اضافي نوعیت لري. چېرته چې خلک ناهیلي شوي وي، د امید رڼا هلته هم لتولی شو. په دې شرط چې انسان له فرصت نه د استفادې په هنر پوه وي. د نپولین په قول، د ناهیلي توری یوازې د احمقانو په قاموس کې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له مهابهارت څخه

له مرګ نه وروسته انسان يا دوزخ ته ځي يا جنت ته، بېرته دنيا ته نه را ګرځي.

انسان کر په دې دنيا کې کوي، مېوه يې په بله دنيا کې رېبي.

(د مهابهارت) په جګړه کې چې څوک ووژل شوو، هغه بېرته نه شي را ګرځېدلی.

راجا غله ته د سزا ورکولو په هکله امر وکړ، چې دواړه لاسونه يې ور غوڅ کړئ.

نېکي ګناهونه له منځه وړي.

په دې بنده دنيا کې هېڅ څوک ژوند نه غواړي.

په يوه مکالمه کې يوه مذهبي مشر له بل عالم نه پوښتنه وکړه، «دا مذهبي پېشوا په دوزخ کې ولې دی او هغه ګناهګار دريودن په جنت کې ولې دی؟»

دا مخ جنت ته د تلو نه دی.

يادونه: په مهابهارت کې يوازې د جګړې داستان نه دی بيان شوی، بلکې له جګړې وروسته په راتلونکې دنيا کې د چا انجام څه ډول و، هغه هم ښودل شوی دی.

# د تاج محل په اړه يو تاثر

**دوی د مړو پر سر اثار جوړوي، خو دوی د ژونديو دنيا هم ابادولی شوی.**



هر چا چې د «تاج» نوم اورېدلی وي، په زړه کې به يې د دغې مرمريني تاريخي ودانۍ د ليدو پټه هيله خامخا ساتلې وي. د جولای شپاړسمه زما لپاره هم هغه نېټه وه، چې له خپل مشر ورور سره له ډيلي نه آګرې ته روان شوم. د قيرو په ښوی سرک زموږ موټر د څلوېښت ميلو په سرعت منډې وهلې. په لنډو لنډو وقفو کې واټن‌ښود تيرو د حال په ژبه راته ويل، چې منزل نور نږدې دی.

ماښام درې بجې د آګرې ښار ته ننوتو. په زړه کې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي احساس ډېره تېزه درزا کوله، چې «اوس موږ د تاج ښار ته را ورسېدو.» خو د دې ښار ژوند ماته بیخي عادي ښکاره شو. خلک د نورو ښارونو په څېر دلته هم په خپلو کارونو کې مصروف وو. ته وا دا خبره یې اصلاً هېره وه، چې دوی په یوه داسې ښار کې دي، چې د دنیا تر ټولو لویه عجوبه په‌کې ولاړه ده. د تاج محل مخې ته چې ورسېدو، نو لیدو ته راغلي زیاتره کسان بیروني ګرځندویان وو. ځان سره مې وویل، چې «تاج به ښايي یوازې د هغو خلکو لپاره تاج وي، چې تاج یې لیدلی نه وي. چا چې یو ځل تاج لیدلی وي، د هغو لپاره تاج کوم اهمیت نه لري.»

تاج محل شاه‌جهان (۱۶۵۸ – ۱۶۲۷) جوړ کړی و. دا د شاه‌جهان د مېرمنې بېګم ممتاز محل قبر دی، چې په ۱۵۹۲ کې دې نړۍ ته راغله. له شاه‌جهان سره یې په ۱۶۱۲ کې نکاح وتړل شوه او د څوارلسو بچو له راوړلو وروسته یې په ۱۶۳۱ کې له دې دنیا نه سترګې پټې کړې.

د تاج محل چارې په ۱۶۳۱ کې پیل شوې او په ۱۶۵۳ کې پای ته ورسېدې. لومړی یې په دې ماڼۍ کې ممتاز محل خښه کړه. بیا چې شاه‌جهان وفات شو، نو په خوا کې یې هغه هم خښ کړ. د دواړو قبرونه د یو بل په خوا کې په یوه تاخانه کې په نا جذابه کوټه کې جوړ شوي دي او د همدې قبرونو پر سر هغه د عظمتونو ودانۍ ولاړه ده، چې د تاج محل په نوم یې شهرت موندلی.

زه د تاج محل په لیدو هېڅ خوشاله نه شوم. په ۲۲ کالو کې رغېدلې دا ودانۍ بې له شکه یو هنري شهکار دی. خو کاش دا ودانۍ د اسلام د رغونې نمونه وای. د یوې ښځې د قبر لپاره دومره ستره ودانۍ جوړه شوې ده، حال دا چې په همدې تېرو یوه ستره ملي اداره هم جوړېدلی شوی. رشید رضا مصری اویا کاله پخوا هندوستان ته راغی او ویلي یې و، چې زه حیرانه یم، په دې ملک کې تر زرو کالو د مسلمانانو واکمنې چلېدله، خو د شاهي زمانې یو ستر علمي مرکز هم دلته نه لیدل کېږي. خو هغه خلک چې له قبرستانونو جوړولو سره دلچسپي ولري، هغوی د ملت د احیاء لپاره علمي مراکز کله جوړولی شي؟

یو غربي توریست هندوستان ته راغی او د هېواد د نورو تاریخي ځایونو په خوا کې یې له تاج محل نه هم ځانګړې لیدنه وکړه. دغه کس چې بېرته خپل هېواد ته ستون شو، یوه سفرنامه یې خپره کړه، په هغې کې یې لیکلي و، چې «د تاج محل دواړو څنګونو ته دوه جوماتونه دي.»

له ظاهري اړخه چې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورو، نو د ګرځندوی دا خبره سمه وه. خو د حقیقت له پلوه بیا سمه نه وه. حقیقت دا دی، چې د تاج محل په څنګ کې یوازې یو جومات دی. خو د ودانۍ د تعادل ساتلو لپاره یې دا کار کړی دی، چې د جومات مخامخ جهت ته یې کټ مټ همدې ته ورته یو بل ساختمان هم جوړ کړی دی. دا دوهمه ودانۍ جومات نه ده، البته په سترګو چې ورته ګورې، نو د جومات غوندې ښکاري.

دا خبره د هغې زمانه یو یاد دی، چې کله به د ودانیو د توازن او تعادل لپاره دا طریقه اړینه ګڼل کېدله. اوسمهال غربي ذوق د ودانیو لپاره د دې برعکس روش رواج کړی دی.

د ساختمانی په لرغوني طرز کې د دواړو خواوو انډول او د ودانۍ یو رنګي د ښکلا لازمي برخه وه. خو اوس نه انډول او نه یو رنګي د ودانۍ د ښکلا لپاره لازمي پېژندل کېږي. د ساختماني یو رنګي ځای اوسمهال نه یو رنګي نیولی دی.

# د شاعري او لیکوالي فرق

یو شاعر چې دوه ساعته له قلم او کاغذ سره تېر کړي، نو یو دانه غزل پنځولی شي. خو یو ژوندی او مؤثر کتاب هغه مهال پنځېږي، چې کلونه کلونه علمي او څېړنیزې هڅې ورته شوې وي.

یو ځل مې یو لوی شاعر ولیده. دی د غزل لیکلو ته ناست و. د غزل وروستۍ برخه (ردیف او قافیه) یې دا وه: «انسان مې کړ.» ما چې ورته وکتل، نو د کاغذ په څنډو یې ډېرې زیاتې هم وزنه کلمې لیکلې وې. مثلاً ګلستان، چمنستان، زندان، خموشان، ویران، بهاران او داسې نور. شاعر دا الفاظ په ذهن کې نیولې وو او د شعر په مضامینو یې سوچ واهه، او کله به چې یو مضمون د همدې ردیف او قافیې له قالب سره جوړ راغی، نو هغه به یې په کاغذ ورسره نوشته کړ. دې خبرې ته به اړتیا نه وي، چې ووایو، چې دوه ساعته وروسته دی په دې حالت کې و، چې په مشاعره کې ووايي، چې «نوی غزل تیار دی.»

ما دې شاعر ته وویل، چې الله تعالی تاسې ته ډېر بې ساری استعداد در کړی دی، له اردو، عربي، فارسي او انګریزي ژبو سره ډېره ښه بلدتیا لرئ. تاسې باید په نثر کې کار وکړئ. دغه ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعري ستاسو له شان سره نه ښايي. هغه ځواب را کړ، چې «ستاسي خبره سمه ده. خو د نثر ليکلو لپاره مطالعې او څېړنې ته اړتيا وي او هغه زما له لاسه نه کېږي. او که له مطالعې او څېړنې پرته نثر وليکم، نو يو هنري شهکار خو به مې ارومرو پنځولی وي. خو هغه به بيا داسې کتاب نه وي، چې په اوسنۍ دنيا کې دې کومه بيه او ارزښت ولري.»

دا د شعر مثال و. اوس وګورئ، چې يو «کتاب» په څه ډول ليکل کېږي. يوه امريکايي لاري کولينس او يوه فرانسوي دومينيک لاپير په ګډه د هندوستان پر ازادي کتاب ليکلی دی. د کتاب نوم «د نيمې شپې ازادي» دی. د دې کتاب ليکلو څلور کاله وخت نيولی دی. دوی د لندن په ټايمز ورځپاڼه کې اعلان خپور کړ، چې د ۱۹۴۰ – ۱۹۴۷ په جريان کې چې کومو خلکو په هندوستان کې کار کړی دی، هغوی دې موږ ته خپل ادرسونه را واستوي. د دې اعلان په ځواب کې دوی دوه زره خطونه ترلاسه کړل او دې ټولو کسانو ته يې د مرکو لپاره يوه ډله واستوله او راپور يې ترې چمتو کړ. دوی هندوستان، پاکستان او برتانيې ته درې سفرونه وکړل او له بېلا بېلو باخبره کسانو سره يې وليدل او دوولس زره مرکې يې ترتيب کړې. د دې څېړنو، اسنادو او مرکو د کاغذونو وزن له يو ټن نه هم ډېر و. خو دوی د فرانسې په دفتر کې دا ټول مواد دومره په ترتيب سره ايښي و، چې د دوی سکرترې يو خاص سند يوازې په يوه دقيقه کې را پيدا کولی شوی.

له دې وروسته دوی کتاب ليکل پيل کړل. نيمه برخه يې کالنس په انګريزي ژبه وليکله او پاتې نيمه برخه يې لاپير په فرانسوي ژبه. دوی دواړو به  د يو بل ليکلې برخې مطالعه کولې، او ډېر جارحانه تنقيد به يې پرې کاوه. کله به چې دواړه مطمئن شول، نو وروستۍ نسخه به يې د يوه ځايي دهقان ښځې ته د لوستو لپاره وسپارله. که به هغې ښځې وويل، چې زه خو سمه پرې پوه نه شوم، نو دوی به وانګېرل چې تر اوسه پورې هم تېروتنه پهکې شته، او هغه برخه به يې بيا ځلې وليکله. په وروستي کال به دوی دواړو د ورځې اتلس ساعته کار کاوه او په دې ډول يې خپل کتاب تکميل کړ.

ليکوال د دې خبرو په جريان کې مرکچي ته وويل،

We lived like hermits, and we produced --- ‘Freedom at Midnight’

ژباړه: زموږ ژوند د درويشانو غوندې و، او په دې ډول مو خپل کتاب «د نيمې شپې ازادي» ليکلی.

که اوس د «غزل» او «کتاب» د ليکلو ترمنځ دغه توپير د ليکوالو په ژوند کې هم ځان ښکاره کړي، نو بايد هېڅ حيرانه نه شو، ځکه چې د اسبابو په دنيا کې دوه مختلف کارونه په يو ډول سرته نه شي رسېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د صنعتي ککړتیا مسئله

**شل کاله پخوا به هغوی ویل، چې تر څو زموږ له نلونو لوګي خېژي، زموږ لپاره هیڅ ربړه هم ربړه نه ده، خو نن ورځ همدا لوګی د ژوند لپاره خطر ګرځېدلی دی**

ډویس برګ د غربي المان هغه ښار دی، چې په دې هېواد کې د اوسپنې د صنعت لوی مرکز دی. په غربي المان کې د اوسپنې د تولید دریمه برخه همدلته تولیدېږي.

د دوهمې نړیوالې جګړې تر زماني پورې به د دې سیمې خلکو ویل، چې تر څو چې زموږ له نلونو لوګي خېژي، زموږ لپاره هیڅ ربړه



هم ربړه نه ده. خو نن ورځ په دې سیمه کې د شتمنیو له پرېماني سره، سره «لوګی» تر ټولو لویه مسئله ګرځېدلې ده. څکه چې دې لوګي د هوا د ککړتیا خطر رامنځته کړی دی. ډویس برګ په غربي المان کې د دوو سیندونو د نښلېدو په ټکي کې موقعیت لري، له همدې امله دا سیمه له صنعتي پلوه ایډیاله ساحه ده. څکه چې د سیندونو له امله د لېږد او انتقال چارې په ډېره ټیټه بیه سرته رسېږي او همدا وجه ده، چې دې ښار ډېره بې ساري ترقي وکړه. له دې امله په سیمه کې ورځ تر بلې د دودکشونو شمېر مخ په زیاتېدو شو. خو د لوګي زیاتوالي د دې سیمې ټوله فضا ککړه کړه. دلته په اوسپنې سربېره د مسو، سکرو، کیمیاوي موادو او درنې انجینرۍ صنعتي کارخونې هم جوړې شوې او زیاتره کارخونې د رینې سیند په غاړه ابادې دي، چې د ښار لویدیځې خوا ته بهېږي.

په لویدیځه جرمني کې خلک اوس له دې سوال سره مخ دي، چې په لږ پرمختګ قناعت وکړي او خپل ژوند وژغورې او که د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې ترقي په بیه خپل ځان له وخته مخکې د مرګ خولې ته ورکړي. یوه چاروکي وویل، «آیا په ووکس ویګن به قانع شو او د ځان لپاره به اوږد ژوند خوښ کړو او که به د مرسیډیز په شتون کې له وخته مخکې مرګ ته غېږه ورکړو؟»

د اروپا مادي پرمختګ نن ورځ له خپله لاسه له ماتې سره مخ دی او خپل لاس یې غاړې ته ور ګرځېدلی دی.

ډاکټر ریني ډوبوز په راک فیلر پوهنتون کې د چاپېریالي بیودرملو مشر دی. نوموړي د «So Human an Animal» په نوم یو کتاب لیکلی دی.

ده په لایف امریکایي مجله کې په یوه مقاله کې نړۍ ته خبرداری ورکړی دی، چې نړۍ په ډېرې تېزۍ سره د یوه نوي خطر په خوا روانه ده. هغه خطر دا دی، چې اوسنیو حالات له انسان نه د هغه ډېرې زیاتي ځانګړتیاوې تروړلې دي. که انسان په خپل ځان کې د ژوند نوی استعداد پیدا نه کړ، نو په راتلونکي کې به له ده نه د ټیټې درجې یو انسان جوړ شي.

دا خطر چې د بیولوژي په دنیا کې د انسان لپاره موجود دی، همدا خطر د هغه لپاره په اخلاقي دنیا کې هم پیدا شوی دی. په نوې دنیا کې انسان ډېر په تېزۍ سره خپل اخلاقي صفتونه له لاسه ورکوي. که دا لړۍ همداسې روانه وه، نو یوه ورځ به له انسان نه یو ډول حیوان جوړ شي، او انساني ټولنې به د نوي قسم له ځنګلونو نه ډېر توپیر نه لري.

یاد ډاکټر لیکي، چې «زه نور د دې خبرې له اورېدو ستومانه شوی یم، چې انسان د فنا په لاره روان دی. خو زه په دې اند یم چې په اوسنیو حالاتو کې انسان له داسې خطرونو سره لاس و ګرېوان دی، چې له فنا نه هم ډېر زیات بوږنوونکي دي. زه باوري یم، چې زموږ ټکنالوژي او بې بندوباره ابادۍ د نیویارک او ټوکیو په څېر ښارونه هم له ګرد، ککړتیا او شور او زوږ نه ډک کړي دي. او دا تر ټولو لویه تراژیدي ده.

ځنګلي حیوانات په ژوبڼونو کې اوسېدلی شي، خو په بدل کې به یې خپلې ډېرې فطري ځانګړتیاوې له لاسه ورکوي. په همدې ډول انسان هم د خپل تخنیکي تمدن په ککړه کوډله کې اوسېدلی شي، خو په دې حالت کې به مو د خپل انسانیت ډېر زیات شیان له لاسه ورکړي وي.

د نوموړي په اند دا خطر د انسان د مطابقت کولو په استعداد کې دی. د فرانسي لوی بیولوژي پوه لویي پاسچر په ۱۸٦۴ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تجربو وروسته ثابته کړې وه، چې که یوه ډله انسانان په داسې خونه کې وساتل شي، چې د هوا جریان پهکې کم وي، نو ورو په ورو دغه ډله له دې هوا سره مطابقت کوي، ان تر دې چې دا احساس هم نه ور پاتې کېږي، چې دوی په کمه هوا کې تنفس کوي، خو خبره دا ده، چې د دې مطابقت له لاسه به دوی د خپل صحت لویه برخه له لاسه ورکړې وي.

پاسچر یوه مرغۍ په یوه داسې قفس کې عادي کړه، چې د هوا جریان پهکې ډېر کم و. مرغۍ ورو په ورو له دې هوا سره عادي شوه. مرغۍ ژوندۍ وه، خو د یوه مړ ژواندي مرغه په څېر. د دې برعکس پاسچر دې قفس ته ناڅاپي یوه مرغۍ ور واچوله، نو هغې سمدلاسه ساه ورکړه.

د یاد ډاکټر په نزد د ککړتیا اصلي مسئله دا نه ده، چې انسان به تړې ومړي، بلکې مسئله یې دا ده، چې خپلې انساني ځانګړنې به له لاسه ورکړي، له خطرناکو حالاتو سره د مطابقت پیدا کولو استعداد د انسان لپاره اصلي مسئله ده. اوس به یا انسان د ژوند ځانګړتیاوو ته وده ورکوي او یا به په نویو تمدني حالاتو کې له انسان نه د ټیټې درجې په یوه موجود تبدیلېږي.

ډاکټر چانسي لیک (د کالیفورنیا پوهنتون طبي مرکز) په غریزه ککړتیا تفصیلي څېړنه کړې ده. دی وایي، چې شور یوازې غوږونه نه تکلیفوي، بلکې د شور له امله د انسان جسم ټول تعادل درېږي وړې کېږي. د اوازونو د ټیټوالي او لوړوالي د اندازه کولو لپاره یو واحد ټاکل شوی دی، چې ډیسیبل یې بولي. که شل فټه لرې په سرک یو ټرک په تېز سرعت سره تېر شي، نو له دې نه نوي ډیسیبله اواز تولیدېږي. که پنځه سوه فټه لرې رېلګاډۍ هارن ووهي، نو دا هم نوي ډیسیبله شور جوړوي. که تر ځمکې لاندې رېلګاډۍ د پنځوس فټه په فاصله کې تېر شي، نو له دې نه پنځه نوي ډیسیبله اواز منځته راځي. هغه ساختماني کارونه چې ببلا ببل ماشینونه پهکې استفاده کېږي، هلته شاوخوا ۱۱۰ ډیسیبله اواز وي. الوتکه چې د پنځه سوه فټه په لوړوالي الوځي، نو د ۱۱۵ ډیسیبله په اندازه شور جوړوي.

د ککړتیا اغېز دا وي، چې د جسم دننه د مالګې او اوبو تعال خرابوي. که دا شور تر ډېره دوام وکړي، نو د انسان په چلند او برخورد کې خلق تنګي پیدا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# آيا دا خلک ماشومان دي؟

په دسترخوان يوې خوا ته شيدې، هگۍ، منې او نور شيان ايښي و. بلې خوا ته چاکلېټ، کېک، او شيريني. د مور ټوله هڅه دا وه، چې ماشوم ته شيدې، هگۍ او منې ورکړي. خو ماشوم دې شيانو ته هېڅ خوله نه ور نږدې کوله. او پرلپسې يې چاکلېټو او شيرينۍ ته لاسونه ور غځول.

د دنيا ډېر عجيبه قانون دا دی، چې يو شی چې څومره بې گټې وي، هماغومره خوندور او ښکلی وي. د دې برعکس هغه شيان چې مهم او گټور دي، په هغو کې نسبتاً هغومره ظاهري راښکون نه وي. ممکن فطرت به مو په دې کې ازمايي، چې موږ خپله د توپير او امتياز حاسه په څه ډول کاروو.

د ډرامو خبرې مثلاً فلمي او جاسوسي داستانونه، د درغليو بوږنوونکي انځورونه، د عامو انسانانو لپاره په ځان کې ډېر زيات کشش لري. دغه راز جنگي کيسې، د فتوحاتو داستانونه، د کشف او کراماتو افساني خلک د ذهني شرابو غوندې ځان ته ور کاږي، خو بل خوا بيا هغه مضامين چې د اصلاح او رغونې درسونه لري، چې د پېښو علمي مطالعه را زده کوي، چې د واقعبينۍ په بنيادونو د ژوند تېرولو طرز را ښيي، له دې سره خلک هېڅ ډول علاقه نه لري. خلک په زهرو منډې ور وهي او د جاوداني غذا په لور اصلاً د ور کتلو وخت هم له چا سره نشته دی.

داسې ښکاري، چې ټول خلک بشري ماشومان دي، څوک د عمر له مخې ماشوم دی او څوک د پوهې له لحاظه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوه ختې لیدې، بل ستوري

ډیل کارنیګي یو کتاب لیکلی، چې نوم یې «How To Stop Worrying and Start Living» دی. په دې کتاب کې د دوهمې نړیوالې جګړې یوه ډېره په زړه پورې کیسه راوړل شوې ده.

ټامسن د امریکا په پوځ کې و او دنده یې د کالیفورنیا په موجاوي (Mojave) دښته کې وه. د ده مېرمنه تیلما تامپیون د خپل مېړه خوا ته ورغله او دلته نږدې یوه کلي کې یې په یوه کور کې واړول. څو ورځې وروسته یې داسې احساس کړه، چې دا ځای یې ډېر له خوښې سره جوړ نه دی. دغه دښته به هره شېبه د ګرمۍ، شګو او توپانونو مېلمنه وه. بله خوا یوازیتوب هم ورسره ملګری و، ځکه چې د مېړه به یې ډېر وخت په پوځي ګزمو کې تېرېده. د دې یوازنۍ ملګرې د شاوخوا کلیوال وو. خو هغوی د انګریزي ژبې په یوه ټکي هم نه پوهېدل. نو ځکه له دې خلکو سره یې هم ډېره راشه درشه جوړه نه شوه. نو دې پرېکړه وکړه، چې دا ځای پرېږدي او بېرته خپل کور ته ستنه شي. دې خپل مور او پلار ته له مایوسۍ ډک لیک ولیکه او ورته ویې ویل، چې غواړي ډېر ژر یې څنګ ته ورشي.

په ځواب کې د مېرمنې پلار لیک ورته را ولېږه. خو ځواب یې ډېر لنډ و. پلار په لیک کې خپله خبره په دوو کرښو کې را لنډه کړې وه. «دوو بندیانو د زندان له کړکۍ نه بیرون وکتل. یوه ته ختې په نظر ورغلې، بل ته ستوري.»

دې دوو کرښو د ښځې په ژوند کې لوی انقلاب ته لاره هواره کړه.

دې پرېکړه وکړه، چې په همدې صحرایي کلي به اوسي او همدلته به د ځان لپاره بهتر ژوند جوړوي. دې احساس کړه، چې هلته چې ختې دي، نو په هماغه ځای کې پاس ستوري هم سترګکونه را وهي. دې د «ختو» په ځای «ستورو» ته د کتلو هڅه پیل کړه. د سیمې له خلکو سره یې اشنایانې جوړې کړې. د هغوی کلچر او ژبه یې زده کړل. او د صحرایي ژوند په رنګینیو یې ځان پوه کړ. په صحرا کې یې د ډوبېدونکي او راختونکي لمر د حسن ننداري وکړې. ورو په ورو یې له دې سیمې سره دومره زړه وتړل شو، چې کله یې مېړه د پوځ له دندې نه تقاعد واخیست نو دواړو پرېکړه وکړه، چې خپل راتلونکی ژوند به په همدې سیمه کې تېروي، تر دې چې دغې نوې تجربې ټامسن په یوه لیکوال بدل کړ. ده د خپلو تجربو په تړاو د « Bright Ramparts» په نوم یو کتاب ولیکه، چې ډېر زیات هرکلی یې وشو او ډېر زیات چاپونه یې راووتل.

د دې پېښې له راوړلو وروسته یوه لیکوال لیکلي دي، چې «ډېره مهمه خبره دا نه ده، چې موږ له کومو ستونزو سره لاس او ګرېوان یو. مهمه خبره دا ده، چې له هغو ستونزو سره د مبارزې لپاره موږ څه ډول غبرګون ښکاره کوو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ارتقا تیوري

ډاروین (۱۸۰۹ -۱۸۸۲) په دې عقیده و، چې ژوند د ارتقا او تکامل په پایله کې وجود مونږلی دی. د چینجیانو او حشراتو غړو د تکامل له مخې خپله بڼه بدلوله تر دې چې اوزې شوې او اوزو ارتقا وکړه او د زرافې صورت یې خپل کړ. د تېرو سلو کلونو په موده کې دا نظریه یوه منل شوې ساینسي عقیده وګرځېدله. خو اوسنیو څېړنو د دې عقیدې علمي اعتبار ډېر زیات متزلزل کړی دی. مثلاً اوس دا معلومه شوه، چې د ژوند عمر له هغې مودې نه ډېر کم دی، چې له ارتقایي پلوه د ژوند د بېلا بېلو بڼو د تخلیق لپاره ضروري دی.

بیولوژي پوهان دا اټکلونه کوي، چې له ځمکې نه دباندې د کایناتو په یوه بله برخه کې هم انساني تمدن موجود دی او له دې تمدن نه په ارادي ډول د ژوند ماده ځمکې ته را استول شوې ده. خو دلته هم موږ له یوه خنډ سره مخ کېږو. د کاینات وخت دومره ډېر نه دی، چې دوه تمدنونه دې په کې ارتقا وکولی شي. یو تمدن په ځمکه، او بل تمدن په یوه بل ستوري کې. ګواکې بشري پوهه هغه ځای ته رسېدلې ده، چې اوس له دې پرته بله هېڅ چاره نه پاتې کېږي، چې د یوه قادرِ مطلق ذات وجود ته غاړه کېږدو.

**د ارتقا فرضي قافله د کاینات په ټاکلو لویو لارو کې خپل مسیر ونه مونده**

پر ځمکه ژوند څرنګه پیل شو؟ په دې هکله په دې وروستیو کې یوه ډېره هیښوونکې نظریه مخې ته راغله. دغه نظریه دوه نومیالیو مالیکولي بیولوژي پوهانو وړاندې کړه. یو د نوبل جایزې ګټونکی فرانسیس کریک او بل لزلي آرګل و. دا نظریه وایي، چې په ځمکه باندې خو نه ژوند پخپل سر پیل شوی دی او نه څو میلیونه کاله پخوا له ابتدایي مادي نه حیواني جسم (ارګانیزم) جوړ شوی، چې بیا د تدریجي تکامل په مټ د ژوند انواعې ترې پیدا شوې. بلکې ژوند د یوې داسې تجربې پایله وه، چې څو غیر ځمکنیو هستیو ډېر پخوا ترتیب او پلان کړې وه.

کریک او آرګل د دې فرضیې له مخې چې زموږ د کهکشاني نظام په نورو ستورو کې پرمختللي تمدنونه موجود دي، په دې اند دي، چې زموږ د ځمکې په څېر د یوې سیارې اوسېدونکو څو زره میلیونه کاله پخوا پرېکړه وکړه، چې دوی به دا تجربه کوي، چې آیا په خپل ګاونډي ستوري کې یې هم ژوند د ځان لپاره نوی ماحول جوړولی شي او که نه، نو هغوی زموږ د کهکشان په ځینو ستورو باندې د ژوند ارګانیزمونه وشیندل. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغي لرغوني تجربې په پایله کې زموږ اوسنی تمدن رامنځته شو.

په نولسمه پېړۍ کې د ډاروین له نظریې وروسته د مذهبي خلکو د تخلیق نظریه د ساینسپوهانو په منځ کې ختمه شوه. له دې وروسته ساینسپوهانو د دې پوښتنې په ځواب پسې سرگردانه شول، چې ژوند څرنگه پیل شو؟ د دې بحث په جریان کې د سویډن کیمیاپوه ارهینوس د نولسمې پېړۍ په پای کې دا فکر وړاندې کړ، چې ځینې بکتریاوې له یوه داسې ستوري نه چې هلته ژوند موجود و، ځمکې ته راغلې او بیا د تدریجي ارتقا له لارې د ژوند د بېلا بېلو ډولونو د رامنځته کېدو سبب شوې. ارهینوس دې تگلارې ته د «پینس پرمیا» نوم ورکړ. خو دا نظریه له دې تنقید سره مخ وه، چې بکتریا د ستورو ترمنځ د سفر په وخت کې له خطرناکو وړانگو نه ځان نه شي ژغورلی. لارډ کلوین د دې نیوکې په ځواب کې وویل، چې «و دې شي، چې بکتریا له کوم شهابي ستوري سره نښتی وي او پر همدې ستوري یې ځمکې ته سفر را کړی وي.»

سره له دې چې دا ممکنه ده، چې بکتریا دې پر شهابي ستورو سپره شي او د ستورو ترمنځ دې سفر وکړي، خو د پینس پرمیا نظریه هېڅ کله د ساینسپوهانو لپاره د منلو وړ ونه گرځېده. د دې نظریې اساسي مقدمه دا وه، چې ژوند تر دې پخوا یو بل چېرته موجود و، خو په دې نظریه کې د دې پوښتنې ځواب نشته، چې پخپله په هغه بل ستوري کې ژوند څرنگه منځته راغی؟

کریک او آرگل دا مني، چې د بکتریاوي اجسامو تصادفي هجرت ناشونی دی او بیا وایي، چې دا خبره هغه وخت د قیاس وړ کېدلی شي، چې کله دا ومنو، چې په ارادي ډول یو چا د ژوند جراثیم ځمکې ته را لېږلي اوسي. نوموړی دې تگلارې ته د ارادي پینس پرمیا (Directed Panspermia) نوم ورکوي.

د دې نظریې په ثبوت کې کریگ او آرگل د دوو بیولوژیکو مسئلو یادونه کوي. په هغو کې یوه یې جنتیک کوډ دی. په اوسني عصر کې ټول ساینسپوهان دا خبره مني، چې د ځمکې پر مخ د ژوند د ټولو انواعو لپاره یوازې یو کوډ دی. مگر هېڅ بیولوژي پوه د دې کلي اصل توجیه نه شي کولی، چې د ټولو لپاره یوازې یو کوډ ولې دی؟ آرگل او کریک وایي، چې د دې وجه دا ده، چې د ژوند هغه تخم یو و، چې ژوند ترې پیل شو. له همدې امله طبیعي خبره ده، چې د دغه تخم جنتیک کوډ چې ډېر پخوا د بلې سیارې اوسېدونکو ځمکې ته را استولی و، خپل تکرار او تولید د هماغه یوه جنتیک کوډ له مخې سرته رساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ژوندی جسم که مازې د طبيعي او کيمياوي ځواکونو د خپلمنځي تعامل په پايله کې منځته راغلی وي، نو د دې جسم په ترکيب کې بايد هماغه تناسب شتون ولري، چې زموږ په دنيا کې موجود دی. خو په ژوندي جسم کې د ځمکنيو توکو نشتون د دې خبرې پخلی کوي، چې ژوندی جسم يو داسې څه دی، چې خالق يې په ارادي ډول يو خاص شکل ورکړی، نه دا چې يوازې د ړانده عمل يوه تصادفي پايله دې اوسي.**

دوهمه مسئله يې مولب ډينم (Molybdenum) په نوم د يوه فلز رول ته اشاره کړې ده، چې په بيولوژيک نظام کې وجود لري. زياتره انزايم سيستمونه د خپل فعاليت لپاره يوازې همدې فلز ته اړتيا لري. مولب ډينم له خپل ټول مهموالي سره سره په ځمکه کې د ټولو شته فلزاتو په نسبت يوازې ۰.۰۲ سلنه (په لس زره کې دوه) موجود دی. بلې خواته ځينې هغه فلزات چې په لويه کچه موندل کېږي، مثلاً کروميم او نيکل، چې د خپل خاصيت له مخې له مولب ډينم سره ډېر زيات شباهت لري او د ځمکنيو فلزاتو ۰.۲ او ۳.۱۶ سلنه جوړوي، په بيولوژيکي نظام کې هېڅ ډول اهميت نه مومي. کريک او آرګل وايي، چې د ځمکې کيمياوي ترکيب بايد د ځمکې پر مخ د جوړېدونکو ژونديو اجسامو په جوړښت کې خپل ځان ونښيي، او دا چې حقيقت دغسې نه دی، نو بايد دا ومنو، چې ژوند څو ميليونه کاله پخوا له ځمکې نه دباندې کوم ځای نه را استول شوی دی.

که د ارادي پينس پرميا نظريه ومنو، نو دلته دوه پوښتنې را ولاړېږي: (۱) آيا کايناتې وخت د دې لپاره کافي دی، چې په دې موده کې دې دوه تمدنونه ارتقا وکولی شي، يو په ځمکه او بل په کوم بل ستوري کې. (۲) آيا ژوندي جراثيم د ستورو ترمنځ له واټن وهلو وروسته له يوه ځايه بل ځای ته ژوندي رسول کېدلی شي؟

کريک او آرګل په دې نظر دي، چې د دوی نظريه به په ساينسي دنيا کې ومنل شي، که دا ثابته شي، چې هغه عناصر چې د ځمکنې ژوند جوړوونکې اجزاوې دي، هماغه عناصر دي، چې د دوی د قياس له مخې په ځينو نورو ستورو کې په کثرت سره موندل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اسلامي کرکټر

## دوه کرکټرونه په خوښي او غم دواړو کې به يې د انصاف لمنه نيولې وه

د يرموک په جګړه کې خالد بن وليد (۶۴۸ز) د اسلامي لښکر سپه سالار و او ابو عبيده بن الجراح يې تر لاس لاندې د قومندان په حيث په جګړه کې ورسره و. حضرت عمر چې خليفه شو، نو هغه خالد بن وليد معزول کړ او ابو عبيد بن الجراح يې د لښکر سپه سالار وټاکه او خالد بن وليد يې د هغه ماتحت کړ. هغه کس چې دا فرمان يې له مدينې ورسره اخيستی و، هغه مهال د جګړې ځای ته ورسېده، چې له اوږدې مبارزې وروسته جګړه خپل وروستي انجام ته رسېدلې وه او د بريا د نښو لمر په راختو و. قاصد دغه فرمان لومړی ابو عبيده بن الجراح ته ورکړ. ابو عبيده د خلافت له فرمان سره سم سمدستي د مشرۍ بيرغ په خپل لاس کې اخيستلی او د بريا کريډټ يې ور خپلولی شوی. خو هغه داسې ونه کړل، بلکې د خالد بن وليد تر لاس لاندې يې خپلې جګړې ته دوام ورکړ.

فاخفى ابو عبيده الخبر و صارفى مكانه خلف خالد حتى ظهرت مقدمات النصر. و قد سئل عند عدم اخذه بلواء القيادة على الفور فقال: ما سلطان الدنيا اريد وما للدنيا اعمل.

ژباړه: ابو عبيده دا خبره پټه وساتله او د خالد تر لاس لاندې يې جګړې ته دوام ورکړ، تر دې چې د بريا نښې ښکاره شوې. له ابو عبيده وپوښتل شو، چې ولې دې د قيادت بيرغ سمدستي در پورته نه کړ؟ ويې ويل: زه د دنيا لويوالی نه غواړم او نه د دنيا لپاره يو کار کوم.

د اخرت له پلوه وياړ په همدې کې و، چې دا خبره پټه ساتل شوې وای. د دنيا وياړ دا و، چې دا خبره يې افشا کړې وای. ابو عبيده اخروي وياړ خوښ کړ او د دنيا وياړ يې له پامه وغورځوله.

اوس د خالد بن وليد کردار ته وګورئ. د يرموک له فتحې وروسته چې خلک پوه شول چې د دې سترې جګړې فاتح (خالد بن وليد) له سپه سالارۍ نه غورځول شوی دی، نو په لښکر کې ډېره زياته نارامي جوړه شوه. ډېر خلک د خالد بن وليد شاوخوا ته را ټول شول، د حضرت خالد په زړورتيا او مېړانه يې ويناوې وکړې او د هغه په لرې کېدو يې خپل خفګان ښکاره کړ. خالد بن وليد يې دې ته وپاراوه، چې د خليفه د امر له منلو انکار وکړي او ژمنه يې وکړه، چې موږ له تا سره ولاړ يو. (يحرضونه على عصيان امر الخليفة و يعدونه بانهم سيكونون معه) خو خالد بن وليد له دې ډول مشورو نه سوچ انکار وکړ او په دې خبره راضي شو، چې د ابو عبيد بن الجراح تر لاس لاندې به د يوه عادي پوځي غونډې له اسلام دښمنه ځواکونو سره جګړې کوي. په دې وخت کې يې چې له خولې کومه جمله ووتله، تاريخ په خپله سينه کې په دې تورو کې خوندي کړې:

انا لا اقاتل فی سبيل عمر و لكن فی سبيل رب عمر.

ژباړه: زه د عمر په لاره کې نه جنګېږم، بلکې د عمر د رب په لاره کې جنګېږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د نر او ښځې ترمنځ د کار وېش

## د کار دغه وېش يوه بله ګټه هم لري

په اسلام کې د ښځې او سړي د کار دايره له يو بل نه بېله ده. ښځه د کاله لپاره ده او سړی د کلي لپاره. دا وېش نه يوازې له دې امله سم دی، چې له بيولوژيکي او جسمي پلوه په دواړو جنسونو کې فرق دی، بلکې ډېرې زياتې ټولنيزې ګټې هم له ځان سره لري. له هغو نه يې يوه ګټه دا ده، چې د دغه وېش له لارې دواړه داسې باوري ملګري مومي، چې د يو بل لپاره ډېر غوره سلاکاران جوړېدلی شي.

کورنۍ د بشري نسل واحد دی او ټولنه د بشري نسل ټولګه. دواړه په خپل ځای کې خورا ډېر اهميت مومي. تجربې ښيي، چې د ژوند په دواړو ډګرونو کې ډېر ځله داسې پېچيده مسايل مخې ته راځي، چې هغه شخص په خپل سر يوه بې طرفه رايه نه شي جوړولی، چې پخپله په ستونزه کې ښکېل وي. په داسې وخت کې اړتيا وي، چې د انسان په خوا کې يو داسې مشاور وي، چې له هغې ستونزې سره يې کوم تعلق نه وي، بلکې د ستونزې په اړه د نامتاثر ذهن له مخې خپل نظر ورکړي.

د خاوند او ښځې ترمنځ د کار د وېش له لارې دغه ګټه په ډېر بهترين شکل لاسته راځي. ښځه په خپله برخه کې لګيا وي او سړی په خپله برخه کې مصروف وي. په دې ډول دواړه د يو بل له معاملاتو سره نېغ په نېغه کومه اړيکه نه لري. هر لوری په دې مقام کې وي، چې د بل لوري په مسئله کې په نامتاثر ذهن فکر وکړي او د خپلو بې پرې مشورو په مټ مرسته ورسره وکړي.

د دې خبرې د وضاحت لپاره به دلته د ښځې له ژوند نه څو مثالونو را نقل کړو.

۱- پر پيغمبر ص چې کله د حرا په غار کې لومړی وحي راغله، نو د لړزې په حالت کې يې کور ته تشريف راووړ او ويې فرمايل، پر ما کمپله هواره کړئ. مېرمنې يې کمپله پرې هواره کړه. څو شېبې وروسته يې چې وېره را کمه شوه، نو خپلې مېرمنې خديجه بنت خويلد ته يې هغه ټوله کيسه تېره کړه، چې د حرا په غار کې په تنهايي کې ورسره پېښه شوې وه. پيغمبر عليه السلام وفرمايل، دا پېښه دومره بورنوونکې وه، چې زه په خپل ځان او سر ووېرېدم. په دې شېبو کې چې د خديجې رض کوم الفاظ تاريخ په خپلو پاڼو کې خوندي کړي، هغه د ژوند د ملګرې د کردار ډېره بې سارې بېلګه ده. هغې وويل:

كلا والله ما يخزيك الله ابدا، انک لتصل الرحم وتحمل الكل و تكسب المعدوم و تقوى الضيف و تعين على نوائب الحق.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: هېڅ کله نه، په خدای قسم! الله به هېڅ کله تا رسوا نه کړي. ته خپلوي پالې. د کمزورو پېټي پورته کوې، ناشنا خلکو ته روزي گټې، مېلمه پالنه کوې او د حق په ځای کې له خلکو سره مرسته کوې.

۲- نبي کريم ص چې کله د مکې له قريشو سره هغه تړون وکړ، چې د حديبيې تړون په نوم مشهور شو، نو په صحابوو کې ډېره زياته نارامي جوړه شوه. ځکه په دغه تړون کې مسلمانان ډېر ژوبل شوو او ډېرې خبرې يې په ښکاره د مخالفينو په حق کې وې. په مسلمانانو کې غوسه او خفگان دومره وو، چې کله پيغمبر عليه السلام خلکو ته امر وکړ، چې هغه مالونه چې ځان سره مو د قرباني لپاره راوړي دي، حلال يې کړئ او سرونه وخرېيئ. نو يو تن هم د نبي کريم ص په خبره له ځايه ونه ښورېده. پيغمبر عليه السلام درې ځله خپل خبره تکرار کړه، خو بيا هم ټول خلک غلي وو او يو هم له ځايه پورته نه شو. نو پيغمبر عليه السلام د خفگان په حالت کې له هغه ځايه ببرته خپلې خېمې ته راستون شو، په خېمه کې يې مېرمنه ام سلمه رض ناسته وه. هغې چې پيغمبر عليه السلام غمجن وليده او پوښتنه يې وکړه، نو نبي کريم ص وفرمايل، دا نن داسې څه وشول چې پخوا کله نه دي شوي. مسلمانانو ته مې درې ځله امر وکړ، خو يو هم زما د امر د منلو لپاره له ځايه ونه ښورېده. ام سلمه رض ورته وويل: اې د الله رسوله، که ستاسې نظر همدا وي، نو ببرته ميدان ته ورشئ او چاته بې له ويلو خپل د قرباني حيوان حلال کړئ او خپل سر وخرېيئ. نو پيغمبر عليه السلام له خېمې دباندې ووت او چاته يې له ويلو پرته خپله قرباني حلاله کړه او ډم يې وغوښته او خپل سر يې پرې وخرېيه. صحابوو چې دا صحنه وليده، نو ټول پاڅېدل او خپلې خپلې قربانۍ يې حلالې کړې. سره له دې چې له غوسې او خفگان يې حالت داسې وو، چې کله يې د يو بل سرونه خرېيل، نو داسې معلومېده، گواکې د يو بل سرونه به وشيندي.

خديجه رض او ام سلمه رض ته چې په دې نازکو شېبو کې کومې گرانيېه لاربښوونې ذهن ته ورغلې، له دې امله ورغلې، چې دواړه له اصلي مسئلې نه لرې وې او ځکه خو په دې مقام کې وې، چې د نامتاثر ذهن له مخې خپل نظر وړاندې کړی شي. که هغوی په خپله هم په مسئله کې نېغ په نېغه شريکې وای، نو بيا دغه ډول بې پرې رايه ورکول به ورته ممکن نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تېروتنې پایله

محمود ګوان د دکن د بهمني سلطنت وزیر و او د هند په تاریخ کې له ډېرو تکړه او مدبرو وزیرانو نه شمېرل کېږي. دی دومره زیارکښ و، چې خپله یوه شېبه به یې هم نه بربادوله. خپل ضرورتونه یې ډېر زیات محدود کړي وو. پر عادي تغر به ویده کېده، په خاورینو لوښو کې به یې خواړه خوړل او ډېر ساده بود و باش یې و. د نوموړي په کتابخانه کې درې زره کتابونه وو. ده د بهمني سلطنت په پایتخت «بیدر» کې یوه مدرسه جوړه کړه او خپل ټول کتابونه یې مدرسې ته ولېږل. د دغې مدرسې نښې اوس هم په بیدر کې شته دي. د ده په زمانه کې بهمني سلطنت ډېر زیات پرمختګ وکړ.

د محمود ګوان په زمانه کې پر بهمني ګدۍ دریم محمد شاه ناست و. دا پاچا ډېر زیات ارام خوښوونکی او بېکاره و. پایله یې دا شوه، چې د سلطنت ټولې چارې په عمل کې د محمود ګوان لاس ته ورغلې.

د دربار ډېرو امیرانو چې د ګوان دې ځواک او دبدبې ته وکتل، نو په زړونو کې یې د کینې لمبې بلې شوې. هغوی په پټه د محمود ګوان دولتي ټاپه ترلاسه کړه او پر یوه جعلي خط یې دغه ټاپه ووهله. دغه لیک د ویجې نګر د یوه راجا رای نرسنګ په نوم لیکل شوی و. دا فرضي خط هغوی پاچا ته ور ښکاره کړ او ویې ویل چې وزیر خاین دی.

پاچا د امیرانو په خبرو وغولېده. او په ۱۴۸۱ء کې یې خپل تکړه وزیر وواژه. وروسته چې پاچا په خپله تېروتنه پوه شو، نو ډېره زیاته صدمه یې ولیده، تر دې چې پخپله یې د یو کال دننه له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# له مرګ وروسته

**له مرګه وروسته به انسان ته ټول هغه شيان رشخند ښکاري، چې په دنيا کې يې مهم ګڼل او ټول ژوند يې ورپسې منډې وهلې**

وروستۍ پايله

چو این لائی (۱۹۷٦ – ۱۸۹۸) د چين د سوشياليست انقلاب (۱۹۴۹) نه دمخه د چيانګ کائی شيک ملګری و. خو وروسته يې له چيانګ نه لاره بېله کړه او د کمونيست چين لومړنی وزير اعظم شو. نوموړي په چين سربېره، په فرانسه، انګلستان، جرمني او جاپان کې هم زدکړې کړې وې. د چين پخوانی د دفاع وزير لن پياؤ په وروستيو کلونو کې د چو د ډېر پياوړي سيال او رقيب په حيث را پورته شو. خو چو په ۱۹۷۲ء کې پر پياؤ د باغي ټاپه ووهله او له خپلې مخې نه يې په ايسته کولو بريالی شو او د چين دوهمه درجه سړی شو. مګر چو خپل ځان د سرطان له ناروغۍ ونه شو ژغورلی او اتلس مياشتې په روغتون کې له تېرولو وروسته يې د جنورې په نهمه له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه. چاؤ يوازې د يوه ماشوم پلار و، چې په کمکيني کې لا وفات شوی و.

هر څه به رشخند ښکاري

ماؤزې تنګ (۱۹۷٦ – ۱۸۹۳) شاوخوا تر ډېرشو کلونو پورې د اته سوه ميليونه نفوس لرونکي يوه ستر هېواد ټولواک پاتې شو او بلاخره يې له دې نړۍ نه سترګې پټې کړې. په ۱۹٦۵ء کې نوموړي له اډګر سنو سره په خپله مرکه کې ويلي و: له نن نه زر کاله وروسته به مونږ ټول، ان مارکس، انجلس او لينن هم رشخند او عبث ښکارو.

سره له دې چې ده دا خبره د سياسي او اقتصادي نظرياتو له پلوه کړې وه، خو ممکن صرف لس کاله وروسته به مرګ ورته ښودلې وي، چې دا خبره په يوه بل مفهوم کې هم سمه وه. له مرګ نه مخکې انسان د خپل پرمختګ لپاره يا د خپل شخصيت جوړونې لپاره چې هر څه کوي، له مرګ نه وروسته هغه ټول بالکل بې معنا شي. انسان ناڅاپي پوه شي، چې دلته خو د هغو شيانو هيڅ ارزښت نشته، چې ما تر ټولو ډېر مهم ګڼلي وو او د هغو په ترلاسي کې مې ټول ژوند لګولی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ شی یې په کار را نه‌غلل

جنرال فرانسیسکو فرینکو (۱۹۷۵- ۱۸۹۲)

شپږدېرش کاله د اسپانیې مطلق العنان دیکتاتور و او په خپل وروستي عمر کې په نهه ډوله مرګونو مرضونو مبتلا شو. د دوه دېرشو ډاکټرانو په څلورویشت ساعته موجودیت سربېره نوموړی پنځه هفتې په بستره کې وکړېده او په پای کې یې د نومبر په نولسمه خپله ساه ورکړه. د اسپانیې د کورنیو جګړو (۱۹۳۶ – ۳۸) په زمانه کې ده د هټلر او موسولیني په پوځي مرسته د هېواد په واک ولکه ټینګه کړې وه او د اسپانیې پاچا الفانسو دیارلسم په ۱۹۳۱ کې هېواد پرېښود او د تېښتې لاره یې ونیوله. اوسمهال د فرینکو شهزاده لمسی کارلوز ډی بورون بېرته د اسپاینې واکمن دی، چې په خپل ژوند کې یې لا خپل ځایناستی ټاکلی و.

د عام اسپانوي طبیعت برخلاف، په جنرال فرینکو کې دوه ډېر ځرګند خاصیتونه وو. یو احتیاط، بل نرمي. د فرینکو یو ځل د ماهیانو ښکار ته زړه وشو. په دې وخت کې په سمندر کې طوفان و. خلکو مشوره ورکړه، چې سمندر ته دې نه ور کوزېږي. خو دی په خپله خبره ولاړ و. مېرمنې دوناکارمینا هم ورته وویل، چې «که ته په دې څپو کې ډوب شوې، نو اسپانیه به څه کوي؟» فرینکو ځواب ورکړ، «د اسپانیې حفاظت به خدای کوي.»

کیندنه پای ته نه ده رسېدلې

مورټېمي مروهیلر (۱۹۷٦ – ۱۸۸۹)

مروهیلر په سکاټ لینډ کې نړۍ ته راغی. دی د لرغونو اثارو عالم و. ده د انګلستان په درې تاریخي سیمو (سډني، ویرولامیم، میډن کیسل) کې له کیندنو وروسته ډېر زیاته شهرت پیدا کړ او د رومي لرغونپوهنې د متخصص په حیث وپېژندل شو. په ۱۹۴۴ء کې نوموړی د متحده هندوستان د لرغونپوهنیزې سروې د مشر په توګه وټاکل شو او د پاکستان او هندوستان په مختلفو تاریخي سیمو کې یې کیندنې وکړې، او د لرغونو اثارو اړوند ډېر نور مهم کارونه یې هم وکړل.

کله چې دی په هندوستان کې په دنده وګمارل شو، نو د دې ځای رسنیو د دې لپاره چې دی نا اهله ثابت کړي، ویلي و، چې «دی د رومي لرغونپوهنې متخصص دی، نو د هندوستان د لرغونو اثارو په برخه کې به له موږ سره څه مرسته وکړي؟» خو د خپل لوړ استعداد له برکته ده دومره اهلیت ښکاره کړ، چې د هند له وېش وروسته هم د هند د لرغونو اثارو د اداري له لوري څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو ځله هندوستان وغوښتل شو. تر دې چې له ازادۍ نه مخکې يې د خپلې څلور کلنې کارې مودې په جريان کې د پانډيچرې په شاوخوا کې د آريکاميډو له کيندنې وروسته دا په ثبوت ورسوله، چې روميان هندوستان ته هم رسېدلې وو.

مروهيلر ډېر زيات خواريکښ او مسؤليت منونکی سړی و. ده به يوه خبره کوله، چې

Every excavation is destruction
unless it is properley recorded.

«د کيندنې هر کوشش تر هغو پورې د بربادولو کار دی، تر څو يې چې د ثبتولو سمه چاره نه وي شوې.»

د ښاغلي وهيلر ټول ژوند د «کيندنو» ژوندليک ښکارې. ممکن دی به په دې فکر و، چې لا هم دی اصلي حقيقت ته نه رسېدلی. له ده نه يو ژوندليک پاتې دی، چې ده په خپله ليکلی او د دې ژوندليک لپاره يې ډېر بامعنا نوم غور کړی دی: STILL DIGGING يانې کيندنه دوام لري.

وخت يې نشته

کرشن باټيا (۱۹۲۵ - ۷۴) له هغو ځو هندوستانيانو نه و، چې د هېواد په رسنيز ډګر کې يې د تحليلي ليکنې ( Analytical Writing) ډېر بې سارې مثال پرېښوده.

باټيا د خپل ژوند وروستي اته کلونه په واشنګټن کې د هندوستان ټايمز د استازي په حيث تېر کړل. پر لس دسمبر ۱۹۷۴ء چې کله راډيو دا اعلان وکړ، چې د زړه د ناڅاپي دربدا له امله يې په واشنګټن کې خپله ساه ورکړه، نو خلک ډېر زيات حيرانه شول. ځکه چې د مرګ په وخت کې کرشن باټيا بالکل ښه روغ او پياوړی و او د پاخه عمر هغه وروستي سرحد ته رسېدلی و، چې انسان له خپلو وړتياوو نه ډېره برياله استفاده پهکې کولی شي.

د ډاکټر تر راتلو دمخه

نرنجن سنګ طالب (۱۹۷۶ - ۱۹۰۱) په نوې ډيلي کې په خپل کور کې و. د چايو يوه پياله يې وڅښله. وروسته يې په سينه کې درد محسوس کړ. سمدستي له نږدې کلينک نه ډاکټر را وغوښتل شو. ډاکټر يې چې کور ته را ورسېده، نو په تقديرکې يې همدومره ليکلي و، چې ناروغ وګوري او دا علان وکړي، چې طالب نور له موږ سره نشته.

نرنجن سنګ طالب د پنجاب کانګرس مشر او د (راجيه سبا) غړی و. له دې نه مخکې دی د پنجاب د کابينې وزير هم پاتې شوی و. ده له سبهاش چندر بوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره هم مرسته کړې وه، چې له هندوستان نه جرمني ته وتښتي. چې بیا انګرېزانو ورباندې عدالتي قضیه هم وچلوله. په ۱۹۲۳ کې دی د پنجاب له صوبې نه هم وشړل شو.

نوې تیاره

تېر ستمبر کې د دوو همزولو هنرمندانو د مړیني خبرونه راغلل. یو د بنګال باغي شاعر قاضي نذر الاسلام (۱۸۹۹ – ۱۹۷٦) او بل د مرهټي ژبې تولنیز ناول لیکونکی کنډیکر (۱۸۹۸ – ۱۹۷٦) وو. دواړو ډېر بې ساری شهرت او عزت ولیده. مګر دواړه پرلپسې له ناروغیو او حادثاتو سره لاس و ګرېوان وو.

تر دې چې دواړه له خپلو سترګو هم محروم شوو. د قاضي نذر الاسلام سترګې په ۱۹۴۲ کې د فالج د حملې له لاسه ختمې شوې. د کنډیکر سترګې له ډېرې مودې نه کمزورې شوې وې. له مرګ نه شاوخوا درې کاله دمخه دواړه ړانده شوي وو.

په وروستیو کلونو کې له کنډیکر نه یوه خبریال پوښتنه وکړه، چې د سترګو له تلو وروسته څنګه احساس کوې؟ ده ځواب ورکړ،

I have adjusted myself in this new darkness.

ما خپل ځان له دې نوې تیارې سره عادت کړی دی.

## اعلان [بدلونونو سره]

- **که مو «الرساله» خوښه وي، نو حتمي به غواړئ، چې خپلو ملګرو او عزیزانو ته يې هم ورسوئ. څو اساني لارې يې دا دي:**
  - په ټولنیزو رسنیو (فېسبوک، واټساپ، ټیلي‌ګرام...) او وېبسایټونو کې يې خپره کړئ.
  - د هغو ملګرو لپاره يې په کتابي بڼه چاپ کړئ، چې ډیجیټل مطالعه نه شي کولی.
  - د هغو ملګرو لپاره يې په غږیزه بڼه خپره کړئ، چې لیک او لوست نه شي کولی.

[ژباړن]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لارډ ټامسن پېښه

## مردان چنین کنند

لارډ ټامسن (۱۹۷٦ – ۱۹۲۳) په کاناډا کې دې نړۍ ته راغی. ده د ورځپاڼو چاپ او خپراوی د یوه کاروبار په حیث پیل کړ او په دې ډګر کې یې دومره کامیابي په برخه شوه، چې تر دې دمه به د ورځپاڼو د یوه تجار هم نه وي په برخه شوې. د کاناډا، برتانیا، امریکا او نورو هېوادونو تر سلو ډېرې ورځپاڼې د ټامسن د امپایر برخې وې.

ټامسن ډېر شریف سړی و. له اخلاقي پلوه هېڅ کله چا شکایت نه دی ور نه کړی. د مسؤل مدیرانو د انتخاب په برخه کې به یې ډېره زیاته کنجکاوي کوله، مګر کله به یې چې یو څوک د خپلې ورځپاڼې لپاره د مدیر په حیث وګماره، بیا به یې په خپله کاري دایره کې هغه ته بشپړه خپلواکي ورکوله. تر دې پورې چې مسؤل مدیرانو ته یې دا حق هم ورکړی و، چې پخپله د ټامسن په ضد هم مقالې لیکلی شي.

د ټامسن ژوندلیک رسل بریډن لیکلی دی، چې Roy Thomson of Fleet Street نوم یې ورکړی دی. لیکوال لیکلي دي، چې د ټامسن یوازنی ضعف دا و، چې د «لارډ» د شاهي خطاب په ترلاسه کولو پسې ډېر زیات حریص و. خو دی پوه شو، چې په خپل هېواد کاناډا کې یې دا هیله نه شي پوره کېدلی. ځکه چې کاناډا د «لارډ» د خطاب ورکولو برتانوي طریقه ختمه کړې وه. نو ټامسن د برتانیې تابعیت واخیست.

دی باوري و، چې برتانیې ته له تلو وروسته به یې د لارډ کېدو خوب ارومرو په حقیقت بدل شي. خو دلته یې یو بل خنډ مخې ته ودرېده. له هرولډ میکملن نه وروسته لارډ هوم د برتانیې وزیراعظم (۱۹٦۳-٦۴) وټاکل شو. د ټامسن د مشهور اخبار «ټایمز» د هغه وخت مسؤل مدیر ډېنس هملټن و. دی د یاد وزیراعظم له مقررۍ سره جوړ نه و. خو مسؤل مدیر د خاموشه پاتې کېدو په ځای د زړه له اخلاصه د نوي وزیر اعظم په ضد لیکنې پیل کړې.

د ټامسن لپاره دا ډېر زیات نازک حالت و. ده هڅه وکړه، چې خپل مسؤل مدیر د خبرو له لارې قانع کړي، خو هغه چې له خپلې خبرې وا نهوښته، نو د مدیر په ضد یې هېڅ ډول اقدام ونه کړ، بلکې په دې خبره یې دا مسئله ختمه کړه، چې دا ستا د کاري ساحې معامله ده. واک ستا په لاس کې دی، هر څه چې لیکې، لیکه یې.

د برتانوي تابعیت په اخیستو سربېره د ټامسن لپاره ظاهرا د «لارډ» کېدو امکان له نشت سره برابر شوی و. د ده ورځپاڼې پرلپسې د برتانوي وزیر اعظم په ضد تنقیدي مقالې خپرولې. مګر وزیر اعظم ډوګلاس هوم هم له ځانه ډېر لوړ ظرفیت وښوده. سره له دې چې دی په واک کې و، خو په خپل زړه کې یې د ټامسن په ضد د انتقام هېڅ ډول جذبې ته لاره ورنه کړه. او د هغه لپاره یې د لارډ لقب تصویب کړ.

همدا لوړ ظرفیت دی، چې افراد او ملتونه د پرمختګ لوړو هسکو ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جاپاني سرېي اسلام منل

مسیح محمد بدرالاسلام پنځه ځلوېښت کاله پخوا جاپان ته تللی و. د هندوستان حکومت نوموړی د ټوکیو د بهرنیو ژبو په پوهنځي کې د اردو او فارسي استاد په حیث ګمارلی و. په دسمبر ۱۹۳۰ کې د بحري جهاز له لارې دی جاپان ته ورسېده او تر اپریل ۱۹۳۲ پورې هماله مېشت و. هغه وخت کې ده د جاپان د حالاتو او د خپل سفر د خاطراتو په هکله په څلور سوه مخونو کې یو کتاب «د جاپان سیاحت» لیکلی و، چې په ۱۹۳۴ کې د انجمن ترقي اردو (دکن) چاپ کړ. په کتاب باندې د خپرندویې ټولنې نوم «جامع برقی پریس ډیلي» لیکل شوی دی. دلته د دې کتاب یوه برخه راوړو.

«پر ۹ ستمبر ۱۹۳۱ یو هندوستانی مسلمان تاجر ښاغلی احمد توکیو ته راغلی و. له ما سره د لیدو لپاره زما کور ته راغی. د ده پلار د ناسک اوسېدونکی و او مور یې یوه چینایي ښځه وه. دی په هانګ کانګ کې زېږېدلی. هماله یې زدکړې کړې. هندوستان ته هېڅ کله نه دی تللی او له دوه ویشت کلونو را هیسې په جاپان کې دی. همدلته یې له یوې جاپانۍ جینکۍ سره واده کړی. اوس مهال د سن لایف په نوم د بیمې د یوه شرکت اجنټ دی. ښاغلی احمد په انګریزي، اردو او جاپاني ژبو خبرې کولی شي. د ده له خولې پوه شوم، چې په کوبې (جاپان) کې د هندوستاني مسلمانانو شمېر شپېته او د روسي مسلمانانو شمېر تر سلو زیات دی. د کوبې مسلمانان تر اوسه پورې د جمعې او دوو اخترونو لمځونه د هندوستاني کلب په ودانۍ کې ترسره کوي، خو شاوخوا له دوو کلونو نه دا هڅه پیل شوې، چې یو جومات باید جوړ شي. د جومات ټول لګښت اویا زره جاپاني ین اټکل شوی دی، خو تر اوسه پورې د دې کار لپاره د چندې له لارې دیارلس زره ین را ټول شوي دي. دا مبلغ هم هغو هندوستاني تاجرانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړی دی، چې په کوبې کې خپل کاروبار لري. په هندوستان کې هم د چندې غوښتنه شوې، خو تر دې دمه یو شی هم لاسته نه دی راغلی. د چندې او جومات جوړولو لپاره یوه ټولنه جوړه شوې ده. ښاغلی احمد د دې ټولنې سکرتر دی. نو احمد صاحب په همدې موخه ټوکیو ته راغلی او له دولتي چارواکو سره د لیدو لپاره یې د «قربان علي آفندي» په نوم د یوه مسلمان روسي لیک راوړی، چې په ټوکیو کې د روسي مسلمانانو امام دی او له چارواکو سره ډېره زیاته راشه درشه لري او بانفوذه سړی دی.

په لس ستمبر ښاغلی عبدالغني، ښاغلی احمد او زه د قربان علی آفندي لیدو ته ورغلو. آفندي د منځنۍ عمر، چاغ او درونډ سړی دی. ډېره توده او له اخلاصه ډکه ستړې مشي یې وکړه. له یوولسو کلونو په جاپان کې مېشت دی. په جاپاني ژبه ښې رواني خبرې کوي، خو په انګریزي ژبه نه پوهېږي. د ده له خولې پوه شوو، چې په ټوکیو کې د روسي مسلمانانو شمېر له یو نیم سلو نه زیات دی. دا خلک په قوم تاتاریان دي، خو د روسي سلطنت اوسېدونکي دي. د شوروي روسیې حکومت له هېواد نه تبعید کړي. په جاپان کې دا خلک مزدوري او د لاس کارونه کوي. په زحمت او دیانت سره خپله مړی پیدا کوي او دا ټول په یوه کلي کې مېشت دي. د قربان علی آفندي له ډېرو هڅو وروسته یو جومات، یوه اسلامي مدرسه او یوه هدیره جوړ شوي دي.

د لګښتونو لپاره یې دوی په خپلو کې چنده سره اچوي، د چندې پیسې دومره په دیانت او پوهې سره په مصرف رسوي، چې همېش څه نا څه پیسې پس انداز هم پاتې وي. د چندې له پیسو نه یې یوه مطبعه هم جوړه کړې او په ترکي ژبه یوه درې میاشتنۍ مجله هم چاپوي. له قربان علي صاحب سره تر ډېره زموږ خبرې رواني وې.

**په دایرة المعارف کې د اسلام په هکله د مقالې لیکلو لپاره یوه جاپاني عالم اسلام مطالعه کړ، له اسلام نه دومره متاثر شو، چې اخر یې اسلام قبول کړ**



ده د خپلې ټولنې کیسې راته کولې. بیا یې له ځان سره په جومات او مدرسې را وګرځولو. همدلته په یوه خونه کې مطبعه وه. دلته قربان علي صاحب د خپلې مجلې «زاپون مخبري» څو ګڼې او د خپلې مطبعې د انځوریزو پوست کارتونو یو یو سېټ موږ درې واړو ته ډالۍ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سبا ماښام د آفندي صاحب کور ته ورغلو، په خوراکونو کې يې ډېر زيات تکلف کړی و. ډول، ډول ترکي او جاپاني خوراکونه د خوړو مېز ته را ورسېدل. ترکي خوراکونه ډېر زيات خوندور وو، او له هندوستاني او ايراني خوړو سره يې ډېر زيات نږدېوالی درلود. د خبرو په اوږدو کې آفندي وويل، چې تاتاري خلک غوښه، شات او چای ډېر زيات استعمالوي.

ډوډۍ ته د جاپان د وزير اعظم شخصي سکرتر هم را مېلمه و او په يوه خاص مصلحت يې را دعوت کړی و. پېژګلوي خو مو له ډوډۍ دمخه لا شوې وه. خو ډوډۍ چې وخوړل شوه، نو بيا مو د خپل مطلب خبرې ورسره وکړې. آفندي سکرتر صاحب ته د ښاغلي احمد د راتګ او په کوبې کې د وړانديز شوې جومات د جوړولو يادونه وکړه. او غوښتنه يې وکړه، چې موږ غواړو له وزير اعظم سره ووينو، تر څو حکومت هم په دې کار کې څه نا څه مرسته راسره وکړي، تاسو د ليدنې چاره راته وکړئ. او پخپله تاسې هم وزير صاحب ته سفارش وکړئ. هغه د دواړو خبرو ژمنه وکړه.

د جمعې په ورځ د لمانځه لپاره جومات ته ولاړو. پنځوس تنه لمانځه ته راغلي وو. هر يوه تر هيټ خولۍ لاندې يوه ورېښمينه ګرده خولۍ هم په سر کړې وه. په لاندې پوړ کې او په زينو کې ډېر زيات مبخکې په دېوال لګېدلي وو. ټولو خپل هيټونه په هغو را ځوړند کړل او له ګرديو خوليو سره په پورته منزل کې د لمانځه لپاره را ټول شول. ځينو خلکو په لاندې پوړ کې اودسونه هم وکړل. له لمانځه وروسته له يو بل سره په لاس ستړي مشي وشوه. همدلته مو له يوه جاپاني سره هم ليدنه وشوه. هغه هم لمانځه ته راغلی و. يوه روسي مسلمان ښاغلي صابر جميل ماته او جاپاني مسلمان ته چې سبورو نومېده، د چايو بلنه راکړه. صابر صاحب جومات ته څېرمه په يوه کوچني ښکلي کور کې اوسېده. د صابر صاحب درنې مېرمنې عايشې د مېلمنو ډېره زياته خاطر داري وکړه.

له ښاغلي سبورو سره مو د اسلام په هکله خبرې اترې وشوې. او په خبرو کې پوه شوم، چې د اسلام کومې ځانګړنې دی خپل ځان ته ور جذب کړی و. ده وويل، چې له ده نه غوښتنه شوې وه، چې په جاپاني دايرة المعارف کې د اسلام په اړه يوه مقاله وليکي، نو په دې ترتيب ده د اسلام په هکله مطالعه وکړه. له مطالعې او څېړنې وروسته په ناغوښتلي ډول د اسلام حقانيت ورته روښانه شو. او له هېڅ ډول خارجي هڅونې پرته په اسلام مشرف شو.

ده وويل، چې د اسلام ډېرې زياتې ښېګڼې دي. خو دوو ښېګڼو يې ډېر زيات اغېز راباندې وکړ. لومړی توحيد او دوهم مذهبي رواداري. ښاغلی سبورو په توکيو کې يوازنی جاپاني مسلمان دی. په ده سربېره په ټول جاپان کې د ګوتې په شمېر يو څو جاپاني مسلمانان دي. «د جاپان چکر / ۱۱۴-۱۱۱ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د فرصتونو بربادي

## دا کار نه دی، د کار فرصتونه بربادول دي

په اوسني دور کې د اسلام د مصلحینو یوه لویه اجتهادي تېروتنه دا وه، چې دوی په دې فکر و، چې په کومو هېوادونو کې چې مسلمانان په اکثریت کې دي او سیاسي اقتدار ورسره دی، هلته دوی په دې حالت کې دي، چې په هغو هېوادونو کې «د اسلامي قانون د نفاذ له غوښتنې نه خپل تحریک پیل کړي.» دا د افسوس تر بریده غلط اټکل و، چې له عملي پلوه یې بله هېڅ پایله ورنه کړه، مګر دا چې په خپلو هېوادونو کې یې د مخالفو ګوندونو په حیث غوغاوې وکړې او بیا له منځه ولاړل. حقیقت دا دی، چې د غیراسلامي اکثریت له لوري چې کومه مسئله په هغو هېوادونو کې موجوده ده چې هلته مسلمانان په اقلیت کې دي،  هماغه مسئله په هغو هېوادونو کې د نړیوالو حالاتو له لوري موجوده ده، چې هلته مسلمانان په اکثریت کې دي. بله دا چې په اسلامي هېوادونو کې پر ټولو دولتي ادارو هغه کسان ناست دي، چې زدکړې یې د غربي طرز په ادارو کې کړې دي، ځکه چې هماغوی د دې وړتیا لري، چې په اوسني عصر کې د یوه دولت چارې مخته یوسي، نو ځکه په اسلامي هېوادونو کې واکمنه طبقه هم له اسلام سره د طبیعي خواخوږۍ سره، سره فطرتاً دې ته غاړه نه ږدي، چې په خپلو هېوادونو کې د سوچه اسلامي حکومت د رامنځته کولو اعلان وکړي. په مثال کې یې مصر، پاکستان، اندونیشیا او داسې نور یادولی شو. په دې هېوادونو کې چې د اوسنۍ پېړۍ په منځنیو کلونو کې کوم اسلامي تحریکونه را پورته شول، هغوی له خپل ټول مقبولیت او پرمختګ سره، سره د اسلامي قانون په نفاذ کې خو برلاسي نه شوو، البته په یوه اسلامي هېواد کې د اوسېدو له امله په مؤثره طریقه د اسلامي دعوت د ترسره کولو لپاره چې کوم فرصتونه د دوی په لاس کې و، هغه هم د اختلافي او عکس العملي سیاست په پایله کې له منځه ولاړل. قاضي ابو یوسف (۷۹۸ـ    ) او شیخ احمد سرهندي (۱۶۲۵- ۱۵۶۴) چې په ترتیب سره د عباسي خلیفه هارون الرشید او مغلي پاچا جهانګیر سره په ګډه اسلام ته کوم خدمتونه وکړل، که د اوسنۍ زماني اصلاح غوښتونکو هم په همدې تګلاره پل اخیستی وای، نو تر اوسه پورې به د دین د خپراوي او اسلامي غلبې هغه کار سرته رسېدلی و، چې موږ یې لا تر اوسه یوازې په هکله غور او فکر کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټوکه

ابن الرومي (۲۸۴- ۲۲۱هـ) شاعر و. ده به د خلکو هجو ډېره ویله. د خلیفه معتضد بالله وزیر ابو الحسین قاسم بن عبدالله به تل په دې وېره کې وه، چې ابن الرومي یې هجو نه ولیکي او په خلکو کې یې ذلیل او رسوا نه کړي. ابوالحسین ډېر بې رحمه وزیر و. ده د دې ستونزې حل لاره دا ولیده، چې دا ستونزه باید له جرړو وایستل شي. یو ځل چې ابن الرومي د وزیر په مېلمستیا کې ډوډۍ ته ناست و، نو وزیر په پټه د ده په خوړو کې زهر ور ګډ کړل. ابن الرومي چې څو زهرجنې مړۍ وخوړې، پرې پوه شو او سمدستي له ډوډۍ نه پورته شو. له دې وروسته چې د دواړو ترمنځ کومې خبرې وشوې، هغه دا دي:

وزیر: ابن الرومي! چېرته روان شوې؟

ابن الرومي: چېرته مې چې ته لېږل غواړې.

وزیر: ښه ګوره! هلته چې ورسېدې، نو په پلار مې سلام وایه.

ابن الرومي: خو زه په دوزخ باندې نه تېرېږم.

## د اوسني عصر لویه مسئله څه ده؟

انساني تاریخ په دوو لویو دورو وېشلی شو – له ساینس نه مخکې دور؛ او له ساینس نه وروسته دور. نوی عصر په حقیقت کې د ساینسي دور یو بل نوم دی. دا دور په اوولسمه پېړۍ کې پیل شو او تر دوهمې نړیوالې جګړې پورې (۱۹۳۹ -۴۵) خپل وروستي عروج ته ورسېده.

انسان چې کوم کارونه له ظاهري پلوه سرته رسوي، د هغه لپاره دوه طبیعي سرچینې ورسره دي: یو حواس او بل ځواک. د حواسو په ذریعه انسان د شیانو علم ترلاسه کوي او د ځواک په ذریعه انسان خپله اراده پر دې شیانو نافذوي او د ځان لپاره یې په ګټورو توکو بدلوي. دا دواړه کارونه له لرغونو زمانو راهیسې ترسره کېږي. په پخوا زمانو کې د شیانو د علم لپاره له انسان سره یوازې هغه طبیعي ابزار وو، چې پنځه ګوني حواس یې بولي او په خارجي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ کې د تصرف لپاره خپل لاس او پښې ورسره وو او یا حیواني ځواک، مثلاً اوښان، اسونه، فیلان، غوبان او داسې نور. خو له دې ابتدایي طبیعي ابزارو ور اخوا هم په ځمکه کې ګڼ داسې شیان پراته وو، چې د دې شونتیا یې رامنځته کوله، چې د هغو په ترلاسه کولو سره انسان د خپلو حواسو او ځواکونو کچه لا ډېره لوړه کړي.

د ځواک لوړونې دغه عمل له نامعلومې زمانې را روان دی. د نابودو تمدنونو مطالعه راته وایي، چې په پخوا زمانو کې هم انسان په دې ډګر کې ډېر زیات پرمختګونه کړي دي. مګر د ماضي ټول پرمختګونه د ابتدایي طبیعي حدودو په دایره کې رامنځته کېدل. مثلاً د تیرو په ځای اوسپنه کارول یا خرخ لرونکې ګاډۍ په حیواناتو پسې تړل او د سورلۍ لپاره استفاده ورنه کول. د اوسني دور برتري دا ده، چې په معلوم تاریخ کې یې لومړی ځل ځواک ته د «ماشین» حیثیت ورکړ او د فطري حواسو لپاره یې داسې میخانیکي او تخنیکي کومکي وسایل کشف کړل، چې زموږ د مشاهدې او تجربې وړتیا په لسګونه زرګونه ځله ډېرولی شي.

د دې کشف نیغه په نیغه ګټه خو یوازې دا وه، چې د انساني تمدن لپاره د مادي پرمختګ یوه نوې پراخه دروازه پرانیستل شوه. د انسان لپاره دا ممکن شول، چې د خپل سفر د سرعت کچه تر بې بریده اندازې زیاته کړي. د ځمکې کومو وسایلو ته چې د دودیزو ابزارو په مټ لاسرسی شونی نه و، د هغو په ترلاسه کولو سره خپل کلي او ښارونه تر نا اټکله بریدونو پورې ښکلي کړي او د رغونې او ویجاړونې لپاره د مقدار او نوعیت له پلوه دومره ډېرو وسایلو ته لاسرسی ومومي، چې پخوانیو انسانانو به یې خوب هم نه و لیدلی.

خو د انساني تاریخ دومره لویه پېښه له غیر مستقیمو تاثیراتو پرته نه شوی پاتې کېدلی. دې پېښې ورو په ورو په انساني افکارو هم اغېزې وشیندلې، تر دې چې د نولسمې پېړۍ تر پایه پورې ټول بشري علوم له دې پېښې نه متاثر شوو. دین، اخلاق، فلسفه، قانون، اقتصاد، سیاست، لنډه دا چې هېڅ داسې علمي او فکري موضوع نه وه، چې ډېر ژور اغېز ته دې یې غاړه نه وي ایښې. طبعي ده چې دا اغېز یو طرفه و، ځکه فکري علومو پر ساینس هېڅ ډول اغېز ونه ښنده، او یوازې پخپله د ساینس د عمومي غلبې هدف وګرځېده.

ساینس په خپل ابتدایي شکل کې د فکري علومو موافق و، نه مخالف. انسان که د شمسي نظام د حرکت نقشه معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، یا له اتومات ماشین نه استفاده وکړي، نو په دې کې له اخلاقي او انساني ارزښتونو سره د تصادم اړخ چېرته دی؟ مګر د ساینس له راتګ سره بعضي داسې خبرې هم مخې ته راغلې، چې ساینس يې له فکري علومو په تېره مذهب او اخلاقو سره مخالف او متصادم کړ.

۱- د دین پیروانو د ساینس له راتلو دمخه د خپلو دودیزو معلوماتو له مخې خپل یو فکري نظام پنځولی و. د ساینس کشفونه او موندنې چې را برسېره شوې، نو ښکاره شوه، چې په دې خبرو کې ډېرې خبرې داسې هم دي، چې د ساینس له معلومې نړۍ سره هېڅ مطابقت نه لري. دا چې ساینس د خورا پرمختللو معلوماتي وسایلو په مټ خبرې کولې، نو په طبیعي ډول دا فکر رامنځته شو، چې سمه خبره هماغه ده، چې ساینس کړې وي. له دې پېښې سره د خلکو په سترګو کې دین بې اعتباره او بې باوره شو. دې مسئلې هغه مهال لا ډېر شدت ونیوه، چې کله مذهبي خلکو په تېره عیسویانو د خپلو دودیزو عقایدو د ساتنې لپاره د ساینس په خلاف ډېره سخته رویه ور خپله کړه. د هغوی له دې توند غبرګون نه خلکو دا پایله واخیسته، چې د مذهب او ساینس ترمنځ تصادم په حقیقت کې هم موجود دی او کله

چې د دلایلو منطق ډېر په صراحت سره د ساینس په خوا کې دی، نو یقیني خبره ده، چې مذهب یو بې بنیاده شی دی. او په حقیقت کې له توهم پرستی او خرافاتو پرته بل هېڅ شی هم نه دی.

۲- دوهمه غلطي ساینسپوهانو یا لږ تر لږه هغو کسانو وکړه، چې د ساینس له ادرسه يې خبرې کولې. په طبیعي نړۍ کې د خپلو فتوحاتو له امله دوی ته دا ورانپوهاوی ور پیدا شو، چې دوی اوس په دې مقام کې دي، چې د ژورو فلسفیانه مسایلو په هکله هم خپل نظریات او تیوری وړاندې کولی شي. حال دا چې، هغسې چې وروسته پخپله د ساینس له وروستنیو کشفونو معلومه شوه، چې د طبیعي نړۍ په اړه د دوی مشاهدات او معلومات د فلسفې یا د فکري نړۍ د باریکو مسایلو په هکله د تیوریو او نظریاتو د ورکولو په خاطر اصلاً کفایت نه کوي.

دلته به موږ د خپلې مدعا د وضاحت لپاره د دواړو تېروتنو یو، یو مثال راوړو.

د ځمکې او لمر د حرکتونو په هکله په لرغوني یونان کې دوه نظرونه وړاندې شوي وو. یو د ارسطو نظر و، یانې دا چې ځمکه ولاړه ده او لمر شاوخوا ترې څرخېږي. دوهم د ارستارکس نظر و، چې ویل يې ځمکه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمر نه را تاوېږي.

د عیسویانو په منځ کې د ارسطو نظریې ډېر زیات مقبولیت موندلی. ځکه چې د ځمکې د مرکزیت په نظریه کې ځمکې اساسي اهمیت موندلی و او دا چې عیسویانو حضرت مسیح ته خدایي مقام ورکړی و، نو د دې لپاره دوی په دې گمان شوو، چې هماغه ستوری د شمسي نظام مرکز کېدلی شي، چې خداوند مسیح په‌کې زېږېدلی وي. تر دې چې د ځمکې د مرکزیت نظریه عیسوي عالمانو په خپل علمِ کلام کې هم شامله کړه. خو کله چې کوپرنیکس (۱۵۴۳- ۱۴۷۳) د لمر د مرکزیت نظریه وړاندې کړه، نو په دې زمانه کې په اروپا کې د اقتدار واگې له عیسوي مشرانو سره وې. دوی د خپلې عقیدې د تحفظ لپاره د کوپرنیکس په خلاف د محکمې له لوري د سزا فرمان جاري کړ، ځکه د خدای د زوکړې سیمې ته د عادي سیارې حیثیت ورکول یو داسې جرم و، چې په هېڅ ډول د بښلو وړ نه و.

خو دا اصلاً د روایتي عیسوي مذهب مسئله وه نه په حقیقي معنا کې د خدایي مذهب مسئله. نو مسلمانان چې په دغه ډول عقیدوي ربړو کې ښکېل نه وو، چې خپل پیغمبر ته د خدای درجه ورکړي، نو هغوی د لمر د مرکزیت نظریه ډېره معقوله ولیده او همدا نظریه یې ومنله او له مسلمانانو سره دا پوښتنه پیدا نه شوه، چې د لمر د مرکزیت نظریه له مذهبي لاربښوونو سره ټکر لري یا نه.

«ارسطو ته له ټول درناوي سره، سره عربان د کایناتو په هکله د ارسطو پر نظریاتو باندې د تنقید په برخه کې هېڅ زړه نا زړه نه شول. د ارسطو نظریه دا وه، چې ځمکه د اسماني ستورو مرکز دی او ټول ستوري له ځمکې نه را تاوېږي. د دې برعکس عربانو دې امکان ته غاړه کېښوده، چې ځمکه په خپل محور باندې د حرکت په خوا کې له لمر نه هم را تاوېږي.»

Edward McNall Burns
Western Civilizaion, P. 264

د ساینسپوهانو د تېروتنې یو مثال د علت او معلول په قانون کې موندلی شو. د شیانو له مشاهدې وروسته چې کله ساینسپوهان په دې خبره پوه شول، چې د پېښو تر شا تل د یوه علت او سبب لاس وي، مثلاً د اسماني اجسامو د حرکت تر شا د جذب او کشش قانون، یا د شنې زرغونې تر شا د باران له څاڅکو نه د لمر د وړانگو تېرېدل؛ نو دوی فکر وکړ، چې نور یې هغه سوال ته ځواب موندلی دی، چې فلسفه ورپسې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرګونو کلونو راهیسې «د کایناتي علت» په لټون کې سرګردانه وه. حال دا چې د کایناتي علت مسئله له ډېرو ژورو سوالونو سره تعلق لري او د ساینسپوهانو طبیعي مشاهده په هېڅ صورت هم د دې وړ نه وه، چې د دغه نازک او عمیق سوال د ځواب لپاره استفاده ورنه وشي. خو دوی بیا هم استفاده ورنه وکړه، او تر هغه بریده یې وکړه، چې نور له خالق نه د انکار تر ټولو لوی ثبوت په لاس ورغی. خو د شلمې پېړۍ په ابتدا کې پخپله ساینس داسې حقایق کشف کړل، چې له هغه وروسته د الحاد بنیادونه د همېش لپاره را ونړېدل.

دا په لنډو ټکو کې هغه فکري شالید و، چې په اوسني تاریخ کې هغه پېښه پهکې رامنځته شوه، چې د مذهب او ساینس د ټکر په نوم یې وبلله.

ساینس د اوسني عصر په هر اړخ باندې ډېر شدید او پراخه اغېز شیندلی دی او د علم په ټولو څانګو او د فکر په ټولو کونجونو یې سیوری غوړېدلی دی. خلکو چې اسلام په کوم دودیز قالب کې موندلی و، هغه له یوې مخې له منځه تللی و او هغه نوی ذهني ساخت چې د ساینس تر سیوري لاندې ورغېده، له هغه سره سم د اسلامي افکارو بیاکتنه او رغونه ونه شوه. پایله یې دا شوه، چې د مسلمانانو نسلونه، نسلونه د تذبذب او فکري انتشار ښکار شول. دا په دې معنا نه ده، چې په هغه دور کې داسې خلک نه وو، چې اسلام یې له خپلو سینو سره ټینګ نیولی وو. بې له شکه چې داسې خلک وو او د میلیونو په شمېر کې وو. خو هغوی ته اسلام په دودیزه بڼه ور رسېدلی و، د شعور په سطحه کې یې نه و موندلی. د دې نقصان یوازنۍ پایله دا نه وه، چې خلک د ایمان هغې لوړې فکري سطحې ته ونه رسېدل، چې له هغه ځایه انسان د شاوخوا ټولې پېښې په داسې ډول د خپل شعور برخه ګرځولی شي، چې هرې خوا ته د خدای مظاهر ور ترسترګو شي. بلکې له دې نه هم لوی اجتماعي نقصان یې دا و، چې په هغه دور کې چې د مسلمانانو کوم مذهبي رهبران را پورته شول، هغوی پخپله هم داسې وو، چې د خپل عصر په فکري ساخت کې خپل دین نه و ور رسېدلی، بلکې دین یې د ماضي په روایتي قالب کې موندلی و. له دې امله هغوی له نوي عصر سره سم د اسلامي اهدافو لپاره پلان ګذاري ونه شوه کړای. په ډېر اخلاص خو په ډېرې ناپوهۍ سره دغو دیني رهبرانو مسلمانان په داسې لارو وځغلول، چې ټول ارزښت یې یوازې ماضي کې وو او د اوسني

(c) ketabton.com: The Digital Library

عصر په چوکاټ کې يې خپل ارزښت بايللی وو. هغوی د ماضي په تاريخ کې د حال ډرامه لوبوله، چې پايله يې صرف يوه دردناکه ماتې وه. دا چې دوی په هر سنګر کې ماتې وخوړه او دغه ماتې بلاخره د مايوسی، زړه ماتي او بې حوصلې توب پايله وزېږوله، نو ټول مسلمان ملت يې د مرګ خولې ته ورساوه.

په شعوري سطحه د دين د ترلاسي معنا دا ده، چې دين د خپل وخت د افکارو په مقابله کې د درېدو وړتيا ولري. د بدر (۶۲۴ز) په غزوه کې مجاهدينو وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ (انفال- ۶۰) په «توره» تفسير کړی و. خو که د شاملي (۱۸۵۷) مسلمانان هم د دې آيت همدا تفسير وکړي، نو وبه وايو، چې دوی قرآن کريم د خپل عصر مطابق نه دی موندلی. نن ورځ دغه آيت په «توره» تفسيرول، قرآن کريم د ماضي په ساخت کې ترلاسه کول دي. حال دا چې د تجديد معنا دا ده، چې قرآن د عصر په ساخت او نقشه کې ومونډل شي. د افکارو د بيان لپاره د شعر او وعظ ژبه کارول، د اسلامي احياء د غورځنګونو سياسي جنبه ور خپلول، وعظونه او فتواوې د امت د اصلاح لپاره کافي ګڼل، ټول د همدې رويې څرګندونې دي. په اوسني

عصر کې چې زموږ کوم اصلاح غوښتونکي را پورته شول، که هغوی خپل اسلامي شعور په عصري فکر او قالب کې موندلی وای، نو هغوی به پوهېدلی چې نن ورځ هغه کوم افکار او عوامل دي، چې په ټولنيزو علومو کې يې ټاکونکی حيثيت خپل کړی دی او د هغو په مقابل کې د اسلام د احياء پلان او لرليد بايد څرنګه جوړ شي. له دوی سره يوازې د دوديزې عقيدې سرمايه وه. او له همدې سرمايې سره دوی د وخت سمندر ته ور ښکته شول، خو په بدله شوې زمانه کې دغه ډول ايماني جذبې نه دوی کوم چېرته رسولی شوی او نه يې ورسول.

په نولسمه پېړۍ کې دا خبره د لمر په څېر روښانه شوه، چې د مذهب دوديز قالب په عصري قالب کې نه ځايېږي او دغه مربع د عصر په هغه دايره کې د ځايېدو نه ده، چې د ساينس په پايله کې رغېدلې ده. په دې وخت کې اړتيا وه، چې ډېر په زوره توګه دغه وضعيت ارزول شوی او يو نوی فکري قالب پنځول شوی وای، چې اسلام بېرته خپل اصلي حيثيت په‌کې موندلی وای. که په خپل وخت دا کار شوی وای، نو ساينس يا اوسنی عصر به نه يوازې د مذهب مخالف او رقيب نه ګرځېده، بلکې د اسلام د تقويې سبب به ګرځېدلی و او اسلام ته به يې نوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند ور ببنلی و. خو داسې ونه شول. عیسویت چې په سیاسي اقتدار خپل تسلط له لاسه ورکړ، نو د ماډرنیزم په صورت کې يې له ساينس سره جوړجاړی او تفاهم وکړ. مسلمانان چې له حق دين نه برخمن وو، نو په دې موقف کې وو، چې په نوي تاريخ کې دغه مهمه دنده ترسره کړي؛ هغسې چې په نهمه میلادي پېړۍ کې يې په بغداد او قرطبه کې د خپل عصر د ساينس او فلسفې په مقابل کې ترسره کړې وه. خو له بده مرغه، دا هغه مهال و، چې مسلمانو ملتونو د زوال څپېړه خوړلې وه، او نه هغه پخوانۍ حوصله پهکې پاتې وه او نه له فکري لوړتيا برخمن وو. بله دا چې د عصري اقتصاد په نړۍ کې د محروميت له لاسه دوی د دې جوګه هم نه وو، چې دغسې يوه اغېزناک کار ته دې اوږې ورکړای شي. د خپلې پسماندګۍ له امله مسلمانانو ان دا هم ثابته نه کړه، چې دوی د خپل عصر په مسئلې سم پوه شوي دي. دا خو ايسته کېږده، چې له دوی دا تمه وشي، چې دغه مسئله يې ژوره ارزولې او د ژوند په نوي ساخت کې يې مذهب ته د هغه اصل مقام ور ببنلی وای.

اوسنيو حالاتو زموږ لپاره دوه ډوله مسایل را پورته کړي، يو فکري او بل عملي.

د لومړنۍ ډلې په اړه مهمترين کار دا دی، چې د اسلام عقايد او احکام د استدلال په عصري اسلوب کې ترتيب شي، تر څو اسلام خلکو ته د «نن ورځې شی» ښکاره شي. نه دا چې لوستونکی وانګېري، چې دا د هغې زماني شيان دي، چې انسان لا په قبيلوي ټولنه کې خپلې ساوې لندولې.

له نوي يا عصري اسلوب نه مراد دا دی، چې د ليکنې اسلوب او د استدلال مواد دواړه د نويو علمي معيارونو مطابق وي. په اوسنۍ زمانه کې د ليکنې اسلوب په بشپړ ډول بدل شوی دی. په پخواني دوديز اسلوب کې به واعظانه طرز غالب و. اوسمهال ساينسي او تحليلي اسلوب د خوښې وړ ګرځېدلی دی. پخوا به فکر دا و، چې د عبارت په منځ کې د شعرونو راوړل، د لفاظۍ زور ښودل، يا مسجع عبارتونه ليکل پخپله د ليکنې ارزښت ور لوړوي. اوس دا ټول شيان د عيب وړ ګڼل کېږي. د ادب په پخواني تصور کې د غشي او خنجر غوندې جملې، مخاطب ته تېز تېز څوابونه ور غبرګول، او جذباتي ډوله عبارتونه ډېر زيات د خوښې وړ اسلوب وو. خو اوس دا ټول شيان د علم له شان او مقام سره خلاف ګڼل کېږي. په پخواني ذوق کې مبالغه آمېزه کلمو، رنګينو ترکيبونو او استعارو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشبیهاتو ته د ادب د کمال په سترګه کتل کېدل. خو اوسمهال یو تعلیم یافته بنیادم د دغه ډول لیکنو لوستل هم لا نه خوښوي.

همدا حال د موادو هم دی. په پخوا زمانو کې د یوې خبرې د ثابتولو لپاره دا کافي وه، چې انسان د خپل لیدلوري په ملاتړ کې یو مثال وړاندې کړي او یا یو حکایت تېر کړي. خو اوس دې خبرې خپل اعتبار بایللی دی، چې یو شخص دې په دغه ډول شیانو خپله خبره ثابته کړي. په پخوا زمانو کې د یوې حوالې لپاره عددي دقت یا د پېښې تعین اړین نه بلل کېده، خو د اوسني ذوق لپاره هغه وینا بې معنا وي، چې ټاکلې او مشخصه ژبه په‌کې نه وي کارول شوې. په پخوانی طریقه کې د استدلال بنیاد په ټوله کې په قیاسي منطق ولاړ و. خو اوسمهال قیاسي منطق خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. اوس په تاریخي، مشاهداتي او تحلیلي اسلوب کې د خبرې ثابتولو ته د ثبوت نوم ورکول کېږي. په پخواني طرز کې به انسان مناظره کوونکی او مبلغ و او د وکیل په څېر به یې په بربنډ انداز کې له خپل لیدلوري خبرې کولې. خو اوسمهال بې پرې او غیرشخصي تحلیل ته د معیاري طرز په سترګه کتل کېږي.

په تېرو سلو کلونو کې زموږ په خوا کې بې شمېره کتابونه لیکل شوي دي. په دې کې یې ډېر شمېر کتابونه په خپل ځای ارزښتناک هم دي. خو د اوسني عصر له مخې د هغو افادیت مازې جزوي غوندې دی ځکه چې زیاتره کتابونه یوازې د واعظانه نثر بېلګې دي. د استدلال په ساینسي طرز کې لیکنی کار لا هم زموږ په خوا کې تقریباً د صفر په درجه کې ولاړ دی. همدا وجه ده، چې زموږ تعلیم یافته ځوان آن په اسلام باندې د پوهېدو لپاره هم د ختیځپوهانو کتابونه لولي، چې سره له دې چې زموږ په نزد به غلط وي، خو د خپل طرز او اسلوب له مخې له عصري معیار سره برابر وي. د مسلمانو لیکوالو کتابونه د ننني مسلمان ځوان ذهن نه شي تسکینولی.

د عملي مسایلو فهرست، چې د حل کولو لپاره یې د وخت په سیاسي نظام کې بدلون ضروري دی، ډېر اوږد دی. د وخت سیاسي نظام، له ملي او بین المللي دواړو پلوه، له یوه سره په ناخدایي بنیادونو ولاړ دی. د دغه نظام د قالب دننه د دین په اجتماعي قوانینو عمل کول ناشونی دی. خو په دې برخه کې د اسلام نبودلې تګلاره له هغې لارې سره له یوې مخې فرق لري، چې عموما یو انقلابي رهبر یې غوره کوي.

په اوسنی زمانه کې اسلامي غورځنګونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې حل لاره دا راويستلې، چې د شته نظام گرېوانه ته لاسونه ور واچوئ. دوی په دې نظر دي، چې که چېرته اجتماعي اسلام ته مو لاسرسی نشته، نو د هغه د ترلاسي لپاره خو مو مرگ په وس کې شته، نو بيا ولې د «بې ايمانه» ژوند په ځای «با ايمانه» مرگ ته لومړيتوب ور نه کړو؟

د دې خطرناک ورانپوهاوي وجه دا ده، چې په اوسني عصر کې د امت مصلحين په دې خبره پوه نه شول، چې د اجتماعي (سياسي) اسلام لپاره د هلو ځلو د پيل نکته اجتماعي اسلام نه دی، بلکې دعوت او تبليغ دی. زموږ د کار پيل د اسلامي نظام د قيام لپاره له مخامخ اقدام څخه نه پيلېږي، بلکې د دين د اساساتو په لور له دعوت او تبليغ نه سرچينه را نيسي. په مکه کې چې کله نبي کريم ص ته د اسلامي جد و جهد امر وشو، نو دا نه و ورته ويل شوي، چې د مکې په پارلمان (دارا الندوه) کې د استازولی غوښتنه وکړه يا د کعبې په توليت باندې د غلبې هڅه وکړه. بلکې د توحيد او انساني وروروگلوی پورې اړوند ساده لارښوونې پرې نازلې شوې او امر ورته وشو، چې همدا خبرې خلکو ته تبليغوه. او له دې ور اخوا، هغه شيان چې د ترلاسي لپاره يې سياسي انقلاب ضروري دی، د هغو په اړه ورته امر وشو، چې د غرض کولو په ځای پر هغو صبر او زغم ولره او تر هغه وخته په تمه شه، چې الله تعالی په حالاتو کې داسې بدلون را ولي، چې د نورو مسايلو حل‌لاره په‌کې راووځي. (يونس - وروستي ايتونه) په دې برخه کې د اسلام اصول دا دی، چې د امکان په دايره کې په دين عمل وکړئ او دعوتي هلې ځلې پيل کړئ، او پاتې چارې په متوقع الهي نصرت ور وسپارئ. د دعوت او تبليغ له حکم وروسته د دې خبرې وَلِرَبِّكَ فَاصْبِرْ (مدثر) معنا همدا ده، چې د ديني اساساتو په لور د سوله ييز تبليغ او غيراسلامي تسلط له کبله چې کومې ستونزې او ربړې در پېښېږي، نو پر هغو صبر وکړئ، همدا د ټولو انبياوو تگلاره وه او همدا بايد نن ورځ د هغو خلکو تگلاره وي، چې په مخالف چاپېريال کې د اسلام د احياء لپاره راپورته کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# انګېزه يې دنیاپالنه ده

## د دې انګېزه دنيوي ده نه ديني

يوه ښاغلي په ډېره تونده ژبه وويل، «مولوي صاحب، دا تاسې ملایان په خپلو ديني مسؤليتونو کې بالکل پاتې راغلي یاستئ.»

«ولې؟»

«تاسې تر اوسه پورې خلکو ته دا ونه شو ويلی، چې د نفوسو کنټرول روا دی که ناروا. يو ملا وايي، چې روا دی. بل وايي چې ناروا دی.»

نن ورځ دغه ډول خبرې ډېرې زیاتې اورېدل کېږي. آيا د دې وجه دا ده، چې له خلکو سره د خپل ژوند په معاملاتو کې په روا او ناروا د پوهېدو فکر ډېر شوی دی؟ او غواړي، چې په دې مسئله کې د اسلام دقيق حکم معلوم کړي او په صفا زړه سره عمل ورباندې وکړي؟

د تجربې له مخې ويلی شو، چې خبره داسې نه ده. له دې نه مخکې بې شمېره علماوو په يوه خوله په ښکاره ټکو کې ګڼې فتواوې ورکړې دي. مثلاً دا چې د نصاب په ښبنتن باندې هر کال له خپل مال نه زکات ورکول فرض دي. که يو کس د نصاب ښبنتن وي، خو زکات نه ورکوي، نو ټول مال يې ورته حرامېږي، تر هغو چې له قاعدې سره سم زکات يې نه وي ورکړی. آيا د دې مسئلې له بيانولو وروسته ټولو مسلمانانو له خپلو مالونو هر کال زکاتونه وايستل؟

علماوو په وار وار مسلمانانو ته د شريعت دا حکم ښودلی دی، چې د يوه مسلمان لپاره د بل مسلمان ځان، مال او ناموس حرام دی. نو آيا داسې وشول، چې هر مسلمان دې د بل مسلمان ورور ياد شيان د خنزير غوندې حرام حلال ګڼلي وي او ځان دې يې ترې ساتلی وي. علماوو څو څو ځله په خپلو وينااوو او ليکنو کې ويلي دي، چې «د مرستې طلب» يوازې له الله تعالی نه پکار دی. غير الله ته چيغې وهل، یا د مرستې لاسونه ورته لپه کول مطلق حرام دی. آيا له دې وروسته ټولو مسلمانانو له غيرالله نه مرسته غوښتل پرېښودل او يوازې خدای ته يې د هيلو لمنې وغوړولې او د هماغه لور ته يې ور ودانګل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

**قناعت** شفيق احمد، انباله – ډيلي

ويل کېږي، چې مالک دينار رح د رابعه بصري رح حضور ته ورغی او ويې ليدل، چې په رابعه په ماته کوزه اودس کوي. يو زوړ ليمڅی يې بستره ده او د تکيې په ځای کې يې تېږه ورته ايښې ده. له ډېره درده يې رابعې ته وويل:

«اې رابعې! زه له شتمنو خلکو سره راشه درشه لرم. که ستا اجازه وي، نو ستا ياده ورته وکړم؟»

رابعه بصري ځواب ورکړ: «آيا هماغه يو خدای ټولو ته روزي نه ورکوي؟ آيا له هغه نه درويشانو ته روزي ورکول هېر شوي او يوازې شتمنو ته يې روزي ورکول په ياد دي؟»

مالک دينار رح وويل: «نه.»

رابعه بصري ځواب ورکړ: «نو بيا يې ور يادولو ته څه اړتيا ده؟»

دغه ډول بې شمېره مثالونه دا ښيي، چې د علماوو له ځرګندو فتواوو سره سره هم خلکو د شريعت د احکامو هېڅ باک نه دی وړی. او د ژوند ځرخ يې په خپل حال روان دی. نو بيا څه وجه ده، چې د نفوسو د کنټرول په معامله کې خلک دومره نارامه دي، چې شريعت يې بايد لاسنيوی وکړي.

د دې وجه د خلکو دنياپرستي ده، نه آخرت پسندي. په اصل کې د اولاد داری هيلې په دې مسئله کې خلک جذباتي کړي دي، نه د شريعت داری جذبې. هغه مسايل چې په هغو کې دوی د خپلې دنياپالنې د ذهنيت له امله په شوق راغلي وي، په هغو کې دوی شريعت هم له ځان سره د يوه تائيدوونکي عنصر په توګه ور ګډول غواړي او کومو معاملاتو ته چې د دوی دنياپاله ذهنيت هېڅ ارزښت نه ورکوي، په هغو کې دوی په شرعي حکم هم پوهېدو ته هېڅ اړتيا نهويني.

راځئ يو مثال يې وګورئ. له ازادی وروسته حکومت فيصله وکړه، چې په دولتي تعليمي مرکزونو کې به سيکولري زدکړې کېږي او د يوه خاص مذهب تعليم او تربيه به پهکې ممنوع وي. دا ډومره مهمه مسئله وه. خو په دې هکله په مسلمانانو کې هېڅ خاصه نارامي جوړه نه شوه. ولې؟ ځکه چې د دې پرېکړې له امله د دوی دنياپاله ژوند ته نېغ په نېغه کومه ستونزه نه جوړېده. له دې پرېکړې سره خو د اخرت د خرابېدو وېره وه نه د دنيا. او چې دنيا دې سلامته وي، نو بيا پرېشانېدو ته څه اړتيا ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د اختلاف زیانونه

## خپلمنځي جګړه له اسمانه راغلې مرسته بېرته ستنوي

په اسلام کې اتفاق او يو والی ډېر زيات اهميت لري. د دې تر ټولو نازک اړخ دا دی، چې هغه مسلمانه ډله له الهي نصرت نه بې برخې کېږي، چې افراد يې په خپل منځ کې له يو بل سره لاس و ګرېوان وي. په حديث کې راغلي، چې د ليلة القدر د تعينولو علم يوازې د دې لپاره بېرته واخيستل شو، چې په مدينه کې دوه مسلمانان سره په جنګ شوي وو.

«عن عباده بن الصامت قال خَرَجَ النبيُّ صَلّى اللهُ عليه وسلَّمَ لِيُخْبِرَنَا بلَيْلَةِ القَدْرِ فَتَلَاحَى رَجُلَانِ مِنَ المُسْلِمِينَ فَقَالَ: خَرَجْتُ لِأُخْبِرَكُمْ بلَيْلَةِ القَدْرِ، فَتَلَاحَى فُلَانٌ وفُلَانٌ، فَرُفِعَتْ»

عباده بن صامت وايي، چې رسول الله ص يوه ورځ ووت چې موږ په ليلة القدر خبر کړي چې په کومه ورځ ده. په دې وخت کې دوه مسلمانان (د پور له امله) سره په جنګ شول. نو نبي کريم ص وفرمايل: زه د دې لپاره ووتم، چې تاسې ته د قدر د شپې احوال راوړم. خو پلانکی او پلانکی په خپلو کې په جنګ شول، نو د ليلة القدر علم بېرته اسمانونو ته هسک شو.

ابن کثير ليکي، «له دې حديث نه ښکاري، چې اسلام جنګ او جګړې ته په څومره بده سترګه ګوري، تر دې چې د جنګ له امله لوی، لوی برکتونه بېرته اخيستل کېږي.»

# د ملت تعمير

د مصر سلطان صلاح الدين (۱۱۹۳- ۱۱۳۷) او د هندوستان سلطان ټيپو (۱۷۹۹- ۱۷۵۱) دواړه د ايماني جذبې، شجاعت او جنګي وړتياوو له مخې د يوې کچې خلک وو. دواړه له «غربي ځواکونو» سره مخ شول. خو صلاح الدين د فلسطين فاتح شو حال دا چې د ټيپو په برخه کې يوازې دا ليکل شوي و، چې له خپل حريف نه ماتې وخوري او د شهادت کاسه په سر واړوي. د دې فرق ترشا هېڅ کوم جادويي راز نه و، بلکې يو ډېر ساده حقيقت دی: سلطان ټيپو اتلسمه پېړۍ ومونده او دا هغه مهال و، چې په جګړه ييز ډګر کې د غرب سکه چلېدله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

غرب د خپلو دودیزو لاسي وسلو په ځای ډېرې غوره لر ویشتونکې وسلې ایجاد کړې وې او په بحري ځواک یې بشپړه غلبه موندلې وه. د دې برعکس سلطان صلاح الدین ته په دوولسمه پېړۍ کې د فعالیت فرصت په لاس ورغلی و او دا هغه وخت و، چې مسلمانانو په جګړه ییز صنعت کې د نړۍ رهبري کوله. په دې زمانه کې په شام، مصر او عراق کې ګڼې داسې کارخونې وې، چې د هغې زمانې د نړۍ تر ټولو غوره جنګي وسایل به په‌کې جوړېدل. په عباسي دور کې د رومي بریدونو په دفاع او د صلیبي جګړو په دور کې د اروپایي قومونو د یرغلونو په مخنیوي کې د دغو وسلو ډېر لوی لاس وو. په تېره د صلیبي جګړو په زمانه کې په دې سیمه کې جنګي صنعت ډېره زیاته وده وکړه. تر دې چې د صلیبي جګړو په زمانه کې به چې د سولې وقفه راغله، نو د اروپا خلکو به خاص د وسلو د اخیستو لپاره د شام او مصر بازارونو ته مخه را کوله. تر دې چې په دې زمانه کې مسلمانو علماوو له ناچارۍ دا فتوا ورکړه، چې په عیسویانو باندې د وسلو پلور حرام دی، ځکه چې له موږ نه اخیستې وسلې به بېرته زموږ په ضد کاروي.

همدا هغه ځواک دی، چې په قرآن کې ورته مرهبه ځواک (انفال- ٦٠) ویل شوي دي او حکم شوی دی، چې دغه ځواک تر دې بریده ترلاسه کړئ، چې په نورو باندې مو رعب او دبدبه کېني.

د مرهبه (وېروونکي) ځواک دوه درجې دي. یو هغه چې په ټولو مسلمانانو پورې تعلق نیسي او هره مسلمانه ډله تر خپله وسه د هغه د ترلاسي لپاره هلې ځلې کولی شي. بله درجه یې هغه ده، چې په یوې داسې اسلامي ټولنې پورې تعلق نیسي، چې په واک او اقتدار کې وي. په اوسنۍ زمانه کې دا دواړه ځواکونه په څه معنا دي او په څه ډول یې ترلاسه کولی شو، د دې پوښتنو د وضاحت لپاره به موږ د جاپان او روسیې مثالونه ورکړو.

په دوهمه نړیواله جګړه (١٩٣٩- ٤۴) کې چې جاپان ماتې وخوړه او د جاپان له بې وسلې کولو وروسته امریکایي پوځونو په دې هېواد منګولې خښې کړې، نو د جاپان لپاره د نظامي او سیاسي هلو ځلو ټولې دروازې وتړل شوې. په دې شېبه کې د جاپان امپراتور هیروهیټو (١٩٠١-     ) یوه وینا وکړه او ویې ویل «موږ باید نه زغمېدونکي وزغمو، تر څو د جاپان د راتلونکو نسلونو د بیارغونې چاره وکولی شو.» نو په هغه وخت کې جاپان په غیر سیاسي ډګرونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د پرمختګونو لاره ونیوله. خپلو ښوونکو ته یې د وزیرانو او قاضیانو صلاحیتونه ورکړل تر څو تعلیمي معیار خپلو وروستیو هسکو ته ورسوي. رسنیو ته یې دومره ترقي ورکړه، چې نن ورځ په ټوله نړۍ کې تر ټولو ډېر چاپېدونکی اخبار جاپاني اخبار دی. په ساینس او ټکنالوژي کې یې دومره کمال پیدا کړ، چې د خامې اوسپنې له نشتوالي سره سره د نړۍ تر ټولو لوی ماشین (سوپر ټینکر) جاپان جوړوي. خپل تولیدات یې د کیفیت له پلوه دومره لوړ کړل، چې په یو تولید کې یې نقص صفر درجې (zero defect) ته راټیټ کړ. ملي احساس او نظم او دسپلن ته یې دومره وده ورکړه، چې نن ورځ د نړۍ بل هېڅ قوم په دې برخه کې له جاپان سره ښکر نه شي جنګولی. دا پرمختګونه سره له دې چې په ښکاره معنا غیر نظامي او غیر سیاسي وو. خو دا پرمختګونه دومره زورور ثابت شوو، چې له هغه وروسته امریکا له جګړې او مقاومت پرته د جاپان له خاورې نه خپل پوځونه بېرته ور وغوښتل.

د رغونې او پرمختګ دا ډګر، تر خپله وسه د هرې مسلمانې ډلې لپاره پرانیستی دی، هغه که په اقلیت کې وي یا په اکثریت کې. واکمنه ډله وي یا بې واکه ډله. د همدې پرمختګونو له امله د افریقا په ګڼو هېوادونو کې وضعیت دا دی، چې د هېواد په نفوسو کې مسلمانان په اکثریت کې دي، خو له عملي پلوه په سیاست او نورو ټولنیزو بخشونو باندې عیسویانو ولکې ټینګې کړې دي. ځکه هغوی په علم او ساینس، ټکنالوژي او صنعت او نظم او دسپلن کې له مسلمانانو نه ډېر مخکې دي. مثلاً د نایجریا په نفوسو کې د مسلمانانو شمېر ٦٥ سلنه دی او عیسویان یوازې ٢ سلنه دي. خو په ۱۹۴۷ کې د هغه ځای په پنځلس کسیزه کابینه کې پنځه مسلمان وزیران وو او لس عیسوي وزیران. د دې فرق وجه په زدکړو کې د عیسویانو برتري او د مسلمانان وروسته والی دی. په دولتي ښوونځیو کې د مسلمانو زده کوونکو شمېر له ٢٥ سلنه څخه نه لوړېږي. د لوړو زدکړو په ډګر کې تناسب لا ډېر راټیټېږي، خو په عیسوي زده کوونکو سره له دې چې دوی په هېواد کې دوه سلنه دي، ټولې تعلیمي ادارې ډکې وي.

له یوې بلې زاویې یې ښه مثال روسیه ده. له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته امریکا د خپلې سیالې شوروي روسیې په ضد یوه طرحه جوړه کړه. د دغې طرحې له مخې، د روسیې له سرحدي هېوادونو سره یې تړونونه وکړل او هلته یې خپلې پوځي اډې جوړې کړې تر څو روسیه په خپل ورغوي کې را ټوله کړي. ناټو (NATO)، سیټو (CEATO) او سنټو

(c) ketabton.com: The Digital Library

(CENTO) همدغه ډول معاهدې وې، چې امریکا خپله جنګي ماشینري له اتلانتیک نه واړوله او اروپا، شمالي افریقا او اسیا ته یې ورسوله. او په دې ډول د خپلو لسګونو نظامي اډو له لارې د دې جوګه شوه، چې کمونیستي نړۍ د هغې له پولو نه خپل هدف وګرځولی شي. د دې معنا دا وه، چې روسیې خو باید په خپل دښمن باندې د وار کولو لپاره د ځمکې ځلورمه برخه واټن لنډ کړی وای، خو امریکایي اډې د روسیې پولو ته دومره نږدې وې، چې له پنځو تر لسو دقیقو پورې یې د شوروي روسیې ټول مهم ځایونه په نښه کولی شوی.

اوس روسیې دا کار وکړ، چې د ساینسپوهانو یو پوځ یې په دې هدف وګماره، چې داسې تېز رفتاره وسلې ایجاد کړي، چې د ماسکو واکمن له خپل هېواد نه دننه د امریکا هدفونه په نښه کړای شي. په سپتمبر ۱۹۵۹ کې چې د لیونک ۲ فضایي توغندی له اټکل سره سم سپوږمۍ ته ورسېده، نو دا د دې خبرې په پټه خوله اعلان و، چې د دوی ځېرنه بریالۍ شوې ده. له ځمکې نه تر سپوږمۍ پورې فاصله له روسیې نه تر امریکا پورې د فاصلې په نسبت پنځوس چنده زیاته ده. نو دغه تېز رفتاره توغندی چې د ماشینونو صندقونه سپوږمۍ ته رسولی شي، نو د بمونو توپونه هم په لرې هېوادونو غورځولی شي. د لرواټنه کنټرول کومه وړتیا چې په فضایي پرواز کې ښودل شوې وه، هغه د دې خبرې د ثبوت لپاره کافي وه، چې اټومي بمونه او هایډروجني بمونه هم په لرې ځمکنیو هدفونو باندې په ډېر دقیق ډول غورځول کېدای شي. د دغه ایجاد صحنې ته راتلل و، چې د امریکا ټوله نظامي طرحه او تګلاره د شګو د محل غونډې په څمکه را نسکوره شوه.

روسیې ته ځمکنی چیلنج ورکول شوی و. خو روسیې ورته اسماني حل لاره را وایستله. له دې معلومه شوه، چې په دې دنیا کې د پرمختګ لپاره هېڅ حد نه دی ټاکلی. حقیقت دا دی، چې په دې کاینات کې الله تعالی د ځواک او قوت بې شمېره امکانات ایښي دي او چې حوصله او همت درسره وي، نو د هرې ستونزې لپاره داسې برتره حل لاره موندلی شو، چې د دښمن ټولې هڅې او دسیسې د بطل ما کانوا یعملون (اعراب- ۱۱۸) مصداق وګرځي.

سره له دې چې په دې دنیا کې د ایمان د خاوندانو اصلي دنده دعوت او تبلیغ دی، خو دا هم حقیقت دی، چې دا دنیا یوه مادي دنیا ده، او دا واقعیت دی، چې دلته د حق مخالفت کوونکي ډلې هم تل موجودې وي. نو پر مؤمنانو لازمېږي، چې هغوی د مادي اسبابو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترلاسي لپاره هم تر وسه وسه پوره هلې ځلې وکړي. نبي کريم ص د نبوت په ديارلسم کال له مکې نه په خورا نشتو امکاناتو هجرت وکړ. خو له هجرت نه لس کاله وروسته يې چې کله د مکې د فتحې لپاره حرکت وکړ، نو يوې خوا ته يې تبليغي هڅې دومره زياتې خورې شوې وې، چې لس زره مېړني ورسره ملګري وو. او بلې خوا ته يې د چمتووالي حال دا و، چې دوه زره جنګيالي يې په داسې ډول په زغرو کې پوښلي وو، چې يوازې سترګې يې ښکارېدلې (لا يرى منهم سوى الحدق، طبرى).

په اوسنۍ زمانه کې په دې سنت باندې د عمل کولو اهميت تر پخوا لا ډېر زيات شوی دی. نن ورځ په جنګونو کې د انساني متو په ځای د ماشين ارزښت دومره ډېر شوی دی، چې د پوځي نسلونو لرغونی تصور اوس د ماضي افسانه ګرځېدلې ده. دغه راز اقتصادي سرچينو په اوسنۍ زمانه کې دومره پراختيا موندلې ده، چې ټول انساني ژوند يې تابع شوی دی. په لرغوني زمانه کې دعوت او تبليغ له اقتصاد سره نېغه په نېغه کومه اړيکه نه لرله، خو که نن ورځ تاسې وغواړئ چې «قلم» د دعوت او تبليغ لپاره وکاروئ، نو له لويو اقتصادي وسايلو پرته يې اصلاً په اغېزناکه بڼه نه شئ کارولی. بيا چې کله دې واقعيت ته وګورو، چې نور اديان د الوتکو او راډيوګانو له لارې د خپل دين تبليغ کوي، نو دغه اقتصادي ضرورت سلګونه چنده نور هم لوړ شي. دغه راز د شخصي اړتياوو لپاره هم نن ورځ د اقتصادي وسايلو اهميت له تېرو ټولو زمانو نه ډېر شوی دی. نن ورځ د انسان واقعي اړتياوې دومره ډېرې شوې دي، چې د لرغوني طرز افسانوي ژوند تېرول اوسمهال اصلاً ممکن نه دی.

د مسلمان اصلي مسؤليت د دعوت او تبليغ مسؤليت دی. خو پورتني علتونه د دې غوښتنه کوي، چې د تبليغ په خوا کې اقتصادي هلې ځلې هم په پوره معنا ترسره شي، تر څو مسلمانان په معاصر اقتصاد کې هم خپله حقه برخه ترلاسه کړي، له انفرادي پلوه هم او له ملي پلوه هم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# آواز

## آواز: د فطرت هېښوونکې پدیده

موږ چې خبرې کوو، نو زموږ اواز د غږيزو څپو په بڼه په هوا کې داسې سفر کوي لکه د اوبو په سطحه چې څپې جوړېږي او همداسې پسې زياتېږي. د دې لپاره چې د يوه کس د خولې اواز تر تاسو در ورسېږي، نو بايد ترمنځ مو هوا موجوده وي. که د هوا دغه منځنۍ وسيله نه وي، نو دوه خوا په خوا ناست کسان به د خبرو په وخت کې د يو بل د شونډو خوځښت ويني، خو د يو بل اواز به نه اوري.

په دې خبره به په يوه مثال کې ځان پوه کړو. د ښيښې په فانوس کې برېښنايي گنټۍ کېږدئ او بيا يې وغږوئ. د گنټۍ اواز به ډېر صفا واورئ. خو که له فانوس نه ټوله هوا وباسو او سر يې ور بند کړو او بيا گنټۍ وغږوو، نو تاسو به د ښيښې دننه د گنټۍ غږېدل په سترگو وينئ، خو اواز به يې نه اورئ. ځکه چې د گنټۍ د غږېدو له امله چې کومې څپې سازېږي، د هغه لپاره د ښيښې دننه هوا نشته، چې دغه اواز ورسره را واخلي او ستاسې تر غوږونو يې در ورسوي.

خو د راډيويي پيغام رسونې لپاره د هوا وسيله کفايت نه کوي. ځکه چې د هوا له لارې زموږ اواز په پنځو ثانيو کې يوازې يو ميل واټن وهي. د دې معنا دا ده، چې د هوا وسيله يوازې په نږدې چاپېريال کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرو اترو لپاره ګټوره ده او زموږ اواز تر لرې واټن پورې نه شي رسولی. دا خبره په دې ډول وګورئ، چې که چېرته موږ غواړو، چې له هندوستان نه خپل اواز امریکا ته واستوو، نو د هوا په سرعت سره به ستاسو اواز خپل هدف ته په اوو ساعتونو کې رسېږي. ښکاره ده، چې له هغه لوري نه به هم د ځواب راتلو ته همدومره وخت پکارېږي. یانې له نوې ډیلي نه چې یو کس په نیویارک کې مېشت خپل ملګري سره په ټلیفون خبرې کوي، نو د پورتني سرعت له مخې به د یوې جملې د ځواب اورېدو لپاره به د نوې ډیلي شخص څوارلس ساعتونه انتظار تېروي.

که اواز یوازې د هوا له لارې لاره وهلی، نو بیا یې له یوه ځایه بل ځای ته رسول ناشوني و. خو طبیعت د دې هدف لپاره موږ ته یوه بله خورا چټکه وسیله هم را پېرزو کړې ده. دغه وسیله رڼا یا برقي څپې دي، چې سرعت یې په یوه ثانیه کې ۱۸۶۰۰۰ میله نه هم ډېر دی. په راډیویي پیغامونو کې له همدغې وسیلې نه کار اخیستل کېږي.

کله چې وینا وال د راډیو په خونه کې له مایکروفون سره نږدې اواز تولیدوي، نو مایکروفون اواز ورسره اخلي او په برقي څپو یې تبدیلوي او د تار په وسیله یې سمدستي د نشر آلې «ټرانسمیټر» ته ور استوي. د نشر آلې ته چې اواز ورسېږي، نو دغه څپې په اهتزاز بدلېږي او په فضا کې بېرته هماغه اهتزازونه تولیدوي چې د وینا وال د خبرو له امله پیدا شوي وو. په دې ډول هغه اواز چې په پنځو ثانیو کې به یې یو میل لاره وهله، په برقي څپو بدلېږي او سرعت یې په یوه ثانیه کې ۱۸۶۰۰۰ میله ته رسېږي. په دې ډول اواز د یوې ثانیې په اتمه برخه کې په ټوله دنیا کې خپرېږي، ځکه چې د ځمکې ټول محیط یوازې ۲۵زره میله دی. همدغه چټکې بې سیمه څپې دي، چې زموږ د راډیو ترلاسه کوونکې دستګاه یې اخلي او بېرته یې په لوړ اواز باندې راته تکراروي. په دې ډول د میلونو په واټن کې زېږېدلی اواز له کوم ځنډ پرته زموږ تر غوږونو را رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عربي اوونيزې تبصره

**د مصري راډيو اوونيزې مجلې الاذاعة والتليفزيون (۱۷ جون ۱۹٦۷) د مولانا وحيد الدين خان پر تازه چاپ شوي عربي کتاب «الاسلام و العصر الحديث» يوه تبصره خپره کړې، چې دلته به يې مور لنډيز ولولو. دغه ډول تبصرې د عربي نړۍ په شاوخوا ټولو مشهورو ورځپاڼو او رسالو کې ډېرې زياتې خپرې شوې دي. دا تبصرې راته وايي، چې ټوله اسلامي نړۍ نن ورځ د يوه نوي اسلامي دعوت په انتظار کې ده، يو داسې دعوت چې يو پلو په مسلمانانو کې له نوي سره ايماني جذبه وروزي او بل پلو ته تر قومونو پورې د خدايي پيغام د رسونې لپاره پلان او طرحه جوړه کړي.**

د هند اسلامي مفکر علامه وحيد الدين خان پېژندني ته هيڅ اړتيا نه لري. نوموړي تر دې مخکې د اسلامي کتابونو نړۍ ته د «الاسلام لا يتحدى»، «الدين فى مواجهة العلم» او «حكمة الدين» په څېر کتابونه ورکړي دي. مولانا زمونږ د ګڼو هغو اسلامي ليکوالو له ډلې څخه نه دی، چې يوازې د قلم زور ورسره دی او همدومره يې په وس کې دي، چې زرګونه پاڼې توري کړي او لسګونه کتابونه وپنځوي. داسې کتابونه چې کتابتونونه خو پرې ډکېږي، مګر زمونږ په زړونو کې د يوه تحريک او خوځښت باعث نه ګرځي او نه په هغو مسلمانو زلميانو کوم اغيز شيندي، چې د سنجيده اسلامي فکر تنده ورسره وي. نوموړی ستر مفکر له هغو څو قلموالو څخه دی، چې په ګوتو يې شمېرلی شو، هغه چې د ځان لپاره يې ډېره پېچلې لاره ټاکلې ده، ځکه چې مولانا نه يوازې د قلم خاوند دی، بلکې له مفکرانه استعداد او وړتياوو هم برخمن دی. دا پېچلې لاره له هغو ننګونو سره د مبارزې لاره ده، چې اسلام ته له دننه او بيرونه دواړو اړخونو ور پېښ دي.

تر بحث لاندې کتاب تر شپېتو مخونو ډېر نه دی او عام لوستونکی يې له يوه ساعت نه هم په کم وخت کې لوستلی شي. مګر يو عالم لوستونکی يې چې لولي، نو بيا به يې د پوهېدو لپاره څو ورځې وخت پکار وي. ځکه چې دا کتاب د حجم له پلوه کوچنی دی، خو د کيفيت له اړخه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات ژور سوچ غواړي، ځکه چې په کتاب کې په ډېرو مهمو سوالونو بحث شوی دی. پر دې سوالونو له دې نه مخکې هم بحثونه شوي دي، خو په دې کتاب کې چې نوې خبره ده، هغه د کتاب د مفکر تګلاره او روش دی، چې موضوعي او مجرد دی او دغه راز پر عقلي منطق ولاړ دی، نه پر هغو ديني جذباتو چې زموږ د متعصبو او تنګ نظره اسلامي ليکوالو پر محدودو افکارو غالب وي.

نوموړي ستر اسلامي مفکر يوازې په پر هغو اسانو ديني حوالو اکتفا نه ده کړې، چې عموما په مسايلو باندې د بحث په وخت کې تکيه پرې کېږي. بلکې د نړۍ اوسني فکري تحريکونه يې ور مطالعه کړي، په تېره هغه تحريکونه چې له اسلامي فکر سره ټکر لري. مولانا د دغو تحريکونو نيمګړتياوې د استدلال په هماغه معيار روښانه کړې دي، چې د دغو تحريکونو په نزد د اعتماد وړ معيار دی. په دې ډول نوموړی ستر مفکر په دې توانېدلی دی، چې په عامه انساني سطحه کې د اسلامي فکر لپاره ځای ومومي.

تر تبصرې لاندې کتاب «الاسلام والعصر الحديث» چې زموږ په لاسونو کې دی او د قاهرې «المختار الاسلامي» خپرندويې ټولنې چاپ کړی دی، په ټوله معنا يوه ژوره څېړنه ده. دې کتاب موږ دې يقين ته يو ګام نور هم ور نږدې کړو، چې د مسلمان مفکر علامه وحيد الدين خان امتياز دا دی، چې دی چې څه ليکي، لومړی يې پلان ورته جوړوي. خپل فکري منهج او تګلاره ورته ټاکي، تر څو خپلې مطلوبې پايلې ته ورسېږي، چې د دې تګلارې پايله په درې برخو کې را ښکاره شوې ده: لومړی، د اسلام له ننګوونکو او په نښه کوونکو افکارو سره مبارزه. دوه، د هغو افکارو ځپل چې د اسلام دننه يې لاره کړې او د غفلت په زمانو کې د اسلام لپاره ازماېښت وګرځېدل. درې، اسلامي فکر په نوي طرز داسې ترتيبول، چې هغه مقام ته ورسېږي، چې حق يې دی او د دې جوګه شي، چې د هغه رښتوني دين استازولي وکړي، چې الله تعالی د خپلو بندګانو لپاره خوښ کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هغوی صحافت ته د سپک مسلک په سترګه کتل

شیخ علي یوسف د نولسمې پېړۍ مصری ادیب و او د «المويد» عربي جریدې مسؤل مدیر و. یوسف له مصری مېرمنې سره واده وکړ، چې نوم یې صفیة السادات و. مېرمنې یې په صوفي کورنۍ پورې تعلق درلوده او د خپل پلار له اجازې پرته یې له شیخ علي یوسف سره واده کړی و. وروسته یې چې کورنۍ پوه شوه، چې د لور مېړه یې صحافي (خبریال) دی، نو دا خبره یې د خپلې کورنۍ د نوم او عزت خلاف ولیده چې د دوی لور دې د یوه داسې سپک مسلک له سړي سره واده وکړي. دوی په نجلۍ فشار راووړ او دې ته یې راضي کړه، چې په محکمه کې د بېلتون عریضه وکړي، په دې چې مېړه یې د شریعت مطابق کفو (سیال) نه دی او د صحافت په څېر ناوړه مسلک کې کار کوي. دا قضیه د قاضي شرح (شیخ ابو خطوة) عدالت ته وړاندې شوه او قاضي د قضیې له اورېدو وروسته پرېکړه وکړه، چې یو شخص چې صحافي وي، هغه د یوې درنې کورنۍ کفو نه دی او شیخ علي یوسف او د هغه مېرمنه یې سره جلا کړل.

سید جمال الدین افغاني (۱۸۹۷- ۱۸۳۸) چې کله په آستانه (ترکیه) کې و، نو له شیخ حسین الجسر (۱۹۰۹- ۱۸۴۵) سره یې ملاقات وکړ. شیخ جسر په خپله زمانه کې د شام له لویو علماوو څخه و. د تصادف له مخې د دواړو لیدنه په المابین (سلطاني سرای) کې وشوه. جمال الدین پر شیخ جسر نیوکې شروع کړې. شیخ هم په ځواب کې یو څه وویل. له هغه وروسته جمال الدین افغاني په لوړ اواز خبرې پیل کړې. شیخ حسین جسر ورته وویل، ورو غږېږئ، هسې نه د المابین خلک یې واوري، چې زه صحافي یم او مجلو ته لیکنې کوم. د دې خبرې په اورېدو جمال الدین افغاني نور هم غوسه شو او ویې ویل: ولماذا یا استاذ تحاذر هذا و تأبى الانتساب الى الصحافة (تاسو ولې ډارېږئ او ځان ته د صحافت له منسوبولو ولې انکار کوئ) صحافت ډېر ښه کار دی. زه پخپله هم صحافي یم. له پارس نه مې د «العروة الوثقی» په نوم یوه رساله را ایستې وه. شیخ جسر یې دا خبره ونه منله او ویې ویل: ان مثله فی انتسابه الى علم الدین یزری به فی نظر الناس الاشتغال بالصحافة.

ژباړه: د ده (شیخ جسر) په څېر کس چې د دینپوهنې له ادرسه پېژندل کېږي، چې په صحافت کې لاس ولري، نو دا به یې د خلکو له سترګو وغورځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يو ملاقات

ناندېړ، له وېش نه مخکې د حيدر آباد رياست برخه وه. خو اوس د مهاراشټر په ولسواليو کې راځي. له ډيلي نه ۱۶۵۰ کيلومتره لرې په دې سيمه کې که تاسو د ماضي نښې نښانې ليدل غواړئ، نو په ورځنيو فعاليتونو کې به هېڅ ځای هم په نظر در نه شي. د دې سيمې ماضي يوازې د يوې تېرې افسانې په ډول اوربدلی شئ. له دې نه هم عجيبه خبره دا ده، چې دلته داسې خلک خو ډېر دي، چې بې رحمه حال د خپلو محروميتونو مسؤل ګڼي، خو د داسې خلکو لټون يوه بې ګټې هڅه ده، چې د ژوند له دې حقيقت سره دې اشنا وي، چې حال په اصل کې د ماضي بل نوم دی. افراد وي که ملتونه، په خپلو راتلونکو ورځو کې همماغه څه ريبي، چې په تېرو ورځو کې يې تخم ورته شيندلی وي.

ما د جولای ۱۹۷۵ء وروستۍ او د اګست لومړنۍ اوونۍ په همدې سيمه کې تېره کړه. له ناندېړ نه په ۵۰ ميله واټن کې يو کلی د مکېر په نوم دی. دا کلی له حيدر آباد نه يو نيم سل کيلومتره لرې موقعيت لري. په مکېر کې مې له ډېرو خلکو سره وليدل، خو په هغو کې يو د يادونې سړی کشن جيونت راؤ پټيل (زوکړه ۱۹۴۳) دی. پټيل د چايا سټوډيو په نوم د عکاسۍ دوکان لري. مورنۍ ژبه يې مرهټي ده. په هندي ژبه هم ښې رواني خبرې کوي. په هندي ژبه کې يې ګڼ اسلامي کتابونه لوستي دي. د قرآن کريم هندي ترجمه هره ورځ مطالعه کوي. ځلور ځله يې ټوله ترجمه خلاصه کړې او اوس يې پنځم ځل پيل کړی.

د ۲۶ جولای په ماښام موږ د ده په فصلونو کې ورسره ناست وو. د ورښتونو موسم و، نو هره خوا سرسبزه او زرغونه وه. له شنو کروندو د لرې غرونو منظرې د سيمې ښکلا لا ډېره کړې وه. پټېل ته مې وويل «ماشاءالله ستاسې فصل له شاوخوا ټولو فصلونو ډېر بهتر دی.» ده ځواب راکړ، چې «دا د خدای راکړه ده، که نه وي موږ کوم خاص کوشش نه دی ورته کړی.» يوه بل ملګري چې په دې وخت کې له موږ سره ناست و، هغه وويل، چې کشن پټېل صاحب هر کال له خپلو حاصلاتو نه عشر ورکوي. دا د همماغه برکت دی.» ملګري چې خبره پوره کړه، نو کشن پټېل صاحب هم وخندل او د هغه خبره يې تائيد کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرآن کریم په تړاو د یوې پوښتنې په ځواب کې ده وویل، چې ماته په قرآن کریم کې د اعتراض وړ کوم څه په نظر نه دي راغلي. ټولې ښې خبرې دي. که انسان دغه خبرې ور خپلې کړي، نو ژوند به یې ورسره جوړ شي. خو ما ورته وویل، چې د اعتراض په ډول نه، خو ممکن د پوښتنې په ډول مو په ذهن کې ځینې خبرې وي، تاسې هماغه رامخې ته کړئ، چې خبرې پرې وکړو.

د هغه یوه پوښتنه دا وه، چې عبادت لمانځه او روژې ته ویل کېږي یا عمل ته؟ ما وویل، چې عبادت اصلاً د لمانځه او روژې نوم دی. خو کله چې د انسان په ژوند کې په سمه معنا لمونځ او روژه شامل شي، نو بیا یې په اخلاقو او معاملاتو کې هم په حتمي ډول څرګونه را ښکاره کېږي. له دې اړخه عمل هم د عبادت په تقاضاوو کې راځي. ده د ځینو اسلامي کتابونو په حواله وویل، چې ما لیدلي دي، چې لمونځ د عملي ژوند تربیه او رزونه ده. ما وویل، چې د دې معنا دا ده، چې لمونځ د انسان له اصلي ژوند نه بېل شی نه دی. یو انسان چې په واقعي معنا لمونځ ګزاره شي، نو د دې یوه فایده دا هم وي، چې په درون کې یې داسې طبیعت را زرغون شي، چې له بدیو یې کرکه کېږي او نېکیو ته یې تمایل زیاتېږي. پاتې شوه دا چې د لمانځه اصلي حقیقت څه شی دی، نو لمونځ الله تعالی ته د نږدېکت نوم دی. هغسې چې د قرآن کریم په شپږ نویمه سوره کې به تاسې لیدلي وي. دا خبره په قرآن او حدیث کې هم راغلې ده او له تجربې نه هم داسې ښکاري، چې کله انسان په سجدې کې سر ږدي، نو داسې معلومېږي، چې بیخي خدای ته ور نږدې شوی دی. دغه د نږدېکت احساس له بل هېڅ شي هم نه ترلاسه کېږي. او تاسې پوهېږئ، چې د یوه بنده لپاره تر ټولو لوی شی همدا دی، چې خپل څښتن ته ور نږدې وي.

د سوره مایده د نهه شپېتم آیت په هکله یې پوښتنه وکړه، چې له دې آیت نه خو همدا خبره راوځي، چې له مسلمانانو پرته یهودان او عیسویان او داسې نور هم نجات موندونکې ډلې دي. دغه راز د سوره حج له څلوېښتم آیت نه دا څرګندېږي، چې له جوماتونو پرته په کلیساوو او نورو ځایونو کې هم د خدای نوم اخیستل کېږي، قرآن هم د دې خبرې پخلی کوي.

د لومړني آیت په حواله مې ورته وویل، چې دلته چې کومه خبره شوې ده، هغه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، چې نجات او ژغورنه په کومې ډلې یا نسل پورې تعلق نه لري. که مسلمانه ډله وي یا یهودي یا عیسوي، فرق نه کوي. بلکې تعلق یې په عمل پورې دی او عمل دې ته ویل کېږي، چې انسان په خدای ایمان راوړي، په آخرت یقین ولري او د صالحو اعمالو ژوند غوره کړي. په دې آیت کې اصلاً د یوې خاصې ډلې د نجات نفي شوې او عقیده او چلند د نجات وسیله ښودل شوي دي. دغه راز په دې بل آیت کې مسئله دا نه ده، چې د خدای ربښتینی ذکر چېرته کېږي. په دې آیت کې اصلا د الله تعالی دا قانون ښودل شوی دی، چې الله تعالی یوه ډله د تل لپاره په واک او اقتدار کې نه پرېږدي. که داسې ونه شي، نو په واکمنه طبقه کې د اجاره داری ذهنیت پیدا کېږي او د هغوی ظلم به دې آن ته زیات شي، چې نه یوازې خپل سیاسي مخالفین به ووژني، بلکې د معاشرې بې ضرره طبقې به هم تر پښو لاندې کړي، تر دې چې په عبادت خونو کې به پټه خوله د الله تعالی ذکر کوونکي وګړي هم.

«حضرت اسود چې خلک یې په حج کې ښکلوي، دا څه شی دی، ځکه چې په قرآن کریم چې د حج کوم احکام راغلي دي، په هغو کې د حضرت اسود هېڅ یادونه نشته.»

دا «حضرت اسود» نه دی، حجر اسود دی. معنا یې توره تیږه ده. دا تیږه د کعبې په یوه ځای کې نصب شوې ده او له هماغه ځایه حاجیان طواف پیلوي. د دې تیږې د ښکلولو په هکله مې ورته وویل، چې ښکلول یې په دې پورې کوم تعلق نه لري، چې خلک دغه تیږه «حضرت» یا مقدسه ګڼي، هغسې چې حضرت عمر رض هم فرمایلي دي. دا هماغسې یوه تیږه ده لکه نورې عامې تیږې. د حج پر مهال چې کله یو مسلمان حجر اسود ښکلوي، یا د کعبې په غلاف پورې نښلي، نو دا یې د هغې جذبې اظهار وي، چې یو انسان په خپل خدای پورې وصلېږي او د هغه پښې ښکلوي. په دې کې هېڅ داسې عقیده نشته، چې پخپله په حجر اسود یا د کعبې په غلاف کې کوم تقدس نغښتی دی او یا انسان ته ګټه او تاوان رسولی شي.

بیا دا خبره یوازې تر حجر اسود پورې محدوده نه ده، حقیقت دا دی، چې د مؤمن په ژوند کې داسې فرصتونه ډېر ځلې بلکې هره ورځ پېښېږي، چې کله خپل سر په سجده کې ږدي، نو د ځمکې هغه ټوټه ورته «حجر اسود» ګرځي، چېرته یې چې د خدای په ځمکه تندی ایښی وي. په دې وخت کې دی داسې احساسوي، چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر یې د خدای په پښو کې ایښی دی. تر دې چې دغه کیفیت کله نا کله دومره په شدت ورباندې غالب شي، چې زړه یې غواړي، چې هېڅ کله خپل سر راپورته نه کړي. دغه راز کله نا کله داسې هم کېږي، چې انسان د ونې یوې شنې پاڼې ته ګوري، یا ښکلی ګل یې مخې ته راځي، نو د خدای په یاد او محبت کې یې داسې جذبه را پارېږي، چې پاڼه او ګل ورته د خدای په ننداره بدلېږي او په خپلو لېمو یې لګوي. په خدای پورې د وصلت او د هغه د پښو ښکلولو همدا جذبه چې د مؤمن په ژوند کې په یو نه یو ډول ځان ښکاروي، د حج په وخت کې د حجر اسود د ښکلولو یا په غلاف پورې د نښلېدو په ډول ځان څرګندوي. حجر اسود د مؤمن د عادي او روزمره ژوند یوه تجربه ده، نه کوم مرموز شی دی او نه کوم جلا او ځانګړی شی. سره له دې چې عام انسان له همدې خاصې تیرې هغه کیفیت وړي، چې په کعبې کې لګېدلې ده. خو هغه خلک چې له خدای سره یې ژوره اړیکه جوړه شوې وي، د هغو نظر له تعیناتو ډېر زیات لوړ شوی وي. د هغو لپاره د ځمکې هره ذره حجر اسود او د ونې هره پاڼه د کعبې غلاف وي.

«د سوره آل عمران په ۳۷ آیت کې راغلي چې حضرت مریم ته به چې حضرت زکریا راغی، نو تل به یې د هغې په خوا کې رزق مونده. دا رزق به کومه اسماني مېوه وه؟»

«په عوامو کې همدا مشهوره ده، چې اسماني مېوه به وه. مګر پخپله په آیت کې د دې خبرې تردید موجود دی. په آیت کې ویل شوي دي، چې وکفلها زکریا یانې د حضرت مریم کفالت او پالنه به حضرت زکریا کوله. اوس ښکاره ده چې کله یې کفیل او د حضرت مریم د اړتیاوو مسؤلیت پخپله د حضرت زکریا په غاړه و، نو له آسمان نه د خوړو راتلو ته څه اړتیا وه؟ له آسمان نه مرسته هېڅ کله هم په غوښتلي یا ناغوښتلي ډول نه راځي، بلکې یوازې د واقعي اړتیا په وخت کې او په خورا ځانګړو حالاتو کې راځي.

دا رزق په حقیقت کې د معرفت رزق و. کله چې په انسان کې د ایمان رڼا وځلېږي او له خپل ټول وجود سره خدای ته ور ړنګ شي، نو ټوله دنیا ورته د علم او معرفت په دسترخوان بدله شي. په هره پېښه او مشاهده کې یې خدایي انوار سترګو ته درېږي. اروا ته یې د اعلی رزق خواړه ور رسېږي. د حضرت مریم په خبرو کې حضرت زکریا د همدې «رزق» ننداره لیدلې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

«په قرآن کې بیا بیل ویل شوي، چې په ځمکه او آسمان غور وکړئ، آیا د دې معنا دا ده، چې قرآن غواړي، چې خلک دې ساینسي علوم ولولي؟»

ما ورته ویل، دا سمه ده، چې ساینس د ځمکې او آسمانونو علوم دي، او دا هم سمه ده، چې د ساینسي علومو په مټ د خدای معرفت زیاتېږي. مګر تر کومه چې د قرآن د دغه ډول لارښوونو خبره ده، نو له دې نه مراد په مشهوره معنا ساینسي علوم نه دي. بلکې د ځمکې او اسمانونو په آیاتونو (نښو) باندې غور کول ترې مراد دي. د ځمکې او آسمان ساینسي مطالعه او د ځمکې او آسمان په نښو غور کول، په دې دواړو کې ډېر زیات فرق دی. ساینسي مطالعه خو یا مجرده مطالعه وي یا افادي مطالعه. همدا وجه ده، چې د ساینسپوهانو ټوله توجه پر تخنیکي اړخونو را ټوله وي. د دې برعکس قرآن غواړي، چې د ځمکې او آسمان په نظام کې بې شمېره د درس او عبرت اړخونه پراته دي، پر هغو دې خلک غور وکړي. دا حقیقت دی، چې په څه ډول چې الله تعالی په قرآن کریم کې د خپل علم دړې پرانیستې دي، په همدې ډول یې په کاینات کې هم د خپل معرفت سپرغی خورې کړې دي. هغه خلک چې له دې زاویې په کایناتو غور کوي، هغوی په کایناتو کې د ایمان او معرفت بې سارې خزانې ور ټولوي. تر دې چې د مشاهدې وروستي مقام ته چې ورسېږي نو ناڅاپي یې له خولې را ووځي، چې کتابونه یوازې دوه دي: قرآن او کاینات.

«د قرآن کریم په ۳۳ سورت کې ویل شوي دي، چې په یو ځوک په زوی ولی نیول غلط کار دی. په بل ځای کې په قرآن کریم کې راغلي چې یو کس چې خپلې ښځې ته ووايي، چې ته طلاقه یې، نو هغه ښځه پرې طلاقېږي.» په دې پوښتنو پسې یې زیاته کړه «قرآن یو ځای وايي، چې په زوی ویلو سره ځوک د چا نه زوی کېږي. په بل ځای کې له خولې نه د یو څو کلمو په ویلو سره د یوه سړي ښځه، نور د هغه ښځه نه پاتې کېږي.»

ما ورته وویل، چې دا پوښتنه زما لپاره نوې ده، د دې ځواب به سبا درکړم. په سبا ورځ مې ورته وویل، چې په دواړو مثالونو کې فرق دی. د ښځې مسئله دا ده، چې په نکاح کې د ایجاب او قبول له لارې یوه ښځه د چا میرمنه کېږي. د دې معنا دا ده، چې دغه اړیکه د الفاظو له لارې جوړېږي، نو ځکه یوازې په الفاظو ماتېدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم شي. خو د زوی مسئله له دې نه مختلفه ده. زوی د زېږېدو له لارې نړۍ ته راځي. نو ځکه د الفاظو له لارې نه کوم څوک د چا زوی کېدلی شي او نه په الفاظو هغه د چا له زوی ولی وتلی شي.

«په مسلمانانو کې هغه خلک چې مازې په مسلمانه کورنۍ کې نړۍ ته راغلي، خو په عمل کې یې اسلام نشته، هغوی په حقیقت کې د کافرانو په څېر دي. نو بیا تاسو داسې خلکو ته ولې مسلمان وایئ؟ ولې په څرګنده د هغو د کفر خبره نه کوئ؟»

ما وویل، چې اسلام په اخرت پورې تعلق لري، هلته چې چاته څه رسېږي، هغه د حقیقت په بنیاد ور رسېږي، نه مازې د شهرت او نوم په بنیاد. پاتې شوه د دې دنیا خبره، نو دلته له دې پرته بله عملي لاره نه پاتې کېږي، چې هغه شخص مسلمان وګڼو، چې پخپله ځان ته مسلمان وایي. که موږ داسې ونه کړو، نو په ټولنه کې به لویه ګډوډي جوړه شي، د هغوی د اصلاح لپاره خو موږ هر څه ویلی شو، مګر د هغو په سر له ځانه قاضیان خو نه شو جوړولی.

«د یوه کس نوم رابرټ سن دی، خو په خدای او رسول ایمان لري او ټولې هغه خبرې مني، چې په اسلام کې ښودل شوې دي. که هغه له رابرټ سن نوم سره له دې نړۍ نه سترګې پټې کړي، نو آیا نجات به یې په برخه شي که نه؟»

ما وویل، چې په آخرت کې د نجات تعلق په نوم یا اعلان پورې نه دی. حنظله د یوه مسلمان صحابي نوم هم و او حنظله بن ابو سفیان یو کافر و، چې په بدر کې ووژل شو. د رسول الله ص له بعثت نه وروسته چې کومې پېښې رامنځته شوې، په هغو کې پیغمبر علیه السلام یوازې د ځینو کسانو نومونه ور بدل کړل. مثلاً د یوه کس نوم عبد شر و. پیغمبر عبد خیر نوم پرې کېښود. په دې سربېره، له پیغمبر علیه السلام نه مخکې چې کوم نبیان په نورو قومونو او نورو ژبو کې راغلي وو، د هغوی یا د هغوی د ملګرو نومونه عربي نه وو، بلکې د هغوی په خپله ژبه او یا د رواج مطابق و. حقیقت دا دی، چې د نجات معامله په ټوله کې د خدای او بنده ترمنځ معامله ده. د نجات لپاره اصلي شی ایمان دی، خو د ایمان ځینې نښې باید په دې دنیا کې هم ولیدل شي. ځینې خلک رسول الله ص ته راغلل. هغوی وویل، چې موږ پر تاسې ایمان راوړو، خو نه زکات ورکوو او نه لمونځ کوو. نبي کریم ص وفرمایل: لا خیر فی دین لا رکوع فیه (په هغه دین کې هیڅ ښېګڼه نشته، چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای لپاره ټیټېدل په‌کې نه وي.) بنده چې له زړه نه خدای مني، نو پکار ده، چې په بدن، مال او اړیکو کې یې هم خدای پرستي ځان وښيي. بل انسان دې زما په ایمان او خدای پرستي نه پوهېږي، هېڅ مشکل نه لري، خو خدای خو باید پوه شي. د خدای په مخکې خو یې باید په هر حال کې اظهار وشي، هغه که د پردې تر شا په پټه هم وي.

«عشر باید چاته ورکړو؟»

ومې ویل عشر او زکات یو ډول اجتماعي مالیه ده او د ورکړې اصلي طریقه خو یې دا ده، چې یوه اجتماعي اداره وي چې هغه یې ټوله کړي او په ټاکلو ځایونو کې یې ولګوي. خو دا چې نن ورځ دغسې اداره وجود نه لري، نو د دې یوازنۍ طریقه همدا کېدلی شي، چې د خپلو معلوماتو مطابق په اړمنو وویشل شي او یا په هغو مصرفونو کې ولګول شي، چې قانون ټاکلي دي.

هغه وویل، چې زه غواړم عکاسي پرېږدم او کومه بله دنده وکړم. ما ترې د کار بدلولو علت وپوښته نو ویې ویل، چې ما په دې کار کې کافي پیسې وګټلې او اوس هم په دې مسلک کې زما لپاره ډېر زیات فرصت شته. خو اوس داسې ښکاري، چې نور زه د دې کار وړتیا نه لرم. د عکاسي په مسلک کې د بریالیتوب لپاره نمایشي ذهنیت او ابن الوقتي ډېره ضرور ده. خو اوس زما مزاج بدل شوی دی او ساده ژوند او روا کاروبار کولو ته مې زړه شوی دی. او له دغه ډول ژوند سره د عکاسي مسلک نه پخلا کېږي. نو ځکه مې اوس سوچ کړی دی، چې د خپل اوسني دوکان په سر څو خونې جوړې کړم او د عکاسي کار د بل چا په شراکت کې پورته خونو ته انتقال کړم او لاندې د ځان لپاره د خوراکي دوکان پرانیزم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوال او ځواب

سوال: په قرآن کريم کې راغلي چې «په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه غورځوئ.» دا آيت ډېر عجيبه ښکاري. ځکه په ښکاره خو په دې آيت کې د هلاکت او خطر له لارې نه د ځان ساتنې لارښوونه شوې ده. خو هلاکت خو همدا دی، چې انسان د خطراتو له لارې وډار شي او خطر ته غاړه ور نه کړي. د فرد خبره وي يا د قوم، ټول لوی پرمختګونه د هغه چا په لمنه کې ور لوېږي، چې ځان ستونزو او مشکلاتو ته ورکړي او د اقدام کولو حوصله ولري. د ژوند دغه حقيقت اسماعيل ميرټې ډېر په ښکلي انداز کې په دوو شعرونو کې رانغاړلی دی:

ازاده ژباړه: يوه ورځ د اسونو لوبه وه. ځوک په خپل ترکي او ځوک په تازي اس سپور و. ځوک چې زړه نا زړه شو او ووېرېده، هغه همدلته پاتې شو. خو چا چې پونده ورکړه، هماغه له کربنې واوښته.

د يوه قوم مفکوره چې دا وي، چې «له خطرونو خپله لمنه در ټوله کړئ.» هغه قوم هېڅ کله لوړو برياوو ته نه شي رسېدلی.

ځواب: د ژوند کوم حقيقت چې تاسې بيان کړی دی، هغه سل په سلو کې سم دی. دا واقعيت دی، چې هېڅ بريا هم له خطر منلو پرته نه راځي. خو له آيت نه چې تاسو کومه معنا اخيستې، هغه د آيت له اصلي معنا سره برعکس ده. پوره آيت داسې دی: وَأَنفِقُواْ فِي سَبِيلِ اللّهِ وَلاَ تُلْقُواْ بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ. (بقره- ۱۹۵)

ژباړه: او د الله په لارکې لګښت وکړئ او په خپل لاس ځان په هلاکت کې مه غورځوئ.

د دين په لاره کې د ځان او مال لګښت کول، په خپلو شخصي اړتياوو کې له کمښت منلو پرته امکان نه لري. نو ځکه ويل شوي دي، چې که ان په خپل شخصي لګښتونو کې هم کمی کوئ، ويې کړئ. خو د دين لپاره خپلې هلې ځلې په هر حال کې جاري وساتئ. ځکه چې کله د اجتماعي ژوند ستنې ونړېږي، نو فرد هم خپل ځان له بربادۍ څخه نه شي ژغورلی. نو ځکه په هغو لارو کې لګښتونه کوئ، چې اجتماعي ژوند ورسره پياوړی کېږي.

د دې آيت په هکله د حضرت حذيفه او حضرت ابو ايوب انصاری يو روايت د

(c) ketabton.com: The Digital Library

حدیث په کتابونو کې نقل شوی دی، چې د دې آیت ټول مفهوم ډېر ښه روښانوي. د دوی په نزد ځان په هلاکت کې غورځول دا معنا لري، چې له خپل مال او عیال سره په کور کېني او له جهاد نه لاس واخلي. (التهلکة الاقامة فی الاهل و المال وترک الجهاد – کشاف)

بخاري له حضرت حذیفه نه د دې آیت لنډ شان نزول هم را نقل کړی دی او صراحت یې د حضرت ابو ایوب انصاري په حدیث کې بیان راغلی دی، چې ابو داؤد، ترمذي، حاکم، نسائي، ابن حبان او داسې نورو روایت کړی دی او حاکم د شیخینو د شرط له مخې صحیح بللی دی. حضرت ابو ایوب انصاري فرمایي، چې موږ انصارو چې کله د نبي کریم ص په ملګرتیا کې څو غزوې وکړې، نو یوه ورځ له موږ نه ځینو کسانو په خپلو کې پټه مشوره وکړه، چې اوس خو له رسول الله ص سره ډېر زیات خلک ملګري شوي دي. که موږ څو ټنه په جنګونو کې له نبي کریم ص سره لاړ نه شو، نو خپله اقتصادي وضعه سمولی شو او له کور کلي نه د ډېرې مودې لپاره د بهر پاتې کېدو له امله مو چې کورونه پکو شوي دي، د هغو جبیره به هم وکړو. نو په دې وخت کې الله تعالی دا آیت نازل کړ. او خبرداری یې ورکړ، چې له دغه ډول لګښتونو نه لاس لنډول د هلاکت سبب دی، نو خپل ځان په دې هلاکت کې مه غورځوئ. او د دین لپاره د ځان او مال لګولو ته دوام ورکړئ.

دا آیت له خطراتو او ستونزو سره سره بنده د الله په لاره کې اقدام کولو ته هڅوي. نه دا چې انسان له خطراتو او ستونزو نه وارخطا شي او په دې لاره کې له اقدام کولو نه لاس واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په امريکا کې مذهب

## Americans turning religious

**د ساينس او صنعت پرمختګونه بنده له خدايه نه لرې کوي**

په عامه توګه يوه خبره مشهوره ده، چې امريکا يو سيکولر او شکاکي قوم دی. خو د ګيلپ پول له لوري له دوو کلونو ارزونې وروسته چې کوم معلومات مخې ته راغلي، هغه دا خبره ردوي. دې څېړنو وښودله، چې د امريکا خلک تر غير عادي بريده مذهبي خلک دي او دا هيواد په واقعت کې د روحانيت د احيا په يوه نوي پړاو کې دی.

د امريکا ۹۴ سلنه خلک په خدای اعتقاد لري. ٦٩ سلنه خلک يې له مرګ نه وروسته په ژوند عقيده لري. دا موندنې په هغه راپور کې راغلې، چې له واشنګټن نه د «Religion in America» په نوم خپور شوی دی.

په راپور کې دا هم ويل شوي دي، چې د دنيا په مختلفو برخو کې کومې کومې مذهبي عقيدې شته او د هغو د ژوند او بود و باش طريقې څه دي. ګيلپ انټرنيشنل دا سروې د چارلس ايف خيريه مؤسسې په غوښتنه کړې وه.

په راپور کې راغلي دي، چې د امريکا ولس په ټولو صنعتي هېوادونو کې تر ټولو ډېر مذهبي ولس دی. په مذهب باندې د عقيدې د ختمېدو تمه له ځينو اروپايي هېوادونو او د دنيا له بعضي نورو قومونو کېدلی شي. خو د امريکا پرتله صرف د افريقا او لرې ختيځ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېوادونو سره کېدلی شي، چې هلته لا هم په خلکو باندې د مذهب گرفت ډېر مضبوط دی. د جاپان او سکندنیویا ولس، د ټولو پرمختللو قومونو په منځ کې تر ټولو ډېر غیرمذهبي گڼل شوی دی.

له ۱۹۶۰ را وروسته کلونو کې چې کله امریکا له بحران سره لاس و گرېوان وه، نو په خلکو کې له مذهب سره دلچسپي او په مذهب عمل کول پیکه شول. خو اوس وضعیت ډېر بدل شوی دی، د امریکایي ولس ۵۶ سلنه وگړو د دې سروې پر مهال ویلي، چې مذهبي عقیده «ډېره مهمه» ده. دېرش سلنه خلکو «تر مناسبه بریده مهمه» بنودلې او یوازې پنځه سلنه خلکو دا ځواب ورکړی، چې مذهب هېڅ کوم اهمیت نه لري.

(هندوستان ټایمز، ۲۴ جولای ۱۹۷۶)

## اسلامي مرکز

### د اسلامي مرکز موخه، تر ټولو انسانانو پورې د اسلام د پیغام رسول دي

د نبوت له ختمېدو وروسته، محمدي امت د نبوت په مقام کې ځای لري. مسلمانان به اوس تر قیامته پورې دقیق هماغه کار کوي، چې تر دې پخوا ورته پیغمبران را استول شوي وو. د خپل رب په نزد د پیغمبرانو غاړه یوازې هغه وخت خلاصېدلی شي، چې د خدای هغه پیغام خپلو ټولو مخاطبینو ته ورسوي، چې د اسماني وحی له لارې ورته راغلی وي. په همدې ډول د محمدي امت د نجات یوازنی صورت هم دا دی، چې د ملتونو په مخکې د الهي دین د شاهد په توگه ودرېږي، او خلک د حساب له راتلونکي ورځې خبر کړي. که اسلامي امت دغه مسؤلیت ته اوږې نه ورکوي، نو بل هېڅ شی هم دې امت ته نجات نه شي وربښلی، نه په دې دنیا کې او نه په آخرت کې.

مسلمانانو ته چې د اخرت د پیغام پېټی ور په شا دی، نو دا یې هم مسؤلیت دی، چې د دنیوي گټو لپاره له نورو ملتونو نه له کشمکش نه بشپړ پرهېز وکړي. که د دوی حق هم تر پښو لاندې کېږي، بیا هم د دنیوي مسایلو په برخه کې د دوی لپاره یوازینی صحیح تگلاره «صبر» ده. یاني یوازې د خپل ځان د جوړونې په هڅو بروسه او باور کول. او د دې په ځای چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو په ضد پاخونونه او د مطالباتو تحریکونه وچلوي، په خپلو شته فرصتونه کې خپله روزي ولټوي. د مسلمانانو لپاره نور قومونه د مدعو حیثیت لري، نو دا ورته روا نه ده، چې د خپلې کومې کړنې له امله خپل مدعو د ځان سیاسي یا اقتصادي مخالف وګرځوي. مسلمانان به نور قومونه د حق د دعوت مخاطبین ګرځوي، نه دا چې د دنیوي مسایلو په سر له هغو سره لانجې وکړي، او له ځانه یې لرې وشړي.

د اسلامي مرکز موخه دا ده، چې مسلمانان د خپل اصلي مسؤلیت او ماموریت لپاره ورزول شي او د اوسنی زماني د معیارونو له مخې الهي پیغام د هغه تر ټولو بندګانو پورې د رسولو لپاره پلان ګذاري وشي.

جوماتونه د اسلامي نړۍ ساتونکي مرکزونه دي. مغلو په دیارلسمه عیسوي پېړۍ کې د ختیځ له خوا په اسلامي نړۍ یرغل راووړ او ډېره برخه یې تاراجه کړه. خو همدا جوماتونه چې هلاکو له سمرقند نه تر حلب پورې په خپله لاره کې د خاورو همنشین کړل، د ده کړوسیانو ببرته ورغول او د هغوی د تر چتونو لاندې یې د واحد خدای په مخکې سرونه په ځمکه کېښودل.

جومات یو ډول دار الاسلام دی. د الله تعالی د یادولو ځای دی. د اسلامي اتحاد مرکز دی، د مسلمانانو لپاره د اعتماد علی الله سمبول دی. اسلام چې ژوندی و، نو جومات یوازې جومات نه و، بلکې د اسلامي ژوند ټولې ځانګې به په‌کې جوړېدلې. مثلاً د عبادت ځای، مدرسه، دارالقضاء، د غونډو ځای، روغتون، کتابخانه، مسافرخانه، تبلیغي مرکز، د جرګې خونه او داسې نور. په اسلامي مرکز کې موږ غواړو، چې جومات ببرته له خپل اصلي حیثیت سره را ژوندی کړو.

مولانا وحید الدین خان د الجمیعة اوونیزې په ۲۷ نومبر ۱۹۷۰ ګڼه کې یوه مقاله خپره کړې وه، چې د مسلمانانو د تېرې یوې نیمې پېړۍ هلو ځلو ته له کتنې وروسته ویل شوي و، چې په دې موده کې بې شمېره لوی لوی تحریکونه را پورته شوو، خو بیا هم اسلام ورسره را ژوندی نه شو.

په دې هکله له تحلیلي ارزونې وروسته ویل شوي و، چې د دې ناکامی لویه وجه دا وه، چې زموږ د مصلحینو د کوششونو مخ د جوړونې او تعمیر په ځای د سیاست لوري ته و. او د مقالې په پای کې یې دا وړاندیز ورکړی و:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«په اوسنيو حالاتو کې د اسلامي احياء کار له کوم ځايه پيل شي؟ د دې بهترينه طريقه دا ده، چې په لوړ معيار د يوه اسلامي مرکز بنياد کېښودل شي. دا اسلامي مرکز له هر ډول عصري وسايلو داسې پور مامور وي، چې د ټولو مسلمانانو لپاره د پاؤر هاؤس کار وکړي. دا مرکز اسلامي هم وي، او نړيوال هم او عصري هم. (يوازې يوه استثناء بايد ولري: په هېڅ ډول هم بايد سياسي نه وي).

د دې وړانديز له تېرو شپږو کلونو نه بې ساری هرکلی شوی دی. دا مقاله عربي ژبې ته هم وژباړل شوه او په دوه دېرش مخونو کې د رسالې په شکل کې له قاهرې او بيروت نه خپره شوه او څو چاپه يې راووتل. په علمي او ديني جريدو کې په دې هکله خورا حوصله بښونکې تبصرې خپرې شوې.

اوس د بېلا بېلو خلکو له ډېر ټينګار وروسته دغه اسلامي مرکز د ځمکې په مخ وجود موندلی دی او الرساله د همدې مرکز د وياند په توګه خپرېږي. خو تر ټولو لويه مسئله د دې مرکز لپاره د ځای برابرول دي. في الحال د مؤقت وخت لپاره د دې مرکز دفتر په يوه کور کې ترتيب شوی. خو د دې دفتر د پراختيا او ارزښت له پلوه مهمه ده، چې دغه مرکز خپله ښېله ودانۍ ولري، تر څو ټولې ځانګې عملا په کې فعالې شي.

بهتره دا ده، چې دا مرکز د يوه جومات په چاپېريال کې رامنځته شي. يو زوړ جومات وي، چې شاوخوا ته يې خونې ودرول شي، او که تش ځای پاتې وي، نو د جومات په خوا کې نور اړين تعميرات هم ورسره وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسؤل مدير په نوم

## داعي نه ګرځندوی دی نه جادوګر، داعي د خپلې مدعو ډلې په منځ کې داسې چلند کوي، لکه باغوان په خپل باغ کې

محترم مسؤل مدير صاحب سلام،

د الرساله لومړنۍ ګڼه مې مخې ته راغله. د رسالې په ګڼو مقالو کې په جزوي يا کلي ډول د ګوتې اېښودو ځای شته دی. خو دمګړۍ په خاصه توګه د «سوال او ځواب» د برخې اړوند ځينې خبرې ستاسې مخې ته ږدم. هيله ده چې په را روانه ګڼه کې به يې وضاحت وړاندې کړئ.

تاسو فرمايلي، چې «مسلمانان خپل بېل کلچر نه لري.» او «د داعي ماموريت د دې تقاضا کوي، چې له مدعو سره کلتوري يورنګي ولري نه کلتوري بېلتون.»

که پورتنی اصل ومنو، نو ستاسې په اند د هغه حديث حيثيت بيا څه دی، چې له يهودو سره له تشبيه نه منع په کې راغلې. او آيا د داعي او مدعو ترمنځ د کلتوري يو رنګي تقاضا به دا هم وي، چې که د «لوڅو کلبونو» يوه غړي يا داسې کس ته دعوت ورکوو، چې د ښځو غونډې په سر چوټۍ ولري، نو آيا داعي به له دغه ډول خلکو سره هم کلتوري يو رنګي پيدا کوي؟ بله دا چې که مختلفو ډلو ته يو په بل پسې دعوت ورکوو، نو آيا هر ځل به داعي په خپل خوی او لباس کې بدلون راولي؟

يوه بله خبره هم وضاحت غواړي. هغه دا چې د سوره انعام د نهم آيت په ژباړه کې چې تاسې «د لباس ور اغوستو» مفهوم شامل کړی دی. آيا ټولو خلف او سلف مفسرينو هم دا آيت همداسې ترجمه کړی دی او که دا ستاسې خپل ځاني تحقيق دی؟

په دې هيله يم، چې د لوستونکو د خير او ښېګڼې له مخې به راتلونکې ګڼه کې په دې اړوند تفصيلي ځواب راکړئ.

صبيح الدين احمد،

بټلا هاؤس، جامعه نګر، نوې ډيلي

الرساله: د «کلتوري يو رنګي» خبره موږ د لفظ په اجمالي مفهوم کې کړې ده، نه په خپل انتهايي مفهوم کې. او دا د ژبې او ادب يو عام اسلوب دی. د پيغمبرانو په هکله په قرآن کريم کې ويل شوي: هغوی به خواړه خوړل او بازارو کې به ګرځېدل (فرقان – ۲۰) ښکاره ده چې د دې معنا دا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، چې د هغوی ټول کار همدا و، چې خواړه وخوري او بازارونه پوټی کړي. او همداسې يې دا معنا هم نه ده، چې د اکل طعام او مشی فی الاسواق په ټولو رواجي طريقو کې له هر اړخه پيغمبران د نورو خلکو په څېر وو. خبره که هر څو په عمومي الفاظو کې وشي، هغه بيا هم په خاص مفهوم کې وي، او د خبرې متن يا موقع يې حدود راته ټاکي.

هغه شيان چې په شريعت کې حرام دي، مثلاً بربنډوالی، هغه زموږ د منلې عقيدې له مخې پخپله د يو رنګي له عمومي مفهوم څخه وځي. دغه راز هغه شيان چې د يوې ډلې مذهبي شعاير وي، مثلاً د صليب نښه، په دې شيانو کې د يو رنګي هېڅ پوښتنه نه پيدا کېږي. هر مذهب خپل ځانګړي مذهبي شعاير لري او هېڅ مذهب هم په دې شعايرو کې د جوړجاړي اجازه نه ورکوي (له تشبه باليهود نه ممانعت په همدې دوهم مفهوم کې ياد شوی دی) خو دا ضروري نه ده، چې که د نامسلمانانو ځيلی له مخې ګردې وي، نو موږ نوک داره ځپليو ته د اسلامي ځپليو په سترګه وګورو. يا د نامسلمانانو په کور کې د پولادي لوښو رواج وي، نو موږ مسي لوښو ته د اسلامي ادابو نوم ورکړو. په الرساله (اکتوبر ۱۹۷۶) کې چې کومه خبره شوې ده، هغه بس د همدغه مفهوم له مخې شوې او د هندوستان په جنوبي سيمه کې د مسلمانانو ژوند د دې مفهوم يو عملي مثال دی.

دوه، د سوره انعام د نهم آيت په اړه خبره دا ده، چې له حضرت عبدالله بن عباس او د هغه له شاګردانو نه په دې برخه کې درې تفسيرونه را نقل شوي دي. يو دا دی چې دلته لبس د التباس په معنا دی. ياني که الله تعالی پرښتې د رسول په حيث استولی، نو هغوی به يې هم د انسان په شکل و صورت کې لېږلي او مخاطبين به بيا هم له هماغه کشمکش سره مخ کېدل چې اوس ورسره مخ دي. بل مفهوم يې د تحريف په معنا راغلی دی او اهل کتاب يې مصداق ګرځول شوي دي (تفسير طبری)

دريمه رايه هغه ده، چې موږ په الرساله کې رانقل کړې ده. د تفسير کوم کتاب چې عبدالله بن عباس ته منسوب دی، په هغه کې همدې نظر ته لومړيتوب ورکول شوی دی. موږ به يې دلته متن درته رانقل کړو:

(ولو جعلناه) يعنى الرسول (ملكا لجعلناه رجلا) فى صورة رجل آدمى حتى يقدروا ان ينظروا اليه (وللبسنا عليهم) على الملائكة (ما يلبسون) مثل ما يلبسون من الثياب، (تفسير عبدالله بن عباس، مطبع محمدى، ۱۲۸۰هـ)

ژباړه: که موږ پيغمبر پرښته ګرځولی وای، نو بيا به مو هم د انسان په صورت کې لېږه، تر څو هغوی په خپلو سترګو ليدلی او هغو پرښتو ته به مو هماغه کالي ور اغوستل، چې دا خلک يې اغوندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسنۍ زمانې په مفسرينو کې مولانا حميد الدين فراهي د دې آيت همدا مفهوم بيان کړی. دی ليکي:

قد جعل الله الانبياء هداة خلقه فالبسهم لباس البشرية --- النبی يبعث فی قوم ليصلحهم ويدعوهم الی الصراة المستقيم، فلا بد ان يکون مثلهم فی الزی و الشمائل، والا کان خلاف البعثة کما قال: ولو جعلناه ملکا لجعلناه رجلا وللبسنا عليهم ما يلبسون. (القائد الی عيون القعائد، ۳۱-۱۳۰)

الله تعالی پيغمبران د خپل مخلوق هادي ګرځولي دي. نو ځکه يې بشري جامې ور په تن کړې دي. پيغمبر يوه قوم ته د دې لپاره ورځي، چې اصلاح يې وکړي او نېغې لارې ته يې را دعوت کړي. د دې لپاره ضرور ده، چې پيغمبر په خوراک، پوښاک او کړو وړو کې د هغوی په څېر وي. که نه وي د بعثت د مقصد خلاف کار به وي. هغسې چې په قرآن کريم کې ويل شوي...

درې، که مختلفو کلتوري ډلو ته يو په يو دعوت ورکوو، نو آيا داعي به هر ځل خپل خوی او بوی بدلوي؟ دا نيوکه ښيي، چې د اسلامي دعوت ماموريت په سمه توګه نه دی درک شوی. دعوت کومه جاودګري يا چشم بندي نه ده، چې نن دلته وښودل شي او سبا هلته. بلکې يو ډېر سنجيده او ډېر اوږد بهير دی. داعي ګرځندوی نه وي، بلکې د باغوان په څېر وي. داعي د ځان لپاره يوه ډله ټاکي او بيا د همېش لپاره په هماغې ډلې پورې وابسته کېږي.

داعي د خپلې ډلې له ښې مطالعې وروسته له هغې سره ځان بلدوي، د واقعبينۍ د ټولو معيارونو له مخې د هغوی په منځ کې د خپل کار نقشه جوړوي. او د هغوی په مخکې د هغوی د خيرخواه په حيث را پورته کېږي. حق لارې ته د هغوی د راوستلو لپاره خپل ټول ژوند په همدې لاره کې لګوي. ښکاره ده چې دغه ډول کار هماغه وخت کېدلی شي، چې بنده په يوې خاصې ډلې پورې تړلی وي، نه داسې چې هره ورځ د نويو نويو ډلو په مخکې خپلې جلوې او کرشمې وښيي. دعوت د ځان حواله کولو او ځان سپارنې چاره ده، نه د مشاعرو لپاره د بلنليکونو د منلو مسئله. حقيقت دا دی، چا چې د خپل دعوت لپاره يو مستقل مدعو نه وي ټاکلی، هغه اصلاً داعي نه دی. دعوت خو د ټول ژوند فيصله ده. دغه کار له داسې رنګارنګۍ سره کله سرته رسېدلی شي، چې بنده دې هره ورځ يوه نوي دريځ ته ځان ورسوي او د خپلې وينا کرشمې او جلوې دې په کې ښکاره کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نازکه مسئله

## بیا یې هم بستره د ازغیو بستره نه شوه

نومیالی پلې بیک سندرغاړی موکیش چندرماتر (۱۹۷٦- ۱۹۲۳) د امریکا په سفر تللی و، چې ناڅاپي د مرگ د کور مېلمه شو. په ورځپاڼو کې یې چې کوم حالات خپاره شوي دي، په هغو کې یوه خبره دا هم وه، چې موکیش په اردو ژبه ډېره ښه پوهېده. په اولو کې له هندي ژبې سره نابلده و. خو وروسته یې د خپلې مسلکي اړتیا له مخې له سختو خواریو وروسته هندي ژبه زده کړه. ده چې په خپل ژوند کې کومې لس زره سندرې ثبت کړې دي، په هغو کې یوه د تولسي داس راماین هم ده، چې په ډېرشو کلونو کې یې پای ته ورسوله.

په ۱۹۴۷ء کې چې هند ازاد شو، نو د وطن په ورونو [مولانا هندوان په برادرانِ وطن یادوي؛ ژ] کې بې شمېره خلک داسې هم وو، چې په خپلو ښوونځیو کې یې اردو ژبه ویلې وه. دې سیمو ته چې د پنجابیانو د سېلاب ور را پرې شو، نو د دغه ډول خلکو شمېر بېخي لوړ شو. د ازادۍ له انقلاب وروسته شاوخوا پنځه ویشت کاله د دې هېواد عامه ژبه یوازې اردو وه. نو موږ په ډېرې اسانۍ سره د اردو ژبې له لارې د خدای پیغام تر ټولو هغو خلکو پورې رسولی شوی، چې موږ ته یې د ور رسونې مسؤلیت را له غاړې شوی دی.

اوس مهال دغه خلک له دې فاني دنیا نه په کوچېدو دي او خپل ځای نوي نسل ته پرېږدي. له دې امله د داعي او مدعو ترمنځ ژبنی واټن په ډېرېدو دی او هغه کار چې پخوا موږ په خپله مورنۍ ژبه کې کولی شوی، اوس به  د دې کار لپاره نورې ژبې زده کوو او په دې ژبو کې به مهارت ترلاسه کوو. یو کار چې پخوا اسانه و، ورځ تر بلې پسې سختېږي. ځومره عجیبه خبره ده، چې بیا هم خلک د شپې په ډاډه زړه خوبونه کوي، او د خوب ځایونه یې د ازغیو په بستر نه دي بدل شوي. ممکن هېر شوي به یې وي، چې یوه ورځ به مري او له مرگ نه وروسته به د خدای حضور کې دربرېږي. او چې بیا خدای پوښتنه وکړي، چې تاسې زما پیغام ولې زما تر بندگانو ونه رساوه، نو موږ به څه ځواب ورکوو؟ او که موږ د «خدای د شاهدي د پټولو» مجرم وگڼل شوو، چې پخوا یې یهودان مجرم گرځول شوي وو، نو زموږ لپاره به له دې جرم نه د خلاصېدو حیله او لاره څه وي؟

پای

تبوک، سعودي عربستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**